كَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَ يُعَلِّمُكَ مِنْ

(۱) دارنګي غوره به کي تا لره رب ستا او ښودنه به اوکي تا ته د

تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ

تعبیر د خوبونو او پوره به کي نعمتونه خپل په تا باندي

وَ عَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ

او په تابعدارو د یعقوب (علیه السلام) لکه چي پوره کړي ني وو دي لره په مشرانو ستا باندي

مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

مخکښي د دینه چي ابراهیم او اسحاق (علیهما السلام) وو ، یقینًا رب ستا

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۶﴾ لَقَدْ كَانَ فِىْ يُوْسُفَ

پوهه حکمت والا دے * تحقیق سره شتے په باره د یوسف (علیه السلام)

وَ اِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ﴿۷﴾ اِذْ قَالُوْا

او د رونړو د هغه کښي نښي (جوابونه) د پاره د تپوس کوونکو * کله چي اوئیل دوی

(۱) ځکه چې ستا خاندان الله غوره کړے دے



لَيُوْسُفُ وَ اَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَ نَحْنُ

خامخا يوسف او رور د هغه ډير خوښ دي پلار زمونږ ته زمونږ نه او مونږه يو

عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنِ ۚ ٨ اِقْتُلُوْا

ډله ، يقيناً پلار زمونږه خامخا په محبت ېخواني کښي دے * اوژنئ

يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ

يوسف يا اوغورځوئ ده لره يو زمکي ته خالي به شي تاسو ته مخ

اَبِيْكُمْ وَ تَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ٩

د پلار ستاسو او شئ به تاسو پس د دي نه قوم نيکان *

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَ اَلْقُوْهُ

اوئيل يو ويونکي د دوی نه مه وژنئ يوسف (عليه السلام) او اوغورځوئ ده لره

فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ

په پټ ژور کوهي کښي راوابه خلي ده لره بعضي قافلے والا

اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ١٠ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَا لَكَ

که يئ تاسو دا کار کونکي * اوئيل دوی: اے پلاره زمونږ څه دي تا لره

لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ وَ اِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ١١

چي ته امانت دار نه گرځے مونږه په يوسف باندي او يقيناً مونږه ده لره خامخا خير خواهان يو *

اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ وَ يَلْعَبْ وَ اِنَّا لَهٗ

پريږده ده لره مونږ سره صبا چي څکه اوکي او لوبي اوکي او يقيناً مونږ ده لره

لَحٰفِظُوْنَ ١٢ قَالَ اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا

ساتونکي يو * اوئيل (يعقوب عليه السلام) يقيناً زه چي يم غمژن کوي ما لره دا چي بوځئ تاسو

بِهٖ وَ اَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَ اَنْتُمْ

ده لره او زه يريږم چي اوبه خوري ده لره شرمخ او تاسو به

عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ

ده نه نا خبره یئ • اوئیل دوی که اوخوړه ده لره شرمخ

وَ نَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَلَمَّا

او مونږه یو ډله یقیناً یو به مونږه په دغه وخت کښې خامخا تاوانیان• پس هر کله

ذَهَبُوْا بِهٖ وَ اَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ

چې بوتلو دوی دے (یوسف علیه السلام) او اتفاق اوکه دوی چې اوغورځی ده لره په پټ

الْجُبِّ ۚ وَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ

جور کوهی کښې، او زړه کښې واچوله مونږ ده ته (دا خبره) چې خامخا خبر به ورکوې ته دوی ته په کار د دوی

هٰذَا وَ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَ جَآءُوْٓ اَبَاهُمْ

چې دا دے او دوی به نه پوهیږي • او راغلل دوی پلار خپل ته

عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا ذَهَبْنَا

په وخت د ماسخوتن چې ژړل ئي • اوئیل دوی اے پلاره زمونږ یقیناً مونږ لاړو

نَسْتَبِقُ وَ تَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا

یو بل نه مخکښې کیدو او پریخود مونږه یوسف د سامان خپل سره

فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ وَ مَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَ لَوْ

نو اوخوړه ده لره شرمخ ، او نه ئې ته زمونږ تصدیق کونکے اګر چې

كُنَّا صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَ جَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ

یو مونږه رشتینې • او راتلل اوکړل دوی په قمیص د یوسف (علیه السلام) په وینو

كَذِبٍ ؕ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ

دروغژنو ، اوئیل (یعقوب علیه السلام) بلکه ښائسته کړو تاسو ته نفسونو ستاسو

اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ وَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى

دا کار، پس (کار زما دے) صبر ښائسته، او الله ته مدد غوختلے کیږي په هغه

مَا تَصِفُوْنَ ﴿١٨﴾ وَ جَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا

چې تاسو يې بيانوئ * او راغله قافله نو اوليږه هغوي

وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ؕ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا

اوبه راوړونکے خپل نو ښکته يې کړه بوقه خپله ، اوئيل (دغه سړي) اے زيرېه حاضر شه دا

غُلٰمٌ ؕ وَ اَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا

هلک دے ، او پټ يې که ده لره سامان د تجارت ، او الله پوهه وو په هغه باندي چې

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَ شَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَاهِمَ

دوی کول * او خرخ که دوی ده لره په پيسو کوټه باندي چې هغه روپۍ

مَعْدُوْدَةٍ ۚ وَ كَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ ﴿٢٠﴾

د شمير وي ، او وو دوی په اغستو د ده کښې د بے رغبتي کونکو نه *

وَ قَالَ الَّذِى اشْتَرٰىهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖۤ

او اوئيل هغه کس چې اغستے يې وو دے (يوسف عليه السلام) په ښار کښې خپلې ښځې ته

اَكْرِمِىْ مَثْوٰىهُ عَسٰۤى اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ اَوْ نَتَّخِذَهٗ

ښائسته که ته ځائے د ده زر دے چې فائده به راکي موږ ته يا به اونيسو ده لره

وَلَدًا ؕ وَ كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِى الْاَرْضِ

قائم مقام ، او دارنګي ځائے ورکړے وو موږ يوسف (عليه السلام) ته په زمکه کښې

وَ لِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ؕ وَ اللّٰهُ

او دي د پاره چې اوښايو موږ ده ته تعبير د خوبونو ، او الله

غَالِبٌ عَلٰۤى اَمْرِهٖ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

زورآور دے په نافذ کولو د خپلے فيصلے ليکن اکثر خلق نه

يَعْلَمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَ لَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗۤ اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا

پوهيږي * او هر کله چې اورسيده مضبوطيا د عمر ته نو ورکړه موږ ده ته پيغمبري

وَّ عِلْمًا ؕ وَ كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٢﴾

او پوهه ، او دارنګي بدله ورکوو مونږ نيکانو ته *

وَ رَاوَدَتْهُ الَّتِىْ هُوَ فِىْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ

او مطالبه اوکړه ده نه هغه ښځي چي دے وو په کور د هغي کښې په باره د نفس د ده کښې

وَ غَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَ قَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ

او بند ئي کړي دروازے او اوئيل دي (زليخے) راشه ما خوا ته تا ته وايم ،

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّىْٓ اَحْسَنَ مَثْوَاىَ ؕ

اوئيل (يوسف عليه السلام) پناه غواړم په الله سره يقيناً شان دا دے رب زما ښائسته کړے دے ځائے زما .

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَ لَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ

يقيناً شان دا دے نه کاميابيږي ظالمان * او تحقيق سره قصد کړے وو زليخے په ده (يوسف عليه السلام)

وَ هَمَّ بِهَا لَوْ لَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ

او قصد به کړے وو (يوسف عليه السلام) په دې که نه ئي وے ليدلے دلائل د رب خپل ، دارنګي (کلک که مونږ

لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَ الْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ

ده لره) دي د پاره چي واړوو مونږ د ده نه بده خبره او بے حيائي (بد کار) ، يقيناً دا يوسف عليه السلام

مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَ اسْتَبَقَا الْبَابَ

زمونږ د بندګانو خالص شوو نه وو * او دواړو منډي کړي دروازي ته

وَ قَدَّتْ قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّ اَلْفَيَا سَيِّدَهَا

او اوشلوه دي قميص د ده (يوسف عليه السلام) د شا نه او اوموندو دوی مالک د دې (ښځي)

لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ

دروازي سره ، اوئيل (زليخے) نده سزا د هغه چا چي اراده ئي اوکړه

بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ

په اهل ستا بانډي د بدئي مګر دا چي جيل کښې واچولے شي يا (ورکړے شي ورله) سزا

اَلِیۡمٌ ﴿۲۵﴾ قَالَ هِیَ رَاوَدَتۡنِیۡ عَنۡ نَّفۡسِیۡ وَ شَهِدَ

دردناک؟* اوئیل (یوسف علیه السلام) دې مطالبه کړې وه زما نه په باره د نفس زما کښې او بیان اوکه

شَاهِدٌ مِّنۡ اَهۡلِهَا ۚ اِنۡ کَانَ قَمِیۡصُهٗ قُدَّ

یو بیان کوونکي د اهل د ښځي نه، که وي قمیص د یوسف علیه السلام شلیدلے

مِنۡ قُبُلٍ فَصَدَقَتۡ وَ هُوَ مِنَ الۡکٰذِبِیۡنَ ﴿۲۶﴾

د مخکښې طرف نه نو دې رشتیا وئیلي دي او دے د دروغجنو نه دے*

وَ اِنۡ کَانَ قَمِیۡصُهٗ قُدَّ مِنۡ دُبُرٍ فَکَذَبَتۡ وَ

او که وي قمیص د ده شلیدلے د شا نه نو دې دروغ وئیلي دي او

هُوَ مِنَ الصّٰدِقِیۡنَ ﴿۲۷﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِیۡصَهٗ قُدَّ

دے د رشتینو نه دے* نو هر کله چې وېلیده قمیص د ده چې شلیدلے وو

مِنۡ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنۡ کَیۡدِکُنَّ ؕ اِنَّ کَیۡدَکُنَّ

د شا نه اوئیل (عزیز مصر) یقینًا دا د تدبیر ستاسو نه دے، یقینًا تدبیر ستاسو

عَظِیۡمٌ ﴿۲۸﴾ یُوۡسُفُ اَعۡرِضۡ عَنۡ هٰذَا سکته

ډیر لوئے دے* (وے وئیل) اے یوسف (دغسے) مخ اړوه د دې کار نه،

وَ اسۡتَغۡفِرِیۡ لِذَنۡۢبِکِ ۚۖ اِنَّکِ کُنۡتِ مِنَ

(او وے وئیل زلیخې ته) بخښنه غواړه د گناه ستا، یقینًا ئې ته د

الۡخٰطِئِیۡنَ ﴿۲۹﴾ ع وَ قَالَ نِسۡوَۃٌ فِی الۡمَدِیۡنَۃِ

خطا کارو نه* او اوئیل ښځو په ښار کښې

امۡرَاَتُ الۡعَزِیۡزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ ۚ قَدۡ

ښځې د عزیز مصر مطالبه کړیده د خپل غلام نه په باره د نفس د هغه کښې، تحقیق سره

شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۳۰﴾

رسیدلې ده زړه د دې ته مینه (د یوسف علیه السلام)، یقینًا وینو مونږ دې لره په ناپوهۍ ښکاره کښې*

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ

نو هر كله چي واوريده (زليخې) چل د دې ښځو نو وليږه دې (زليخې) دوى ته (استاذې)

وَ اَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّ اٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ

او تيار ني كه دوى لره خوراک او ورني كړه هر يوې ته

مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا وَّ قَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا

د دوى نه چاړه او اوئيل (زليخې) راوخه په دوى باندي، نو هر كله چي

رَاَيْنَهٗ اَكْبَرْنَهٗ وَ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَ قُلْنَ

وليده دوى لره دي ښځو نو لوئي ني اوګڼړه ده لره او كټ ني كړي ګوتې خپلي او اوئيل دوى

حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا

پاكي ده الله لره ندې دا بنده، ندې دا مګر

مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِىْ لُمْتُنَّنِىْ فِيْهِ ؕ

فرشته عزتمنده * اوئيل (زليخې) دا هغه سړے دے چي تاسو ملامته كوما لره په (محبت د) ده كښې،

وَ لَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَ

او تحقيق سره ما مطالبه كړې وه د ده نه په باره د نفس د ده كښې نو ده خان بچ كه، او

لَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَ لَيَكُوْنًا

كه او نه كړے هغه كار چي زه حكم كوم ده ته د هغې نو خامخا جيل كښې به واچولے شي او شي به

مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ

د دے د ذليلو نه * اوئيل (يوسف عليه السلام) اے زما ربه جيل دير خوښ دے

اِلَىَّ مِمَّا يَدْعُوْنَنِىْۤ اِلَيْهِ ۚ وَ اِلَّا تَصْرِفْ عَنِّىْ

ما ته د هغه نه چي دوى راغواړي ما هغې ته، او كه ته وانړوے زما نه

كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَ اَكُنْ مِّنَ

چل د دوى نو ميلان به اوكم دوى ته او شم به زه د

الْجٰهِلِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ
ناپوهو نه ٭ نو قبول لالے او كه ده لره رب د ده نو وارو (الله)

عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ
د ده نه چل د دوی ، يقينًا دا الله دے اوريدونكے پوهه ٭ بيا

بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ
ښكاره شو دوی ته پس د هغه نه چې اوليدل دې هغه نښې (د نه صبر د زليخې) خامخا جيل كښې به واچي دلره

حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٣٥﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ؕ
تر يو وخته پورې ٭ او دننه شو ده سره جيل ته دوه تنه خوانان ،

قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْۤ اَرٰىنِيْۤ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ
اوئيل يو د دوی نه يقينًا زه وينم (خوب كښې) نچوړوم انګور ، او اوئيل

الْاٰخَرُ اِنِّيْۤ اَرٰىنِيْۤ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا
بل يقينًا زه وينم چې پورته كوم د پاسه د سر زما ډودی

تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ؕ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ
خورې مارغان د دينه ، خبر راكه مونږ ته په تعبير د دې خوب يقينًا وينو مونږ تا لره

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ
د نيكانو نه ٭ اوئيل (يوسف عليه السلام) نه به وي راغلے تاسو ته خوراك

تُرْزَقٰنِهٖۤ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِيْلِهٖ قَبْلَ اَنْ
چې دركولے شي تاسو ته مګر ما به خبر دركړے وي تاسو ته په تعبير د دې مخكښې د دې نه چې

يَّاْتِيَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ ؕ اِنِّيْ تَرَكْتُ
راشي تاسو دواړو ته ، دا خبرې د هغه څه نه دے چې ښودنه كړې ده ما ته رب زما ، يقينًا ما پرېخودے دے

مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ
دين د هغه قوم چې ايمان نه راوړي په الله باندې او دوی په آخرت باندې

هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِیْٓ اِبْرٰهِیْمَ

هم دوی دي منكر * او تابعداري كوم زه د دين د مشرانو خپلو چي ابراهيم (عليه السلام) دے

وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ

او اسحاق (عليه السلام) او يعقوب (عليه السلام)، ندي مناسب مونږ لره چي حصه دار اوګرځو

بِاللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ

الله سره خه شي ، دا د فضل د الله نه دے

عَلَیْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

په مونږ باندي او په خلقو باندي ليكن اكثر خلق

یَشْكُرُوْنَ ﴿٣٨﴾ یٰصَاحِبَیِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ

شكر نه اوباسي * اے دوو ملګرو د جيل آيا ګنړ مددګاران

مُّتَفَرِّقُوْنَ خَیْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾

چنګ ونګ غوره دي يا الله يكي بو زورآور *

مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اَسْمَآءً سَمَّیْتُمُوْهَاۤ

تاسو عبادت نه كوئ بغير د الله نه مګر د تشو نومونو چي كيخودي دي تاسو دي لره

اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ

تاسو او مشرانو ستاسو ندے راليږلے الله پدي باندي خه دليل ،

اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ ؕ

ندے اختيار د فيصلي مګر الله لره دے حكم كړے دے (الله پاک) چي عبادت به نه كوئ مګر خاص د الله

ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

دا دے دين مضبوط ليكن اكثر خلق نه

یَعْلَمُوْنَ ﴿٤٠﴾ یٰصَاحِبَیِ السِّجْنِ اَمَّاۤ اَحَدُكُمَا

پوهيږي * اے دوو ملګرو د جيل هر چي يو ستاسو نه دے

فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَ اَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ

نو څکې به دے مالک خپل ته شراب ، او هر چې دا بل کس دے نو په سولۍ به کړے شي

فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ

نو خوراک به کړي مارغان د سر د ده نه ، فیصله کړے شوے دے کار هغه چې

فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ؕ﴿۴۱﴾ وَ قَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ اَنَّهٗ

په باره د هغې کښې تاسو تپوس کولو ، او اوئیل (یوسف علیه السلام) هغه کس ته چې خیال ئې وو چې یقیناً دے

نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ ۫ فَاَنْسٰىهُ

خلاصیدونکے دے د دې دواړو نه یاد که ما لره د مالک ستا سره ، نو هیر کړل ده ته

الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ

شیطان یادول مالک ته نو وخت ئې تیر که په جیل کښې یو څو

ع ٥ ١٥

سِنِيْنَ ؕ﴿۴۲﴾ وَ قَالَ الْمَلِكُ اِنِّيْۤ اَرٰى سَبْعَ

کاله ، او اوئیل بادشاه یقیناً زه وینم ووه /۷

بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعَ

غواګانے سربے چې خوري دي لره ووه (غواګانے) تپے او ووه

سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّ اُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ

وږي شنه او نور اوچ ، اے وزیرانو

اَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا

فتوی راکړئ ما ته په باره د خوب زما کښې که تاسو د خوبونو

تَعْبُرُوْنَ ﴿۴۳﴾ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَ مَا

تعبیر اوباسئ ، اوئیل دوی دا ګډوډ خوبونه دي ، او نه

نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَ قَالَ

یو مونږ په تعبیرونو د داسې خوبونه باندې پوهه ، او اوئیل

الَّذِیْ نَجَا مِنْهُمَا وَ ادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا

هغه کس چي خلاص شوے وو د دې دواړو نه او راياد شو ورته پس د څه زمانې نه زه

اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِیْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ﴿۴۵﴾ یُوْسُفُ اَیُّهَا

به خبر درکړم تاسو ته په تعبير د دې سره نو ما اوليږئ (جيل ته)* يوسفه اے

الصِّدِّیْقُ اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ

رشتينيه جواب راکه موږ ته په باره د ووه غواګانو سربو کښې

یَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ

چې خوري هغې لره اووه (غواګانې) تبې او اووه وږي شنه

وَّ اُخَرَ یٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّیْۤ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ

او نور اوچ خامخا چې زه واپس شم خلقـــو ته

لَعَلَّهُمْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ

خامخا چې دوی پوهه شي (په درجه ستا باندې) نو اوئيل (يوسف عليه السلام) کرونده به کوئ تاسو ووه / ۷

سِنِیْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِیْ

کاله پرله پسے ، نو هغه چې لو کړئ تاسو نو پريږدئ هغې لره په

سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ یَاْتِیْ

وږو خپلو کښې مګر لږ د هغه نه چې تاسو ئې خورئ* بيا به راشي

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ یَّاْكُلْنَ مَا

پــس د دې نه ووه کلونه سخت اوبه خوري دوی (دغه کلونه والا) هغه چې

قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾

مخکښې کړي وي تاسو دوی لره مګر لږ د هغه نه چې تاسو ئې خزانه کوئ

ثُمَّ یَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِیْهِ یُغَاثُ

بيا به راشي پس د دې نه يو کال په دې کښې به فرياد اومنلے شي

النَّاسُ وَ فِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾ وَ قَالَ الْمَلِكُ

د خلقو او په دي کښې به نچوړئ (خلق انګور)* او اوئیل بادشاه

ائْتُونِي بِهِ ۚ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ

راولئ ما ته ده لره نو هر کله چې راغے یوسف علیه السلام ته استازے اوئیل (یوسف علیه السلام) واپس شه

إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي

خپل مالک ته نو تپوس اوکه د ده نه په باره د هغه زنانو کښې چې

قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ

کټ کړي ئې وو خپل لاسونه ، یقیناً رب زما په چل د دوی

عَلِيمٌ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ

پوهه دے* اوئیل (بادشاه) څه وو حال ستاسو کله چې مطالبه کړي وه تاسو

يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا

د یوسف علیه السلام نه په باره د نفس د هغه کښې، اوئیل دوی، پاکي ده الله لره نه

عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ ۚ قَالَتِ امْرَأَتُ

يو پوهه مونږ په ده باندي د بدئ ، اوئیل ښځي د

الْعَزِيزِ الْآنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ أَنَا رَاوَدْتُهُ

عزیز اوس ښکاره شو حق ما مطالبه کړي وه ده نه

عَنْ نَفْسِهِ وَ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٥١﴾

په باره د نفس د ده کښې او یقیناً وو دے خامخا د رشتینو نه *

ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَ أَنَّ

دا بیان د دې د پاره دے چې پوهه شي (زما خاوند) چې ما خیانت ندے کړے د ده سره په وخت د نیشت والي (د ده) کښې او یقیناً

اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ ﴿٥٢﴾

الله نه درستي چل د خیانتګرو *

وَ مَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِیۡ ۚ اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ

او زه پاک نه کوم خپل ځان ، یقیناً نفس خامخا حکم کوونکے دے

بِالسُّوۡٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیۡ ؕ اِنَّ رَبِّیۡ غَفُوۡرٌ

د بدئ، مګر هغه څوک چې رحم اوکړي رب زما (په هغه) یقیناً رب زما بښونکے

رَّحِیۡمٌ ﴿۵۳﴾ وَ قَالَ الۡمَلِکُ ائۡتُوۡنِیۡ بِهٖۤ

مهربان دے * او اوئیل بادشاه راولئ ما ته دۀ لره

اَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِیۡ ۚ فَلَمَّا کَلَّمَهٗ قَالَ اِنَّکَ

چې خاص کړم دۀ لره د پاره د خپل ځان ، نو هر کله چې خبرې ئې اوکړې دۀ سره اوئیل (بادشاه) یقیناً ته

الۡیَوۡمَ لَدَیۡنَا مَکِیۡنٌ اَمِیۡنٌ ﴿۵۴﴾ قَالَ اجۡعَلۡنِیۡ

نن ورځې موږ سره مرتبے والا ئې امانتدار * اوئیل (یوسف علیه السلام) مقرر که ما لره

عَلٰی خَزَآئِنِ الۡاَرۡضِ ۚ اِنِّیۡ حَفِیۡظٌ عَلِیۡمٌ ﴿۵۵﴾

په خزانو د زمکه (د مصر) باندې ، یقیناً زه ساتونکے پوهه یم *

وَ کَذٰلِکَ مَکَّنَّا لِیُوۡسُفَ فِی الۡاَرۡضِ ۚ

او دارنګې ځائے ورکړے وو موږ یوسف علیه السلام ته په زمکه کښې ،

یَتَبَوَّاُ مِنۡهَا حَیۡثُ یَشَآءُ ؕ نُصِیۡبُ بِرَحۡمَتِنَا

ځائې به ئې نیولو د دینه کم ځائے چې ئې خوښه وه ، رسوو موږ خپلې مهربانئ لره

مَنۡ نَّشَآءُ وَ لَا نُضِیۡعُ اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۵۶﴾

چا ته چې خوښه شي زموږ او نه ضائع کوو موږ اجر د نیکانو *

وَ لَاَجۡرُ الۡاٰخِرَةِ خَیۡرٌ لِّلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ کَانُوۡا

او خامخا اجر د آخرت غوره دے د پاره د هغه کسانو چې ایمان ئې راوړے دے او وې دوی

یَتَّقُوۡنَ ﴿۵۷﴾ وَ جَآءَ اِخۡوَةُ یُوۡسُفَ فَدَخَلُوۡا

یریدونکي (د الله نه) * او راغلل رونړه د یوسف علیه السلام نو داخل شو

عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَ هُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٨﴾ وَ لَمَّا

دپهاندي نو اوپیژندل دوی لره (یوسف علیه السلام) او دوی هغه لره نا اشنا ګڼونکي وو * او هر کله

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ

چې تیار ئې که دوی لره سامان د سفر نو اوئیل (یوسف علیه السلام) راولئ ما ته ورور ستاسو

مِّنْ اَبِيْكُمْ ۚ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْٓ اُوْفِي الْكَيْلَ وَ

چې د پلار ستاسو نه دے، آیا نه ګورئ تاسو یقینًا زه پوره ورکوم پیمانه او

اَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٥٩﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِيْ بِهٖ

زه غوره د میلمستیا ورکونکو نه یم * پس که رانه وستو تاسو ما ته دے

فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِيْ وَ لَا تَقْرَبُوْنِ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا

پس نه به وي پیمانه تاسو لره (آئنده) ماسره او نژدے مه راځئ ما ته * اوئیل دوی

سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ وَ اِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿٦١﴾ وَ قَالَ

زر دے چې مطالبه به اوکړو په باره د ده کښې د پلار د ده نه او یقینًا یو مونږ دا کار کونکي * او اوئیل

لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِيْ رِحَالِهِمْ

(یوسف علیه السلام) خپلو نوکرانو ته کیږدئ پنګه د دوی په بارونو د دوی کښې

لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَآ اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمْ

شاید چې دوی اوپیژني دي (احسان) لره کله چې واپس لاړ شي دوی خپلو کورونو ته

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٢﴾ فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْهِمْ

شاید چې دوی بیا واپس راشي * نو هر کله چې دوی واپس شو پلار خپل ته

قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَآ

وئیل دوی اے پلاره زمونږ منع کړے شوے ده زمونږ نه پیمانه (آئنده) نو اولیږه مونږ سره

اَخَانَا نَكْتَلْ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿٦٣﴾ قَالَ

ورور زمونږ چې پیمانه راوړو مونږ او یقینًا یو مونږ ده لره حفاظت کونکي * اوئیل (یعقوب علیه السلام)

هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى اَخِيْهِ

زه امانتدار نه ګڼم تاسو په ده باندې مګر لکه څنګه چې ما امانتدار ګڼلي وئ تاسو په ورور ده

مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّ هُوَ اَرْحَمُ

پخــوا ، نو الله غوره حفاظت کوونکی دے او دا الله دے غوره رحم کوونکے

الرّٰحِمِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَ لَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا

د رحم کوونکو نه * او هر کله چې پرانیسته دوی سامان خپل وئې موندله

بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ؕ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا

پنګه خپله چې واپس کړے شوي وه دوی ته ، اوئیل دوی اے پلاره زمونږ

مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَ نَمِيْرُ

څه لټوو مونږه نور؟ ، دا زمونږ پنګه ده واپس کړے شوي ده مونږ ته ، او غله به راوړو

اَهْلَنَا وَ نَحْفَظُ اَخَانَا وَ نَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ

خپل کور ته او حفاظت به کوو د ورور خپل او زیات به راوړو یو بار د اوښ ،

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ

او دا دے بار آسان * اوئیل (یعقوب علیه السلام) هیڅ کله نه لیږم ده لره تاسو سره

حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ

تر دې چې راتله اوکړئ تاسو ما ته په کلکه وعده د الله چې خامخا راولئ به تاسو ما ته

بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ

ده لره مګر دا چې ګیره اوکړے شي په تاسو باندې ، پس هر کله چې راتلل ئې اوکړل هغه ته په کلکه وعده خپله

قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ وَ قَالَ

اوئیل (یعقوب علیه السلام) الله په هغه چې وایو مونږ ذمه دار دے * او اوئیل (یعقوب علیه السلام)

يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّ ادْخُلُوْا

اے بچو مه ننه کیږئ په یو دروازه باندې او ننه شئ

مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَ مَآ اُغْنِیْ عَنْكُمْ مِّنَ

په دروازو جدا جدا باندې ، او لرې به نه کم زه ستاسو نه د عذاب د

اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَیْهِ

الله نه هيڅ شے ، نه دے اختيار (د فيصلے) مګر الله لره ، خاص په الله باندې

تَوَكَّلْتُ ۚ وَ عَلَیْهِ فَلْیَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾

زه خان سپارم ، او په دې الله باندې خان د اوسپارې خان سپارونکي •

وَ لَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَیْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا

او هر کله چې دننه شودوی د هغه ځائے نه چې حکم کړے وو دوی ته پلار د دوی ، نه

كَانَ یُغْنِیْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ اِلَّا

وو (يعقوب عليه السلام) چې لرے کړے ئې وو د دوی نه د عذاب د الله نه څه شے مګر

حَاجَةً فِیْ نَفْسِ یَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَ اِنَّهٗ

دا يو آرزو وه په زړه د يعقوب (عليه السلام) کښې چې پوره ئې کړه دې لره ، او يقيناً دے وو

لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

خاوند د پوهے د هغه وجې نه چې مونږ علم ورکړے وو ده لره ليکن زيات د خلقو نه

لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَ لَمَّا دَخَلُوْا عَلٰی یُوْسُفَ اٰوٰۤی

نه پوهيږي • او هر کله چې داخل شو دوی يوسف عليه السلام باندې ځائے ئې ورکړو

اِلَیْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّیْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىٕسْ

خان سره زور خپل نه اوئيل (يوسف عليه السلام) زه ستا رور يم نو مه خفه کيږه

بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ

په هغه څه چې دوی کول • پس هر کله چې تيار ئې کړو دوی لره سامان د دوی

جَعَلَ السِّقَایَةَ فِیْ رَحْلِ اَخِیْهِ ثُمَّ اَذَّنَ

کيخوده په لوښے د اوبو بار د رور خپل کښې بيا اعلان اوکړو

مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾ قَالُوْا

يو اعلان كوونكي اے قافلے والو يقيناً تاسو يئ خامخا غلا گر • اوئيل دوی

وَ اَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّا ذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ قَالُوْا

او رامخامخ شو په دوی باندي څه شے لټوئ تاسو • اوئيل دوی

نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَ لِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ

لټوو موږ اوګے د بادشاه او د پاره د هغه چا چي راتلل ئي اوکړل په دي باندي بار د

بَعِيْرٍ وَّ اَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ

اوښ دے او زه په دي باندي ذمه دار يم • اوئيل دوی قسم په الله تحقيق سره

عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِی الْاَرْضِ وَ مَا

تاسو پوهه يئ چي موږ نه يو راغلي دي د پاره چي فساد اوکو موږ په زمکه کښي او نه

كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ

يو موږ غلاګر • اوئيل دوی نو څه ده بدله د دي که

كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ

يئ تاسو دروغژن • اوئيل دوی: بدله د دي هغه څوک دے چي اوموندلے شو

فِیْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِی

په بار د هغه کښي (دا لوښے) نو دے بدله د هغي ده ، دارنګي سزا ورکوو موږ

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ

ظالمانو ته • نو شروع ئي اوکړه په بارونو د دوی مخکښي د بار

اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ

د رور خپل نه بيا ئي راوخکه دي لره د بار د رور خپل نه ،

كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ

دارنګي موږ تدبير کړے وو د پاره د يوسف عليه السلام ، نه وو دے چي نيولے ئي وو

اَخَاهُ فِىْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ
رووړ خپل په قانون د بادشاه کښې مګر دا چې خوښه شي د الله ،
نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَ فَوْقَ كُلِّ ذِىْ
اوچتوو مونږ درجې د هغه چا چې خوښه شي زمونږ، او د پاسه د هر يو خاوند د
عِلْمٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۶﴾ قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ
پوهې پوهه وي ٭ اوئيل دوی که غلا کړې وي نو تحقيق سره غلا کړې وه
اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِىْ نَفْسِهٖ
رووړ د ده مخـــوا ، نو پټه اوساتله دا خبره يوسف عليه السلام په خپل زړه کښې
وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ
او ښکاره ئې نه کړه دې لره دوی ته ، اوئيل (يوسف عليه السلام) تاسو ډير ناکاره يئ په اعتبار د درجې،
وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا
او الله پوهه دے په هغه څه چې تاسو ئې بيانوئ ٭ اوئيل دوی، اے
الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا
بادشاه يقينًا ده لره دے پلار ډيـــر بوډا نو اونيسه يو زمونږ نه
مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ قَالَ
په ځائے د ده ، يقينًا مونږ وينو تا لره د نيکانو نه ٭ اوئيل (يوسف عليه السلام)
مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا
پناه غواړم په الله سره دې خبرې نه چې اونيسو مونږ مګر هغه څوک چې اوموندو مونږ
مَتَاعَنَا عِنْدَهٗٓ ۙ اِنَّآ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا
سامان خپل هغه سره يقينًا مونږ به په دغه وخت کښې يو ظالمان ٭ پس هر کله
اسْتَيْــَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ
چې دوی نا اميده شو د ده (بنيامين) نه ځان له شو جرګه کونکي ، اوئيل

كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ

مشر د دوی آيا تاسو نه په پته نشته چي يقيناً پلار ستاسو تحقيق سره اغستي وه

عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَ مِنْ قَبْلُ مَا

په تاسو باندي کلکه وعده د الله او مخکښي د دينه هغه چي

فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ

کمے کړے وو تاسو په باره د يوسف عليه السلام کښي ، نو هميشه به يم زه په دي زمکه (دمصر) کښي

حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَ

تر دي پوري چي اجازت اوکي ما ته پلار زما يا فيصله اوکي الله زما د مرګ ، او

هُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ

هغه غوره فيصله کونکے دے . وابس شئ پلار خپل ته

فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَ مَا

نو ورته اووايئ اے پلاره زمونږ يقيناً ځوئي ستا غلا کړي ده ، او

شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَ مَا كُنَّا لِلْغَيْبِ

ګواهي نه کوو مونږ مګر په هغه څه چي مونږ ته پته ده او نه يو مونږ غيبو لره

حٰفِظِيْنَ ﴿٨١﴾ وَ سْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا

ساتونکي . او تپوس اوکه د کلي والو هغه نه چي وو مونږ

فِيْهَا وَ الْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ۭ وَ اِنَّا

په هغے کښي او د قافلے هغه نه چي راغلي يو مونږ په هغي کښي ، او يقيناً مونږ

لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

خامخا رشتيني يو . اوويل (يعقوب عليه السلام) بلکه ښائسته که تاسو ته

اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ عَسَى اللّٰهُ

نفسونو ستاسو دا کار ، نو (کار زما دے) صبر ښائسته ، زر دے الله

اَنۡ يَّاۡتِيَنِىۡ بِهِمۡ جَمِيۡعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡعَلِيۡمُ
چي راوله ولي ما ته دوی، ټول ، يقينًا الله دے پوهه

الۡحَكِيۡمُ ﴿۸۳﴾ وَ تَوَلّٰى عَنۡهُمۡ وَ قَالَ يٰۤاَسَفٰى
حکمت والا • او واوړيده د دوی نه (يعقوب عليه السلام) او وې وئيل اے غمه

عَلٰى يُوۡسُفَ وَ ابۡيَضَّتۡ عَيۡنٰهُ مِنَ الۡحُزۡنِ
(راحاضر شه) په يوسف باندي او سپينې شوې وې سترګي د ده د وجې د غم نه

فَهُوَ كَظِيۡمٌ ﴿۸۴﴾ قَالُوۡا تَاللّٰهِ تَفۡتَؤُا تَذۡكُرُ
او وو دے ډک د غم نه • اوئيل دوی: قسم په الله هميشه به ئې ته چې يادے به

يُوۡسُفَ حَتّٰى تَكُوۡنَ حَرَضًا اَوۡ تَكُوۡنَ مِنَ
يوسف عليه السلام تر دې پورې چې شې ته قريب هلاکت ته يا شې ته د

الۡهٰلِكِيۡنَ ﴿۸۵﴾ قَالَ اِنَّمَاۤ اَشۡكُوۡا بَثِّىۡ وَ حُزۡنِىۡۤ
هلاک شوو نه • اوئيل (يعقوب عليه السلام) بيشکه زه ظاهروم درد خپل او غم خپل

اِلَى اللّٰهِ وَ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۶﴾
الله ته او زه پوهيږم د طرفه د الله نه په هغه چې تاسو پرې نه پوهيږئ •

يٰبَنِىَّ اذۡهَبُوۡا فَتَحَسَّسُوۡا مِنۡ يُّوۡسُفَ وَ
اے بچو لاړ شئ تاسو نو لټـــــونه اوکئ د يوسف او

اَخِيۡهِ وَ لَا تَايۡـَٔسُوۡا مِنۡ رَّوۡحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ
د رور د هغه او مه نا اميده کيږئ تاسو د رحمت د الله نه ، يقينًا شان دا دے

لَا يَايۡـَٔسُ مِنۡ رَّوۡحِ اللّٰهِ اِلَّا الۡقَوۡمُ
نه نا اميده کيږي د رحمت د الله نه مګر قوم

الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَا
کافران • نو هر کله چې دوی داخل شو ده (يوسف عليه السلام) سره اوئيل دوی اے

الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَ اَهْلَنَا الضُّرُّ وَ جِئْنَا بِبِضَاعَةٍ

بادشاه رسیدلے دے موږ ته او اهل زموږ ته تکلیف (لوږه) او راتلل کړي دي موږ په پنګه

مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَ تَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ

کوټه باندي پس پوره راکه موږ ته پیمانه او خیرات اوکه په موږ باندي ،

اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِى الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿۸۸﴾ قَالَ هَلْ

یقیناً الله بدله ورکي خیرات کونکو ته " اوئیل (یوسف علیه السلام) آیا

عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَ اَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ

پوهه یئ تاسو په هغه کار چي کړے وو تاسو د یوسف او دوروړ د هغه سره کله چي تاسو

جٰهِلُوْنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ

ناپوهه وئ " اوئیل دوی آیا یقیناً ته خامخا ته یوسف ئي ؟

قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَ هٰذَآ اَخِيْ قَدْ مَنَّ اللّٰهُ

اوئیل (یوسف علیه السلام) زه یوسف یم او دا زما رور دے تحقیق سره احسان اوکه الله

عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَ يَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ

په موږ باندي ، یقیناً شان دا دے څوک چي اویریده د الله نه او صبر ئي اوکړو پس بے شکه الله

لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا

نه ضائع کئ بدله د نیکانو . اوئیل دوی:

تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَ اِنْ كُنَّا

قسم په الله تحقیق سره غوره کړي ته الله په موږ باندي او یقیناً یو موږ

لَخٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۱﴾ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ

خامخا خطا کار " اوئیل (یوسف علیه السلام) نشته ملامتیا په تاسو باندي نن ورځي ،

يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَ هُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾

بښنه به اوکي الله تاسو ته او دا الله دے غوره رحم کونکے .

اِذۡهَبُوۡا بِقَمِيۡصِيۡ هٰذَا فَاَلۡقُوۡهُ عَلٰى وَجۡهِ

اوسئ قمیص زما چې دا دے نو کیږدئ دي (قمیص) لره مخامخ د

اَبِيۡ يَاۡتِ بَصِيۡرًا ۚ وَاۡتُوۡنِيۡ بِاَهۡلِكُمۡ

پلار زما رابه شي لیدونکے (جک جوړ)، او راولئ ما ته کورنئ ستاسو

اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الۡعِيۡرُ قَالَ

ټول * او هر کله چې جدا شوه قافله (د مصر نه) اوئیل

اَبُوۡهُمۡ اِنِّيۡ لَاَجِدُ رِيۡحَ يُوۡسُفَ لَوۡلَاۤ اَنۡ

پلار د دوی یقینًا زه خامخا محسوس کوم بوئے د یوسف علیه السلام که

تُفَنِّدُوۡنِ ﴿۹۴﴾ قَالُوۡا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِيۡ

تاسو ما لیونے (بے وقوف) نه گڼړئ* اوئیل دوی: قسم په الله یقینًا ته خامخا په

ضَلٰلِكَ الۡقَدِيۡمِ ﴿۹۵﴾ فَلَمَّاۤ اَنۡ جَآءَ الۡبَشِيۡرُ

محبت ستا بخواني کښې ئي * پس هر کله چې راغے زیرے ورکونکے

اَلۡقٰىهُ عَلٰى وَجۡهِهٖ فَارۡتَدَّ بَصِيۡرًا ۚ قَالَ

کیخوده ده دي (قمیص) لره مخامخ د ده نو اوګرځیدو دے لیدونکے، اوئیل (یعقوب علیه السلام)

اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ ۚۙ اِنِّيۡۤ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا

آیا نه وو وئیلي ما تاسو ته چې یقینًا زه پوهیږم د طرفه د الله نه په هغه چې

لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوۡا يٰۤاَبَانَا اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا

تاسو پرې نه پوهیږئ * اوئیل دوی، اے پلاره زمونږ، ببښنه اوغواړه زمونږ د پاره

ذُنُوۡبَنَاۤ اِنَّا كُنَّا خٰطِـِٕيۡنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوۡفَ

د گناهونو زمونږه یقینًا یو مونږ خطا کار* اوئیل (یعقوب علیه السلام) زر دے چې

اَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴿۹۸﴾

بخښنه به اوغواړم تاسو لره د رب خپل نه، یقینًا شان دا دے دا الله ببښونکے مهربان دے*

فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ وَ

پس هر کله چي داخل شو دوی په يوسف (عليه السلام) باندي نو ځاے ئي ورکړو ځان سره خپل مور او پلار ته او

قَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾

وي وئيل داخل شئ ښار ته که خوښه شي د الله په امن باندي ٠

وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَ خَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ۚ

او بورته ئي کړل خپل مور او پلار تخت ته او پريوتل دوی ده ته سجده کونکي ،

وَ قَالَ يٰٓاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ

او وي وئيل: اے پلاره زما دا تعبير د خوب زما دے (چي ما ليدلے وو)

قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ۭ وَ قَدْ اَحْسَنَ

مخوا تحقيق سره اوګرځوو دي لره رب زما رشتيا ، او تحقيق سره احسان ئي اوکړه

بِيْٓ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَ جَآءَ بِكُمْ

په ما کله چي راوويستلو ما لره د جيل نه او رائي اوستې تاسو

مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ

د باندي نه پس د هغه نه چي وسوسه اچولې وه شيطان

بَيْنِيْ وَ بَيْنَ اِخْوَتِيْ ۭ اِنَّ رَبِّيْ لَطِيْفٌ

په مينځ زما او په مينځ د رونړو زما کښي ، يقينًا رب زما احسان کونکے

لِّمَا يَشَآءُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۰۰﴾ رَبِّ

د هغه څه دے چي خوښه ئي شي ، يقينًا دا الله دے پوهه حکمت والا ٠ اے ربه زما

قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَ عَلَّمْتَنِيْ مِنْ

تحقيق سره تا راکړے دے ما ته د بادشاهي نه او خودلے دي دے ما ته د

تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ

تعبير د خوبونو ، (اے) پيدا کونکيه د آسمانونو

وَ الْاَرْضِ اَنْتَ وَلِیّٖ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ
او د زمکې نه زما معاون یې په دنیا او آخرت کښې،
تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّ اَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ۝١٠١
وفات کې ما لره مسلمان او یو ځائے کې ما لره د نیکانو خلقو سره *
ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ۚ
دا د خبرونو د غیبو نه دي وحي کوو مونږ ده دي تا ته ،
وَ مَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْۤا اَمْرَهُمْ وَ هُمْ
او نه وې ته دوی سره کله چې دوی یوه کړه خپله رائے او دوی
یَمْكُرُوْنَ ۝١٠٢ وَ مَاۤ اَكْثَرُ النَّاسِ وَ لَوْ حَرَصْتَ
تدبیر جوړوو (خلاف د یوسف علیه السلام)* او ندي اکثر د خلقو نه اګر که ته حرص کوې
بِمُؤْمِنِیْنَ ۝١٠٣ وَ مَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ ؕ
ایمان راوړونکي * او نه غواړې ته د دوی نه په دې باندې څه بدله ،
ع ۱۱ ۵ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ۝١٠٤ ع وَ كَاَیِّنْ مِّنْ
ندے دا مګر پند دے د پاره د مخلوقات * او څومره د
اٰیَةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ یَمُرُّوْنَ
دلائلو نه په آسمانونو او زمکه کښې تیریږي (نظر تیرې) دوی
عَلَیْهَا وَ هُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ۝١٠٥ وَ مَا یُؤْمِنُ
په هغې باندې او دوی د هغې نه مخ اړونکي دي * او ایمان نه راوړي
اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَ هُمْ مُّشْرِكُوْنَ ۝١٠٦
دوی تول په الله باندې مګر دوی دي شرک کونکي *
اَفَاَمِنُوْۤا اَنْ تَاْتِیَهُمْ غَاشِیَةٌ مِّنْ عَذَابِ
آیا بیغ به شي دوی چې راشي دوی ته پټونکې د عذاب

اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّ هُمْ لَا

د الله نه يا به راشي دوی ته قيامت ناساپه او دوی به نه

يَشْعُرُوْنَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا

پوهيږي • اووايه (اے پيغمبره) دا (قرآن کريم) لار زما ده رابلم زه (خلقو لره)

اِلَى اللّٰهِ ؔ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَ مَنِ اتَّبَعَنِيْ ؕ

(دين د) الله ته، په دليل سره زه او هغه خوک چي تابعدار وي زما،

وَ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَ مَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٨﴾

او پاکي ده الله لره او نه يم زه د مشرکانو نه •

وَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ

او ندي رالېږلي موږ مخکښي ستا نه مگر سړي وحي کوله موږ

اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ؕ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

دوی ته د کلو والو نه ، آيا نه گرځي دوی

فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په زمکه کښي چي اوگوري څنگه شو انجام

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَ لَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ

د هغه کسانو چي مخکښي د دوی نه وو ، او خامخا کور د آخرت غوره دے

لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ؕ اَ فَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٩﴾ حَتّٰٓى

د پاره د هغه کسانو چي هغوي خان ساتي (د خلاف د الله نه)، نو ولے تاسو د عقل نه کار نه اخلئ• تردي(۱)

اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَ ظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا

چي نا اميده به شو پيغمبران(۲) او گمان به اوکه دوی (خلقو) چي يقيناً دوی (پيغمبرانو) سره دروغ اوکړے شو

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَ لَا يُرَدُّ

رابه غے دوی ته امداد زموږ او خلاص به کړے شو هغه څوک چي خوښه وه زموږ، او نه واپس کيږي

(۱) دا اخلاق به ده هغه وخته پوري وي .....

(۲) د ايمان د خوبونو نه

بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَقَدْ

عذاب زمونږ د قوم مجرمانو نه * تحقيق سره

كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ؕ

شته په بيان د دوی کښې عبرت د پاره د خاوندانو د عقل ،

مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَ لٰكِنْ تَصْدِيْقَ

نه دے دا (قرآن) داسې بيان چې د خان نه جوړولے شي ليکن تصديق دے

الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَ تَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ

د هغه کتابونو چې مخکښې د دې نه وو او وضاحت دے د هر يو څيز (د امور د دين)

وَّ هُدًى وَّ رَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

او هدايت او رحمت دے د پاره د هغه قوم چې ايمان راوړي *

اٰيَاتُهَا ۴۳ — سُوْرَةُ الرَّعْدِ مَدَنِيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ترتيب ۱۳ نزول ۹۶ — رُكُوْعَاتُهَا ۶

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ؕ وَ الَّذِيْ اُنْزِلَ

الله پوهيږي په معنیٰ د دې حروفو ، دا آيتونه د کتاب دي ، او هغه چې نازل کړے شوے دے

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ

تا ته د طرفه د رب ستا نه (هغه دے) رشتيا ليکن اکثر د

النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ

خلقو نه ايمان نه راوړي * الله هغه ذات دے چې پورته کړے ئې دي

السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى

آسمانونه بغير د ستنو نه چې وينئ تاسو هغې لره بيا برابر دے

عَلَى الْعَرْشِ وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ ؕ كُلٌّ

په خپل سلطنت باندې او تابعدار کړے ئې دے نمر او سپوږمۍ ، دا تول

سُوۡرَةُ الرَّعۡدِ

ربط د سورت الرعد :

(۱) مخکښې سورت کښې مسئله د توحید باندې دلیل نقل ذکر شو نو دلته پرې ادله عقلیه پیش کړې .

(۲) مخکښې سورت کښې مسئله د توحید بیان شوه نو دلته آیت ۱٤ کښې په مثال سره وضاحت کړې .

(۳) مخکښې سورت کښې ئې قرآن ته احسن القصص اوئیل نو دلته آیت ۲۸ کښې وائي

چې په دې {قرآن} باندې زړونه مطمئن کیږي .

امتیازات د سورت الرعد : (۱) دا سورت ممتاز دے په طریقې د حصول د اطمینان قلبي باندې .

(۲) په تسبیح د رعد {فرښتې} باندې . (۳) په کثرت د امثلو باندې .

دعوی د سورت الرعد : اثبات التوحید بالدلائل العقلیه و نفي الشرک في الدعاء

خلاصه د سورت الرعد : دې سورت کښې نفی د شرک في الدعاء باندې پنځه قسمه دلائل پیش کړې

{۱} اول قسم ادله ، خالق لکل شيئ هوالله . {۲} دویم قسم ادله ، عالم بکل شيئ هوالله .

{۳} دریم قسم ادله ، حافظ لکل شيئ هوالله . {٤} څلورم قسم ادله ، متصرف في کل شيئ هوالله .

{٥} پنځم قسم ادله ، کلهم منقادون الی الله {ټول الله تعالی ته محتاج دي } کله چې دا دلائل ذکر کړي

نو آیت ۱٤ کښې بیرې مسئله تفریع کړې چې خاص دې {الله تعالی } له بلنه ده ربښتیا

بیا وضاحت د مسئلے د پاره آیت ۱۷ کښې مثال بیانوي ، دارنګه ۳ ځله مسئله د توحید په

سورت کښې ذکر کړې ، اول ځل آیت ۱٤ کښې ، دویم ځل آیت ۳۰ کښې ، دریم ځل آیت ۳٦ کښې

دا سورت شپږ بابونو ته منقسم دے :

اول باب آیت ۱ نه تر آیت ۷ پورې .

دویم باب ، آیت ۸ نه تر آیت ۱۵ پورې .

دریم باب ، آیت ۱٦ نه تر آیت ۲۵ پورې .

څلورم باب ، آیت ۲٦ نه تر آیت ۳۲ پورې .

پنځم باب ، آیت ۳۳ نه تر آیت ۳۷ پورې.

شپږم باب ، آیت ۳۸ نه تر آخره .

يَجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ

روان دي نيټې مقررې ته ، تدبير كې د كارونو (د مخلوقاتو) او واضح كې

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝۲ وَ

دلائل خامخا چې تاسو په ملاقات د رب ستاسو باندې يقين اوكئ • او

هُوَ الَّذِىْ مَدَّ الْاَرْضَ وَ جَعَلَ فِيْهَا

الله هغه ذات دے چې خوره كړې ئې ده زمكه او پيدا كړي ئې دي پدې كښې

رَوَاسِىَ وَ اَنْهٰرًا ؕ وَ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ

غرونه او (جاري كړي ئې دي) ولې، او (پيدا كړي ئې دي په دې كښې) د هر قسمه ميوونه او كرخولي ئې دي

فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِى الَّيْلَ النَّهَارَ ؕ

په دې كښې جوړے دوه دوه پټې شپے لره په ورځ

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۳

يقينًا په دې كښې خامخا نښې د عبرت دي د پاره د هغه قوم چې سوچ او فكر كئ •

وَ فِى الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّ جَنّٰتٌ مِّنْ

او په زمكه كښې وندونه دي نزدې نزدې او باغونه د

اَعْنَابٍ وَّ زَرْعٌ وَّ نَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّ غَيْرُ

انګورو او فصلونه او كهجوري د يو مونډ والا او د ګنړو

صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ وَ نُفَضِّلُ

مونډانو والا اوبه كولے شي (دا ټول) په يو قسم اوبو باندې او غوره كوو مونږ

بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِى الْاُكُلِ ؕ اِنَّ فِىْ

بعضې دا ميوې په بعضو باندې په خوندونو كښې ، يقينًا په

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝۴ وَ اِنْ تَعْجَبْ

دې كښې خامخا نښې د عبرت دي د پاره د هغه قوم چې هغوي د عقل نه كار اخلي• او كه تعجب كوې ته

فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَ اِنَّا لَفِيْ

تو نا آشنا ده وينا د دوی آيا كله چې شو موږ خاوري آيا شو به موږ خامخا په

خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

پيدائش نوي كښې ، دغه هغه كسان دي چې كفر ئې كړے دے

بِرَبِّهِمْ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَ

په خپل رب ، او دغه كسان غټ زنځيرونه به وي په ختونو د دوی كښې ، او

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۵

دغه كسان دوزخيان دي ، او دوی به وي په دې (اوور) كښې هميشه *

وَ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ

او په تلوار سره غواړي دوی ستا نه عذاب مخكښې د نيكۍ نه

وَ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَ اِنَّ

او تحقيق سره تير شوي دي مخكښې د دوی نه عذابونه د بځوانو ، او يقينًا

رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ

رب ستا خامخا خاوند د ښښنې دے د پاره د خلقو سره د ظلم د دوی نه ،

وَ اِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۶ وَ يَقُوْلُ

او يقينًا رب ستا خامخا سخت عذاب والا دے * او وائي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ لَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ

هغه كسان چې كفر ئې كړے دے ولې نه راځي په دې پيغمبر (عليه السلام) باندې يو معجزه د طرفه

رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّ لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ۝۷ ع

د رب د ده نه ، يقينًا ته ئې يرونكے او د پاره د هر يو قوم لار ښودونكے دے *

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَ مَا تَغِيْضُ

الله پوهيږي په هغه چې بارووي هره زنانه او هغه چې كموي ئې

الْأَرْحَامُ وَ مَا تَزْدَادُ ؕ وَ كُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ

رحمونه او هغه چې زياتوي ئې ، او هر يو شے په نزد د الله

بِمِقْدَارٍ ۝٨ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ

په اندازه باندې* پوهه دے په پټو او په هغه څه چې ښكاره دي لوئے ذات دے(١)

الْمُتَعَالِ ۝٩ سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ

او اوچت دے(د خيال د مخلوقات نه)* برابر دي ستاسو نه هغه څوک چې په رووائي وينا

وَ مَنْ جَهَرَ بِهٖ وَ مَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِالَّيْلِ

او هغه څوک چې په تيزه وائي دي لره او هغه څوک چې پټيدونكے وي د شپے

وَ سَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝١٠ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ

او نيغ تلونكے د ورځې* دي بنده لره نګهباني فرشتے دي مخكښې

يَدَيْهِ وَ مِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ

د ده نه او روستو د ده نه حفاظت كې د ده د وجه د حكم

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى

د الله نه ، يقيناً الله نه بدلې هغه (نعمتونه) چې كړے ئې وي په قوم تر دې پورې

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَ اِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ

چې دوی بدل كې هغه (احكام) چې لازم وي په نفسونو د دوی، او كله چې اراده اوكې الله په يو قوم

سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ

باندې د عذاب نو نه وي واپس كيدل دې لره ، او نه به وي دوی لره بغير د الله نه

مِنْ وَّالٍ ۝١١ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ

څوك مدد كار* او دا الله هغه ذات دے چې ښائي تاسو ته پرك پروك

خَوْفًا وَّ طَمَعًا وَّ يُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ۝١٢ ۚ

د باره د ويرې (دمسافر) او د باره د طمع (د مقيم) او پورته كې وريځے درنے*

(١) په اعتبار د ذات او صفاتو

وَ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ

او پاکي بياني (الله لره) رعد فرشته په ستائنه د الله باندې (لګيا ده) او (نورے) فرشتے د

خِيْفَتِهٖ ۚ وَ يُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا

ويرې د الله نه، او راليږي (الله) تندرونه نو رسيږي دې لره

مَنْ يَّشَآءُ وَ هُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَ

چا ته ئې چې خوښه شي او دوی جګړې کوي په (توحيد د) الله کښې، او

هُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ

دا الله سخت طاقت والا /عذاب والا دے* خاص دي الله لره بلنه د رشتيا و ده،

وَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ

او هغه کسان چې رامدد کوي ئې دوی بغير د الله نه قبولوالے نشي کولے (دا نيکان بندګان)

لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ

دې مشرکانو لره د څه شي (۱) مګر پشان د هغه کس چې اوګدونکے وي لاسونه خپل اوبو ته

لِيَبْلُغَ فَاهُ وَ مَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَ مَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ

دې دپاره چې اورسي (دا اوبه) خلے د ده ته او نه دي دا اوبه رسيدونکي خلے د ده ته، او نده بلنه د کافرانو

اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾ وَ لِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي

مګر په ګمراهي کښې* او خاص الله لره تابعداري کوي هغه خوک چې

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ طَوْعًا وَّ كَرْهًا وَّ ظِلٰلُهُمْ

آسمانونو او زمکه کښې که په خوښه وي او که په زور او سورې د دوی

بِالْغُدُوِّ وَ الْاٰصَالِ ﴿۱۵﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ

صبا او بيګا* اووايه خوک دے مالک د

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ

آسمانونو او د زمکو، اووايه الله، اووايه

(۱) الله ته مثال د دوی

السجدة ۳

أَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ

آیا نیولي دي تاسو بغیــــر د الله نه مددګاران دوی واکدار نه دي

لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي

د پاره د ځانونو خپلو د فائدي او نه د ضرر، ووایه آیا برابر دے

الْأَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي

ړوند او لیدونکے، یا آیا بــرابر دي

الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ أَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ

تیارې او رڼاګانې ؟ آیا دوی ګرځولي دي الله لره حصه داران

خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ؕ

دوی پیدا کړي دي پهٔ شان د پیدائش د الله نو ګډوډ شوے دے پیدائش پهٔ دوی باندي ،

قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ

ووایه الله پیدا کوونکے د هر یو شي دے او دا الله یکي یو

الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ

زور آور دے ۰ راوروځ (الله) د بره نه باران نو او بهیري

أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا

کندي پهٔ اندازه د دي سره نو اوچت کي درياب زګ

رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ

اوچت شوے، او د هغه نه چي بلئ دوی هغي لره پهٔ اوور کښي

ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ

د پاره د لټولو د کالو یا د پاره د سامان زګ دے پهٔ شان د دي باندي، دارنګي

يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ۬ فَأَمَّا الزَّبَدُ

بیانئ الله (مثال د) حق او باطل ، نو هر چي زګ دے

فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَ اَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ

نو لاړ شي بيكاره ، او هر هغه څه چي فائده ورکئ خلقو ته

فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ۗ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ

نو هغه باقي شي په زمكه كښي ، دارنګي بيانوئ

اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ﴿١٧﴾ لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ

الله مثالونه ٭ د پاره د هغه كسانو چي هغوي قبولوالے كړے دے د (حكم د) خپل رب

الْحُسْنٰى ۗ وَ الَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ

جنت دے ، او هغه كسان چي قبولوالے نه كئ د (حكم د) الله كه

اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ مِثْلَهٗ

شي دوي لره هغه (څه) چي زمكه كښي دي ټول او په شان د دي

مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ۗ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ

نور هم ورسره، شي نو فديه وركړي په دي سره (قبول به نه شي دوي نه) دغه كسان دوي لره دے بد

الْحِسَابِ ۙ وَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۗ وَ بِئْسَ

حساب او ځائے د دوي دے جهنم ، او بده

الْمِهَادُ ﴿١٨﴾ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

بچونړه ده (جهنم) ٭ آيا هغه څوک چي پوهيږي په دي چي يقينًا هغه چي راليږلے شوے دے تا ته

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ۗ اِنَّمَا

د طرفه د رب ستا نه رشتيا دے دے په شان د هغه چا كيدے شي چي هغه وي ړوند ، يقينًا

يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿١٩﴾ الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ

پند اخلي خاوندان د عقل ٭ هغه كسان چي پوره والے كئ

بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ لَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ﴿٢٠﴾

په وعدو د الله او نه ماتئ دوي وعدي لره ٭

وَ الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ

او هغه کسان چي اداء کړي دوی هغه چي حکم کړے دے الله په هغي سره دا چي

يُّوْصَلَ وَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَ يَخَافُوْنَ

ادا کړے شي او يريږي دوی د خپل رب نه او يريږي

سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَ الَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ

د بد حساب نه * او هغه کسان چي صبر کړي د پاره د لټولو د

وَجْهِ رَبِّهِمْ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اَنْفَقُوْا مِمَّا

رضامنتيا د رب خپل او پابندي کړې د مونځ او خرچ کړي د هغه مال نه چي

رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً وَّ يَدْرَءُوْنَ

ورکړے دے مونږ دوی ته پټ او ښکاره او دفعه کړي دوی

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى

په بيان د توحيد شرک لره دغه کسان دوی لره انجام (ښائسته)

الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَ مَنْ

دے د آخرت * جنتونه د هميشگۍ دننه کيږي به دوی دي ته او هغه څوک

صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَ اَزْوَاجِهِمْ وَ ذُرِّيّٰتِهِمْ

چي نيکان وي د پلارانو د دوی نه او د بيبيانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه

وَ الْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ

او فرشتے دننه کيږي به په دوی باندي د هري

بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ

دروازے نه * سلامتيا دي وي په تاسو باندي په سبب د هغي چي تاسو کلک ولاړ روئ (په دين) نو څه ښائسته دے

عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾ وَ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ

انجام د آخرت * او هغه کسان چي ماتي دوی وعدے

اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَ يَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ

د الله پس د مضبوطوالي د هغې نه او پريکي دوی هغه چې حکم کړے دے

اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَ يُفْسِدُوْنَ فِي

الله په هغې باندې دا چې ادا کړے شي او فساد کې دوی په

الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَ لَهُمْ سُوْٓءُ

زمکه کښې دغه کسان دوی لره دے لعنت او دوی لره بد

الدَّارِ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

انجام دے . الله فراخې رزق چا لره ئې چې خوښه شي

وَ يَقْدِرُ ؕ وَ فَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَ مَا

او تنګئ ، او دوی خوشحاله شوي دي په ژوند د دنيا باندې ، او نه دے

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾ وَ

ژوند د دنيا په مقابله د آخرت کښې مګر څکه . او

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ لَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ

وائي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے ولې نه شي رالېږلے ده باندې يوه معجزه

مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ

د طرفه د رب د ده نه ، اووايه يقينًا الله مهر د ګمراهۍ وهي چا باندې چې ئې خوښه شي

وَ يَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿٢٧﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او توفيق ورکئ خان طرف ته هغه چا ته چې رجوع کئ الله ته . هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے

وَ تَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اَلَا بِذِكْرِ

او اولګيدل زړونه د دوی کتاب د الله سره ، خبر دار په کتاب د

اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿٢٨﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

الله مطمئن کيږي زړونه . هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے

وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَ حُسْنُ

او عمل کړی نیک خوشخبري ده دوی لره او ښائسته

مَاٰبٍ ﴿٢٩﴾ كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ

انجام دے* دغه رنګے رالیږلے دے مونږ تا لره په یو تولګي کښې چې تحقیق سره تیر شوي دي

مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَاْ عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ

مخکښې د هغې نه نور تولګي دي د پاره چې اولولے ته په هغوي باندي هغه چې وحي کړي ده مونږ

اِلَيْكَ وَ هُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ؕ قُلْ هُوَ

تا ته او دوی کفر کړی په مهربان بادشاه باندي ، اووایه دا الله

رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَ اِلَيْهِ

زما رب دے نشته بل حاجت روا بغیر د الله نه په دي الله باندي ما خان سپارلے دے او دي الله ته

مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَ لَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ

زما رجوع ده* او كه يقيناً قرآن چې دے روان کړے شي په دي باندي غرونه

اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ؕ

یا ټکړے کړے شي دي باندي زمکه یا خبري اوکړي شي په دي به مړو (نو بیا ئې هم دوی نه مني) ،

بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا ؕ اَفَلَمْ يَاْيْـَٔسِ

بلکه الله لره دے اختیار ټول ، آیا نه پوهیږي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى

هغه کسان چې ایمان ئې راوړے دے که خوښه وے د الله نو خامخا توفیق به ئې ورکړے وو

النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَ لَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

الله پرهيزګارانو ته . هغه كسان چې روح اخلي هغوي نه فرښتې

طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا

په داسې حال كښې چې خوشحاله وي (دوی په مرګ) وائي (فرښتې) سلامتيا دې وي په تاسو باندې دننه شئ

الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٣٢﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ

جنت ته په سبب د هغه چې تاسو عمل کولو • انتظار نه کوي دوی

اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ

مگر د دې خبرې چې راشي دوی ته ملائک (د عذاب) يا راشي دوی ته حکم (دعذاب)

رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

د رب ستا ، دارنګې کار کړے وو هغه کسانو چې مخکښې د دوی نه وو ،

وَ مَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَ لٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

او ظلم نه وو کړے دوی باندې الله ليکن دوی په خپلو ځانونو باندې

يَظْلِمُوْنَ ﴿٣٣﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَ

ظلم کولو • نو اورسيده دوی ته بدې د هغه چې دوی کړي وو او

حَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَ

نازل شو په دوی (سزا د) هغه چې دوی هغې پورې توقې کولې • او

قَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا

او اوبه وائي هغه کسان چې شرک ئې کړے وو که خوښه وے د الله مونږ به عبادت نه وو کړے

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ وَ لَآ اٰبَآؤُنَا

سيوا د الله نه د هيڅ شي مونږ او نه پلارانو زمونږ

وَ لَا حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ

او نه به وو حرام کړے مونږ سيوا د الله نه هيڅ شے ، دارنګې

فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى

کار کړے وو هغه کسانو چې مخکښې د دوی نه وو ، نو نشته په

الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٥﴾ وَ لَقَدْ بَعَثْنَا

پيغمبرانو مگر رسول (د مسئلې) ښکاره • او تحقيق سره ليږلے وو مونږ

فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَ

په هر يو امت کښې پيغمبر په دې خبره چې عبادت اوکړئ د الله او

اجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ

خان بچ کړئ د عبادت د غير الله نه ، نو بعضې د دوی نه هغه خوک وو چې توفيق ورکړے وو الله

وَ مِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ۗ فَسِيْرُوْا

او بعضې د دوی نه هغه خوک وو چې اولګيدهٔ په دوی باندې حکم د ګمراهۍ ، نو اوګرځئ

فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په زمکه کښې نو اوګورئ څه رنګه شو انجام د

الْمُكَذِّبِيْنَ ۞۳۶ اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ

دروغژنو • که ته حرص کے په هدايت د دوی باندې

فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ وَ مَا لَهُمْ

پس يقيناً الله توفيق نه ورکوي هغه چا ته چې مهر د ګمراهۍ پرې اوهي او نه به وي دوی لره

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۞۳۷ وَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

څوک امداديان • او قسمونه خوري دوی په الله باندې پاخه

اَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ۗ بَلٰى

قسمونه چې پورته به نه کي الله هغه څوک چې مړ بري • بے شکه

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

(راپورته به ئې کړي) وعده ده په الله باندې رښتيا ليکن اکثر د خلقو نه

يَعْلَمُوْنَ ۞۳۸ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ

پوهيږي • دې د پاره چې بيان کړي دوی ته هغه (مسئلې) چې اختلاف کې دوی

فِيْهِ وَ لِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا

په هغې کښې او دې د پاره چې ښکاره کړي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے يقيناً دوی وو

كٰذِبِيْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ

دروغژن * يقينًا وينا زمونږ په باره د يو څيز کښي کله چې اراده اوکړو مونږ د هغې دا چې

نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٤٠﴾ وَ الَّذِيْنَ هَاجَرُوْا

اووايو مونږ دي ته موجود شه نو موجود شي * او هغه کسان چې هغوي هجرت اوکړو

ع ٥ ١١

فِي اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي

په (دين د) الله کښي پس د هغه نه چې په دوی باندي ظلم اوکړے شو خامخا ځائے به ورکو مونږ دوی ته په

الدُّنْيَا حَسَنَةً ؕ وَ لَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ

دنيا کښي ښائسته ، او خامخا بدله د آخرت ډيره لويه ده ، کاش چې

وقف لازم

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَ عَلٰى

دوی پوهيدے * هغه کسان چې صبر ئې اوکه او په

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

خپل رب باندي ځان سپاري * او نه دي رالېږلي مونږ مخکښي ستا نه

اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ

مګر سړي چې وحي به کوله مونږ دوی ته نو تپوس اوکئ د اهل علم نه

اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنٰتِ وَ الزُّبُرِ ؕ

که تاسو نه پوهيږئ *(١) په دلائلو (عقليو) باندي او په صحيفو (دلائل نقليو)

وَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا

او رالېږلے دے مونږ تا ته قرآن دي د پاره چې ته واضح کې د پاره د خلقو هغه چې

(١) لېږلي وو موږ پيغمبران

نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٤﴾ اَفَاَمِنَ

رالېږلے شوي دي دوی ته او خامخا چې دوی سوچ او فکر اوکي * آيا بيچ به شي

النصف

الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ

هغه کسان چې ډيرونه کې بد دا چې اوبه منهي الله

بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ

دوی لره په زمکه کښې یا به راشي دوی ته عذاب د

حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٤٥﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ فِيْ

داسې ځائے نه چې دوی به نه پوهیږي • او به اونیسي دوی لره به

تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٤٦﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ

په ځائے د اوریدو راوریدو د دوی کښې نه به وي دوی خلاصیدونکي (د الله نه) • یا به اونیسي دوی لره

عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٤٧﴾

پس د کمي د دوی نه ، پس یقینًا رب ستاسو خامخا نرمي کونکے مهربان دے •

اَوَ لَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ

آیا نه گوري دوی هغه څه ته چې پیدا کړي دي الله څه شے

يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَ الشَّمَآئِلِ سُجَّدًا

راګرځي سورې د هغې د ښي طرف او د کس طرف نه تابعدار دي

لِّلّٰهِ وَ هُمْ دٰخِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَ لِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي

د الله او دوی عاجزي کونکي دي (الله ته) • او خاص الله لره تابعداري کوي هغه چې

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ

آسمانونو کښې دي او هغه چې زمکه کښې دي یعني ژوندی سر

وَّ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ هُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٩﴾

او فرشتې او دوی خان غټ نه گنړي •

يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَ يَفْعَلُوْنَ

یریږي دوی د خپل رب نه چې د پاسه د دوی دے (غالب) او کوي دوی

مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ السجدة وَ قَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا

هغه چې دوی ته حکم کولے شي • او وئیلي دي الله : مه نیسئ تاسو



إِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ إِنَّمَا هُوَ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَإِيَّايَ

حاجت رواهان دوه ، بے شکه دا الله حاجت روا دے یکي یو، نو خاص زما نه

فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ویریږئ * او خاص دي الله لره اختیار د آسمانونو او د زمکو دے

وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ۭ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾

او دي الله ته غاړه کیښودل دي لازم /همیشه ، آیا د غیر الله نه تاسو ویریږئ *

وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا

او هغه چي دے په تاسو باندي څه نعمت نو دا دے د طرفه د الله نه بیا کله چي

مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ثُمَّ اِذَا

اورسیږي تاسو ته تکلیف نو دي الله ته تاسو فریاد کوئ * بیا کله چي

كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ

لري کي تکلیف ستاسو نه ناساپه یوه ډله ستاسو نه د خپل رب سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۭ

شریکوي (مخلوق لره)* دي د پاره چي دوی کفر اوکړي په هغه چي ورکړي دي مونږ دوی ته ،

فَتَمَتَّعُوْا ۣ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَجْعَلُوْنَ

نو فائده واخلئ تاسو (په دي دنیا کښي) زر دے چي تاسو به (صبا په قیامت کښي) * او گرځئ دوی

لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ۭ تَاللّٰهِ

هغه د پاره چي نه پوهیږي حصه د هغه نه چي ورکړي دي ورته مونږ ، قسم په الله

لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَيَجْعَلُوْنَ

خامخا تپوس به کولے شي ستاسو نه په باره د هغه کښي چي تاسو د ځان نه جوړول * او گرځئ دوی

لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾

الله لره لونړه پاک دے الله (د دي نه) او دوی د پاره هغه دي چي دوی ئي غواړي *

وَ اِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ

او كله چي زيرے وركړے شي يو د دوى ته په جينۍ اوګرځي مخ د ده

مُسْوَدًّا وَّ هُوَ كَظِيْمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ

تک تور او وي دے ډک د غم نه * پټيږي د قوم نه

مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ؕ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى

د بدى، د هغه نه چي زيرے وركړے شي په هغې باندي ، آيا اوساتي دي لره سره د

هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ؕ اَلَا سَآءَ مَا

ذلت نه يا اومندي دي لره په خاورو كښي ، خبردار بد دے هغه چي

يَحْكُمُوْنَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

دوى فيصلے كوئ * د پاره د هغه كسانو چي ايمان نه راوړي په آخرت باندي

مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَ لِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ؕ وَ هُوَ

صفت بد ، او د پاره د الله صفتونه دي اوچت ، او دا الله

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٠﴾ وَ لَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ

غالب حكمت والا دے * او كه نيولے الله خلقو لره (سمدست)

بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّ لٰكِنْ

په وجي د ظلم د دوى باندي نه به ئي وو پريښودے په دي زمكه هيڅ يو ژوندے سر ليكن

يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا

روستو كوي دوى لره تر نيټي مقرري پورى ، نو كله چي

جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّ لَا

راشي نيټه د مرګ د دوى روستو به نه شي دوى يو ساعت او نه به

يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَ يَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ

مخكښي شي يو ساعت * او ګرځي دوى الله لره هغه چي دوى ئي بد ګڼړي

وَ تَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ لَهُمُ

او بیانوي ژبې د دوی دروغ یقینًا دوی لره دے

الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَ اَنَّهُمْ

جنت ، خامخا یقینًا دوی لره دے اوور او یقینًا دوی به

مُّفْرَطُوْنَ ﴿۶۲﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَاۤ اِلٰۤى اُمَمٍ

دننه کړے شي دې ته * قسم په الله تحقیق سره لیږلي وو مونږ هغه ټولګو ته

مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

مخکښې ستا نه (انبیاء کرام) نو ښائسته کړي وو دوی ته شیطان ناکاره عملونه د دوی

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾

نو دا شیطان دوست دے د دوی نن ورځ او دوی لره دے عذاب دردناک *

وَ مَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ

او نه دے رالیږلے مونږ په تا باندې کتاب مګر دې د پاره چې ته بیان کړې دوی ته

الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةً

هغه چې دوی اختلاف کړے دے په هغې کښې په داسې حال کښې چې هدایت او رحمت دے

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾ وَ اللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

د پاره د هغه قوم چې ایمان راوړي * او الله راوړې د بره نه

مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ

باران نو تازه کړه په دې سره زمکه پس د اوچیدو د دې نه ، یقینًا

فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَ اِنَّ

په دې کښې خامخا نښه د عبرت ده د پاره د هغه قوم چې هغوي اوري (قرآن) * او یقینًا

لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا

ستاسو د پاره په دنګرو کښې خامخا عبرت دے څکوو مونږ په تاسو باندې د هغه نه

ع

فِيْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّ دَمٍ لَّبَنًا
چې دي په خېټو د دې (څاروو) کښې په مېنځ د غوشايو او د وينې کښې پئ
خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَ مِنْ ثَمَرٰتِ
خالص ښه تېرېدونکي د پاره د څکونکو * او د مېوو د
النَّخِيْلِ وَ الْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا
كهجورو او انګورو نه جوړوئ تاسو د دې نه د مستۍ خيزونه
وَّ رِزْقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ
او روزي ښائسته ، يقينًا په دې كښې خامخا نښه د عبرت ده د پاره د هغه قوم چې
يَّعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَ اَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ اَنِ
عقل نه کار اخلي * او حکم کړے دے رب ستا مچۍ ته دا چې
اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا وَّ مِنَ الشَّجَرِ
جوړوه په غرونو كښې كورونه او په اونو كښې
وَ مِمَّا يَعْرِشُوْنَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِيْ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ
او د هغه څه نه چې دوی سپرونه(چونه) جوړوئ * بيا خوره د هر قسمه مېوونه
فَاسْلُكِيْ سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخْرُجُ مِنْۢ
نو ځه په لارو د رب ستا تابعداره ، راوځي د
بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ
خېټو د دې نه د څکلو شے (کښې) چې رنګ په رنګ رنګونه ئې دي په دې کښې
شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ
شفاء ده د پاره د خلقو ، يقينًا په دې کښې خامخا نښه د عبرت ده د پاره هغه قوم چې
يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَ اللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ
(سوچ او) فكر كوي * او الله پيدا كړي يئ تاسو بيا به مړه كې تاسو لره (محکښې د بودا والي نه) ،

وَ مِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ لِكَىۡ لَا

او بعضي ستاسو نه هغه څوک دي چې واپس کړې شي کمزورۍ عمر ته دې د پاره چې

يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٍ شَيۡـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ

پوهه نه شي پس د (ډېرې) پوهې نه په هيڅ شي باندې، يقيناً الله پوهه

قَدِيۡرٌ ۝٧٠ وَ اللّٰهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ

قدرت والا دے . او الله غوره کړي دي بعضي تاسو په بعضو باندې

فِى الرِّزۡقِ ۚ فَمَا الَّذِيۡنَ فُضِّلُوۡا بِرَآدِّىۡ

په خوراک کښې نو نه دي هغه کسان چې غوره کړے شوي دي واپس کونکي

رِزۡقِهِمۡ عَلٰى مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ فَهُمۡ

رزق خپل لره په هغه چا باندې چې مالکان دي ښي لاسونه د دوی د هغوي نو شي دوی

فِيۡهِ سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعۡمَةِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ ۝٧١

په دې کښې برابر دي؟ ، آيا په نعمت د الله باندې دوی انکار کوي .

وَ اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا

او الله ګرځولې دے ستاسو د پاره د جنس ستاسو نه بيبياني

وَّ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ بَنِيۡنَ

او پيدا کړي ئې دي د پاره ستاسو د بيبيانو ستاسو نه زامن

وَ حَفَدَةً وَّ رَزَقَكُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ

او نوسي او رزق ئې درکړے دے تاسو ته د پاکيزه څيزونو نه ،

اَفَبِالۡبَاطِلِ يُؤۡمِنُوۡنَ وَ بِنِعۡمَتِ اللّٰهِ هُمۡ

آيا په باطل (شرک) باندې دوی ايمان راوړي او په نعمت (توحيد) د الله باندې دوی

يَكۡفُرُوۡنَ ۝٧٢ وَ يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

کفر کوي . او عبادت کوي دوی سيوا د الله نه

مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ

هغه چې اختيار نه لري دوی د پاره د رزق د (بره) آسمانونو نه

وَ الْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ فَلَا

او د (ښکته) زمکو نه د هيڅ شي او نه طاقت لري دوی • نو مه

تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَ

بيانوئ الله لره مثالونه ، يقينًا الله پوهيږي او

اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧٤﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا

تاسو نه پوهيږئ • بيانئ الله مثال د يو بنده

مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّ مَنْ رَّزَقْنٰهُ

غلام چې قادر نه دے (لاس ئې نه بر کيږي) په هيڅ شي باندي او د هغه چا چې رزق ورکړے دے موږ ده ته

مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا

د خپل طرف نه رزق ښائسته نو دے خرج کئ د دې نه پټ

وَّ جَهْرًا ؕ هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ

او ښکاره ، آيا دوی برابر دي ، صفتونه د خدائي توب خاص الله لره دي ، بلکه

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا

اکثر د دوی نه نه پوهيږي • او بيانئ الله مثال

رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

د دوو سړو يو د دوی نه گونگ وي طاقت نه لري په هيڅ شي باندي

وَّ هُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا

او دے بوج وي په خپل مالک باندي کوم خوا چې ليږي (مخ کئ) ده لره

يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَ مَنْ يَّاْمُرُ

راتلل نه کوي په خير باندي ، آيا برابر دے ؟ دے او هغه څوک چې حکم کوي

بِالْعَدْلِ ۙ وَ هُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷٦﴾

په انصاف (توحيد) او دے وي په لار نيغه باندي *

وَ لِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ وَ مَآ

او خاص الله لره علم د غيبو د آسمانونو او د زمكو دے ، او نه دے

اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ

حكم د قيامت مگر په شان د رپ د سترگي باندي بلكه دي نه هم

اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾

نژدي ، يقينًا الله په هر يو خيز باندي قدرت والا دے *

وَ اللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

او الله پيدا كړي يئ تاسو د خيټو د ميندو ستاسو نه

لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّ جَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ

نه پوهيدئ تاسو په هيڅ شي باندي او گرځولي ئي دي ستاسو د پاره غوږونه (د پاره د اوريدو)

وَ الْاَبْصَارَ وَ الْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾

او سترگي (د پاره د ليدو) او زړونه (د پاره د پوهيدو) خامخا چي تاسو شكر اوباسئ *

اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ

آيا نه گوري دوي مارغانو ته تابع كړے شوي په كنارو د

السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

آسمان كښي نه دي ټينگ كړي دوي لره مگر الله ، يقينًا په دي كښي

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَ اللّٰهُ جَعَلَ

خامخا نښي د عبرت دي د پاره د هغه قوم چي ايمان راوړي * او الله پيدا كړي دي

لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ

ستاسو د پاره د كورونو ستاسو نه خائے د آرام او پيدا كړي ئي دي ستاسو د پاره

مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا

د خرمنو د ډنګرو نه کورونه چې سپک اخلئ تاسو دي لره

يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَ يَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ وَ مِنْ

په ورځ د سفر ستاسو کښې او په ورځ د قيام ستاسو کښې او د

اَصْوَافِهَا وَ اَوْبَارِهَا وَ اَشْعَارِهَآ اَثَاثًا

وړو د دې نه او د پشم د دې نه او وږغنو د دې نه سامان

وَّ مَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٨٠﴾ وَ اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ

او فائده تر يو وخته پورې • او الله ګرځولې دي ستاسو د پاره

مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ

د هغه نه چې پيدا کړي ئې دي سورې او ګرځولې ئې دي ستاسو د پاره د غرونو نه

اَكْنَانًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ

درې او پيدا کړې ئې دي ستاسو د پاره قميصونه چې بچ کړي تاسو لره د ګرمۍ (او سړزۍ) نه

وَ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُتِمُّ

او قميصونه چې بچ کړي تاسو لره په جنګ ستاسو کښې ، دا رنګې پوره کړي (الله)

نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ فَاِنْ

نعمت خپل په تاسو باندې خامخا چې تاسو غاړه کيږدئ (الله ته) • نو که

تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٢﴾

واوړيدل دوی نو يقينًا په تا باندې رسول (د مسئلې) دي ښکاره

يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا

پيژني دوی نعمت د الله (توحيد) بيا انکار کړي دوی د دې نه

وَ اَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٣﴾ ع وَ يَوْمَ نَبْعَثُ

او اکثر د دوی نه کافران دي • او (ياده که) هغه ورځ چې پورته به کړو مونږ

مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيۡدًا ثُمَّ لَا يُؤۡذَنُ

د هر يو امت نه يو گواه (په دوی باندي) بيا به اجازت ورنه کړے شي

لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُوۡنَ ﴿٨٤﴾ وَاِذَا

هغه کسانو ته چي کفر ئي کړے دے او نه به د دوی ملامتيا منظوره کړے شي * او کله چي

رَاَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوا الۡعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ

اوويني هغه کسان چي ظلم ئي کړے دے عذاب لره نو سپک به نه کړے شي

عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنۡظَرُوۡنَ ﴿٨٥﴾ وَاِذَا رَاَ الَّذِيۡنَ

د دوی نه او نه به دوی لره مهلت ورکړے شي * او کله چي اوويني هغه کسان

اَشۡرَكُوۡا شُرَكَآءَهُمۡ قَالُوۡا رَبَّنَا هٰۤؤُلَآءِ

چي شرک ئي کړے دے د برخي خاوندان خپل او به وائي دوی اے ربه زمونږه دا دي

شُرَكَآؤُنَا الَّذِيۡنَ كُنَّا نَدۡعُوۡا مِنۡ

زمونږ د برخي خاوندان هغه کسان چي مونږه رامدد کول دوی لره (په دنيا کښي)

دُوۡنِكَ ۚ فَاَلۡقَوۡا اِلَيۡهِمُ الۡقَوۡلَ اِنَّكُمۡ

سيوا ستا نه، نو او به غورځي دوی ته وينا چي يقيناً تاسو

لَكٰذِبُوۡنَ ﴿٨٦﴾ وَاَلۡقَوۡا اِلَى اللّٰهِ يَوۡمَئِذِ

خامخا دروغژن يئ * او کيږدي به دوی الله ته په دغه وخت کښي

اِلسَّلَمَ وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿٨٧﴾

غاړه او ورک به شي د دوی نه هغه چي دوی د خان نه دروغ جوړول *

اَلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ

هغه کسان چي کفر ئي کړے دے او بند شوي دي دوی د لاري د الله نه

زِدۡنٰهُمۡ عَذَابًا فَوۡقَ الۡعَذَابِ بِمَا

زيات به کومونږ دوی لره عذاب د پاسه د عذاب نه په سبب د هغه چي

كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَ يَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ

دوی فساد کولو • او په هغه ورځ چې راپورته به کړو موږ په

كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

هر یو امت کښې یو ګواه په دوی باندې د جنس د دوی نه

وَ جِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَ نَزَّلْنَا

او رابه ولو موږ تا لره ګواه په دغه کسانو باندې ، او رالیږلې دے موږ

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ

په تا باندې کتاب واضح بیانونکے د پاره د هر یو شي (د امورو دینیه)

وَّ هُدًى وَّ رَحْمَةً وَّ بُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿٨٩﴾

او هدایت او مهرباني او زیرے د پاره د مسلمانانو •

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَ الْاِحْسَانِ

یقینًا الله حکم کوي په توحید او احسان کولو (د مخلوقاتو سره)

وَ اِيْتَآئِ ذِی الْقُرْبٰى وَ يَنْهٰى عَنِ

او په ورکولو (د حق) د خپلو خپلوانو ته او منع کوي د

الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ وَ الْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ

بے حیایۍ (شرک فعلي) او ناروا (شرک اعتقادي) نه او د زیاتي (بدعت) نه ، پند درکوي تاسو ته

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٩٠﴾ وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ

خامخا چې تاسو پند واخلئ • او پوره والے اوکړئ په وعدو د الله باندې

اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَ لَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ

کله چې وعده اوکړئ تاسو او مه ماتوئ وعدو / قسمونو لره پس د

تَوْكِيْدِهَا وَ قَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ

مضبوطوالي د هغې نه او تحقیق سره ګرځولے دے تاسو الله لره په ځانونو خپلو

كَفِيۡلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۹۱﴾ وَ

ذمه دار ، يقينًا الله پوهيږي په هغه چې تاسو يې کوئ * او

لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّتِىۡ نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۡۢ

مه کيږئ په شان د هغه زنانه چې توټې توټې کې سپنږسې خپله

بَعۡدِ قُوَّةٍ اَنۡكَاثًا ؕ تَتَّخِذُوۡنَ اَيۡمَانَكُمۡ

پس د مضبوطوالي د هغې نه توټې توټې ، نيسئ تاسو وعدې قسمونه خپل

دَخَلًاۢ بَيۡنَكُمۡ اَنۡ تَكُوۡنَ اُمَّةٌ هِىَ اَرۡبٰى

سبب د فساد په خپل مينځ کښې دا چې شي يو ډله ډيره د فائدې والله

مِنۡ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا يَبۡلُوۡكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ وَ

د بلې ډلې نه ، يقينًا امتحان کې په تاسو باندې الله په دې (احکامو) سره ، او

لَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ مَا كُنۡتُمۡ فِيۡهِ

خامخا ښکاره به کړي تاسو ته په ورځ د قيامت هغه چې تاسو په هغې کښې

تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۹۲﴾ وَ لَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ

اختلاف کولو * او که خوښه وے د الله (په زوره باندې ايمان) نو خامخا گرځولي به يې وې تاسو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّ لٰكِنۡ يُّضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ

ټولگے يو (په يو دين باندې) ليکن مهر د گمراهي وهي الله چا باندې چې يې خوښه شي

وَ يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنۡتُمۡ

او توفيق ورکوي چا ته يې چې خوښه شي او خامخا تپوس به اوکړے شي ستاسو نه په باره د هغه څه کښې چې تاسو

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۳﴾ وَ لَا تَتَّخِذُوۡۤا اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًاۢ

کول * او مه نيسئ قسمونه ستاسو سبب د فساد

بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعۡدَ ثُبُوۡتِهَا وَ تَذُوۡقُوا

په خپل مينځ کښې گېنې او به خويږي قدمونه ستاسو پس د ټلکوالي د هغې نه او به څکئ تاسو

السُّوْٓءَ بِمَا صَدَدْتُّمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

عذاب په سبب د هغه چې بند شوي ئي تاسو د لارې د الله نه،

وَ لَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٩٤﴾ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ

او ستاسو د پاره دے عذاب لوئي ، او مه اخلئ په احکامو د

اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ

الله بانديې دنيا لږه ، يقيناً هغه (نعمتونه) چې الله سره دي دا غوره دي

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ

ستاسو د پاره که تاسو پوهيږئ ، هغه چې تاسو سره دي

يَنْفَدُ وَ مَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ وَ لَنَجْزِيَنَّ

ختم به شي او هغه چې الله سره دي هغه هميشه دي، او خامخا بدله به ورکړو مونږ

الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا

هغه کسانو ته چې صبر ئې کړے وو بدله د دوی ښائسته د هغه چې دوی

يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ

عمل کو ، چا چې عمل اوکړه نيک (په طريقه د پيغمبر عليه السلام) نارينه وي

اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً

يا زنانه او حال دا دے چې وي دے مومن خامخا ژوند به ورکړو مونږ دے ته ژوند

طَيِّبَةً ۚ وَ لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا

د خوشحالۍ، او خامخا بدله به ورکړو مونږ دوی ته بدله د دوی د ښائسته هغه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾ فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ

عمل چې دوی کو . او کله چې لولے ته قرآن

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾

نو پناه غواړه په الله سره د شيطان رټلي شوي نه .

اِنَّهٗ لَیۡسَ لَهٗ سُلۡطٰنٌ عَلَی الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

یقینًا دا شیطان نشته ده لره هیڅ زور په هغه کسانو باندي چي ایمان ئې راوړے دے

وَ عَلٰی رَبِّهِمۡ یَتَوَکَّلُوۡنَ ﴿۹۹﴾ اِنَّمَا سُلۡطٰنُهٗ

او په خپل رب باندي ځان سپاري • یقینًا غلبه د دي شیطان

عَلَی الَّذِیۡنَ یَتَوَلَّوۡنَهٗ وَ الَّذِیۡنَ هُمۡ بِهٖ

په هغه کسانو باندي ده چي دوستي کوي ده (شیطان) سره او په هغه کسانو چي دوی د الله سره

مُشۡرِکُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾ وَ اِذَا بَدَّلۡنَاۤ اٰیَةً مَّکَانَ

شرک کونکي دي • او کله چي بدلکو مونږ یو حکم په ځائے د

اٰیَةٍ ۙ وَّ اللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا یُنَزِّلُ قَالُوۡۤا اِنَّمَاۤ

بل حکم او الله پوهه دے په هغه حکم چي رالیږي وائي دوی یقینًا

اَنۡتَ مُفۡتَرٍ ؕ بَلۡ اَکۡثَرُهُمۡ لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾

ته د ځان نه جوړونکے یې بلکه اکثر د دوی نه پوهیږي •

قُلۡ نَزَّلَهٗ رُوۡحُ الۡقُدُسِ مِنۡ رَّبِّکَ

اووایه راوړے دے دي قران لره جبرئیل امین د طرفه د رب ستا نه

بِالۡحَقِّ لِیُثَبِّتَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ هُدًی

په حکم د الله دي د پاره چي مضبوط کړي هغه کسان چي ایمان ئې راوړے دے او هدایت

وَّ بُشۡرٰی لِلۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۱۰۲﴾ وَ لَقَدۡ نَعۡلَمُ

او زیرے دے د پاره د مسلمانانو • او تحقیق سره پوهیږو مونږ

اَنَّهُمۡ یَقُوۡلُوۡنَ اِنَّمَا یُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ

چي یقینًا دوی وائي بے شکه ښودنه کوي ده ته یو بنده ،

لِسَانُ الَّذِیۡ یُلۡحِدُوۡنَ اِلَیۡهِ اَعۡجَمِیٌّ

ژبه د هغه چا چي میلان کوي دوی هغه ته عجمي ده

وَ هٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾ اِنَّ

او دا (قرآن) ژبه عربي واضحه ده • يقينًا

الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا

هغه كسان چي ايمان نه راوړي په آيتونو د الله

يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾

توفيق به ورنكي دوى ته الله او دوى د پاره دے عذاب دردناك •

اِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا

تحقيق سره جوړي دروغ هغه كسان چي

يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ

ايمان نه راوړي په آيتونو د الله باندي ، او دغه كسان هم دوى دي

الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ

دروغژن • چا چي كفر اوكړه په الله باندي

بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَ قَلْبُهٗ

پس د ايمان د هغه نه مگر هغه څوک چي زور اوكړے شو په هغه باندي او زړه د هغه

مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَ لٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ

مطمئن وي په ايمان باندي ليكن چا چي پرانيسته

بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ

كفر ته سينه نو په دوى باندي غضب دے د طرفه د

اللّٰهِ ۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ ذٰلِكَ

الله نه او دوى د پاره دے عذاب لوئي • دا

بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى

د دي وجي نه چي دوى خوښ كړي ژوند د دنيا په

الْاٰخِرَةِ ۚ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ

آخرت باندي او يقينًا الله توفيق نه ورکئ قوم

الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ

کافرانو ته • دا هغه کسان دي چي مهر والے دے الله

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ سَمْعِهِمْ وَ اَبْصَارِهِمْ ۚ

په زړونو د دوی او په غوږونو د دوی او په سترګو د دوی باندي ،

وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ

او دغه کسان هم دوی دي ناخبره (د کتاب د الله نه) • خامخا

اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾ ثُمَّ

يقينًا دوی به آخرت کښي هم دوی دي تاوانيان • بيا

اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ

يقينًا رب ستا د پاره د هغه کسانو چي هجرت ئي اوکه پس د

مَا فُتِنُوْا ثُمَّ جٰهَدُوْا وَ صَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ

هغه نه چي دوي د تکليف کښي اچولے شوي وو بيا ئي جهاد اوکړو او کلک شو په دين د الله يقينًا

رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٠﴾ ؏

رب ستا پس د دي نه خامخا بښونکے مهربان دے •

يَوْمَ تَاْتِىْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا

په هغه ورځ باندي چي رابه شي هر يو نفس چي بحث به کئ د خپل ځان د طرف نه

وَ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَ هُمْ لَا

او پوره به ورکړے شي هر يو نفس ته بدله د هغه چي کړے ئي وي او په دوی باندي به

يُظْلَمُوْنَ ﴿١١١﴾ وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً

ظلم اونه کړے شي • او بيانوي الله مثال د يو کلي

كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَىِٕنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا

چې وو | په امن | اطمینان باندې | راتلو به دې ته | رزق د دې

رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ

پریمانه | د | هر | طرفه | نو دوی نا شکري اوکړه | د نعمتونو د

اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَ

الله باندې نو اوڅکوله دوی ته | الله | جامه | د لوږې | او د

الْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَ لَقَدْ

ویرې په سبب د | هغه چې دوی | جوړول • | او | تحقیق سره

جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ

راغلے وو دوی ته | پیغمبر | د دوی د جنس نه | نو دوی نسبت د دروغو اوکه هغه ته

فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَ هُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١١٣﴾

نو اونیوو دوی لره | عذاب | او | دوی وو | ظالمان (مشرکان) •

فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ص

نو خورئ | د هغه نه چې | درکړې دې تاسو ته | الله | حلال | پاک

وَّ اشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

او | شکر اوباسئ د | نعمت | د | الله | که | تاسو | خاص د الله

تَعْبُدُوْنَ ﴿١١٤﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ

عبادت کوئ • | تحقیق سره حرام کړے دے (الله) په تاسو باندې خوراک د مردارے

وَ الدَّمَ وَ لَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَ مَآ اُهِلَّ

او وینه په شربهیدونکې او | غوښه | د | خنزیر | او هغه (کلمه) چې آواز اوکړے شي

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّ

د پاره د غیر الله په هغې باندې، نو هغه څوک چې محتاج شو (خوراک د مرداري ته) نه وي نافرماني کونکے او

لَا عَادٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَ لَا

نه زياتې كونكې يقينًا الله بښونكې مهربان دے * او مه

تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ

وايئ تاسو هغه شي ته چې بيانوي ئې ژبې ستاسو دروغ

هٰذَا حَلٰلٌ وَّ هٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى

چې دا حلال دي او دا حرام دي دي د پاره چې جوړ كړئ تاسو په

اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى

الله باندې دروغ ، يقينًا هغه كسان چې جوړوي په

اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾ؕ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۪

الله باندې دروغ نه كاميابيږي * شكه ده لږه

وَّ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَ عَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا

او دوى د پاره دے عذاب دردناک * او په هغه كسانو باندې چې يهوديان دي

حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَ

بند كړي وو مونږ هغه چې بيان كړي دي مونږ تا ته مخــوا ، او

مَا ظَلَمْنٰهُمْ وَ لٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ

ظلم نه وو كړے مونږ په دوى باندې ليكن دوى په خپلو ځانونو باندې

يَظْلِمُوْنَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ

ظلم كوو * بيا يقينًا رب ستا د پاره د هغه كسانو چې

عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ

عمل كړي بد په نا پوهۍ سره بيا توبه اوباسي

بَعْدِ ذٰلِكَ وَ اَصْلَحُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ

پس د دې بد عمل نه او درست ئې كه (خپل عمل په قرآن او په سنت) يقينًا رب ستا

بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٩﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ

پس د دینه خامخا بښونکے مهربان دے ٭ یقینًا ابراهیم علیه السلام وو

اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا ؕ وَ لَمْ يَكُ مِنَ

ښودونکے د خیر عاجزي کونکے الله ته ولاړ وو په توحید ماتونکے د شرک، او نه وو د

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ؕ اِجْتَبٰهُ

مشرکانو نه ٭ شکر ېستونکے وو د نعمتونو د الله، غوره کړے وو دهٔ لره الله

وَ هَدٰىهُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٢١﴾ وَ اٰتَيْنٰهُ

او توفیق ئي ورکړے وو دهٔ ته په طرف د لارے نیغے ٭ او ورکړے وو مونږه دهٔ ته

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ؕ وَ اِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ

په دنیا کښې بهتر مقام، او یقینًا وي به دا ابراهیم علیه السلام په آخرت کښې

لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

خامخا د کامیابو خلقو نه ٭ بیا وحي اوکړه مونږه تا ته

اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَ مَا كَانَ

چې تابعدار شه ته د طریقې د ابراهیم (علیه السلام) چې ولاړ په توحید ماتونکے د شرک، او نه وو

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ

(ابراهیم علیه السلام) د مشرکانو نه ٭ یقینًا گرځولے شوي وو (بندول د ښکار د) خالي

عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَ اِنَّ رَبَّكَ

په هغه کسانو چې اختلاف ئي کړے وو په دې کښې، او یقینًا رب ستا

لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

خامخا فیصله به اوکړي په مینځ د دوی کښې په ورځ د قیامت په هغه څه کښې چې دوی

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ

په هغې کښې اختلاف کوو ٭ راغواړه (خلق) لارے (کتاب) د

رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَ الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ

رب ستا ته په علم، عمل او بيان او په پند ښائسته سره

وَ جَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ

او جګړه کوه دوی سره په هغه (استدلال د توحيد) چې هغه ښائسته ده ، يقيناً

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ

رب ستا هغه پوهه دے په هغه چا باندي چې ګمراه شو د

سَبِيْلِهٖ وَ هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَ

لاري د الله نه او دا الله پوهه دے په لار موندونکو باندي • او

اِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا

که تسبر راغے ستاسو په دوی باندي نو سزا ورکئ دوی ته په شان د هغه چې

عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ؕ وَ لَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ

زياتے شوے وو تاسو سره په هغي باندي، او که صبر اوکه تاسو خامخا دا

خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَ اصْبِرْ وَ مَا

غوره دي د پاره د صبر ناکو • او ټنګ شه (په دين د الله) او نه دے

صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَ لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

(اجر د) صبر ستا مګر الله سره او مه غمژن کيږه په دوی باندي

وَ لَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾

او مه کيږه ته په تنګستيا کښي د هغه نه چې دوی تدبيرونه کوي •

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ الَّذِيْنَ

يقيناً (مدد د) الله د هغه کسانو سره دے چې خان ساتي (د مناهيونه) او هغه کسانو سره

هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ ع

چې دوی دي نيکي کونکي (موحدين) •

آیاتها ١١١ سُوْرَةُ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ مَكِّيَّةٌ تعدادی ١٧ نزولی ٥٠ رکوعاتها ١٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سُبْحٰنَ الَّذِیْۤ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ

پاکي ده هغه ذات لره چي بوتلے تلو خپل بنده د شپے د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا

بیت الله شریف نه مسجد اقصیٰ

الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا ؕ

هغه ته چي (خیر او) برکت اچولے دے موږ گیر چاپیره د هغي نه دي د پاره چي اوښایو موږ ده ته د خپلو دلائلو نه

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ۝١ وَ اٰتَیْنَا مُوْسَی

یقینًا دا الله دے اوریدونکے لیدونکے ۔ او ورکړي وو موږ موسیٰ (علیه السلام) ته

الْكِتٰبَ وَ جَعَلْنٰهُ هُدًی لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ

کتاب (تورات) او گرځولے وو موږ ده لره لاربودونکے د پاره د بني اسرائیلو

اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَكِیْلًا ؕ ۝٢ ذُرِّیَّةَ

دا چي مه نیسئ تاسو بغیر زما نه ذمه دار ۔ (اے) اولاد د هغه

مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا

چا چي موږ سواره کړي وو د نوح علیه السلام سره ، یقینًا وو (دا نوح علیه السلام) بنده

شَكُوْرًا ۝٣ وَ قَضَیْنَاۤ اِلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ

تابعدار ۔ او فیصله کړي وه موږ بني اسرائیلو ته

فِی الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِی الْاَرْضِ مَرَّتَیْنِ

په کتاب کښي چي خامخا فساد به کوئ تاسو په زمکه کښي دوه ځله

وَ لَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِیْرًا ۝٤ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

او خامخا سرکشي به کوئ تاسو سرکشي لویه ۔ نو کله چي راغله وعده

الجزء الخامس عشر ١٥ المنزل الرابع ٤

سُوۡرَةُ الۡاِسۡرَآءِ

ربط د سورت اسراء :

{١} مخکښي سورت کښې ئې راتلل د عذاب ذکر کړل په مجرمینو باندې نو دلته مثالونه د مجرمینو سابقینو ذکر کړې.

{٢} مخکښي سورت کښې ئې عذاب دنیوي ذکر که نو دلته عذاب اخروي ذکر کړې.

{٣} مخکښي سورت کښې اثبات د توحید اوشو په ادلۀ متنوعۀ سره نو دلته واقعه د معراج ذکر کړې.

امتیازات د سورت اسراء: {١} دا سورت ممتاز دے په بیان د اسبابو د عذاب باندې.

{٢} په ٢٥ اوامر او نواهي باندې. {٣} په واقعې د اسراء باندې.

دعوی د سورت اسراء: بیان د هغه خلورو امورو چې مرتکب د هغې مستحق د عذاب ګرځي.

خلاصه د سورت اسراء :

دې سورت کښې امور اربعه ذکر کړې چې د هغې ارتکاب کونکے د عذاب مستحق ګرځي

{١} شرک مستمره سبب لنزول العذاب په دې واقعه دنوح عليه السلام ذکر کړې.

{٢} هتک د شعائر الله سبب لنزول العذاب ٥٩.

{٣} اخراج الرسل سبب لنزول العذاب آیت ٧٦.

{٤} استهزاء بالرسل سبب لنزول العذاب ١٠٣

او منکرینو د قیامت ته زجر، جواب د هغه شبهې چې واردیده په رسالت باندې آیت ٤٣ کښې او آخر کښې تخویف دنیوی ورکوی.

أُولٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُولِىْ بَأْسٍ

رومبنی(د فساد) د دې دواړو نو راولیږل مونږ په تاسو باندې بندګان زمونږ خاوندان د جنګ

شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ؕ وَ كَانَ وَعْدًا

سخت نو اوننوتل هغوي مینځ د کورونو (د بني اسرائیلو) ته او ده وعده (د الله)

مَّفْعُوْلًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَ

کیدونکې • بیا واپس راوسته مونږ تاسو له نمبر (غلبه) په دوی باندې او

أَمْدَدْنٰكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ جَعَلْنٰكُمْ

امداد اوکه مونږ ستاسو په (درکولو د) مالونو او خامنو سره او اوګرځولې مونږ تاسو

أَكْثَرَ نَفِيْرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ

زیات په نفرې کښې • که تاسو نیکي کوئ نو نیکي کوئ (فائده د نیکی ده)

لِأَنْفُسِكُمْ ۗ وَ إِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ؕ فَإِذَا جَآءَ

د پاره د نفسونو ستاسو او که بدي کوئ تاسو نو سزا ئې په دې (نفسونو ستاسو) ده،نو کله چې راشي

وَعْدُ الْاٰخِرَةِ لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ وَ

وعده روستی (د عذاب) دې د پاره چې تور کې مخونه ستاسو او

لِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوْهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ

دې د پاره چې ننه شي دوی جومات ته لکه څنګه چې ننه شوي ووردوی دیته اول ځل

وَّ لِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا ﴿٧﴾ عَسٰى رَبُّكُمْ

او دې د پاره چې هلاک کې دوی هغه چې لوئي ئې کړې وه په هلاکولو سره • زر دے رب ستاسو

أَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَ جَعَلْنَا

چې رحم به اوکې په تاسو، او که راوګرځئ تاسو (خلاف د الله ته) نو راګرځو مونږه (عذاب) ته، او ګرځولے دے مونږ

جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ﴿٨﴾ إِنَّ هٰذَا

جهنم د پاره د کافرانو جیل • یقینًا دا

الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ وَ يُبَشِّرُ

قرآن لاربنائي په طرف د هغه (مسلي) چې هغه مضبوطه ده او زيرے ورکوي

الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ

مومنانو هغه کسانو ته چې عمل کوي نيک

اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ۟ۙ﴿۹﴾ وَّ اَنَّ الَّذِيْنَ لَا

يقيناً دوی لره اجر لوئے دے * او يقيناً هغه کسان چې

يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا

ايمان نه راوړي په آخرت باندي تيار کړے دے مونږ دوی لره عذاب

ع ۱۰ اَلِيْمًا ۟﴿۱۰﴾ وَ يَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ

دردناک * او غواړي انسان عذاب په شان د غوښتو د ده

بِالْخَيْرِ ؕ وَ كَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾

فائدي لره (د پاره د خپل خان)، او دے انسان ډير تلوارکوندے *

وَ جَعَلْنَا الَّيْلَ وَ النَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ

او گرځولي دي مونږ شپه او ورځ دوه نښے تولري کړو مونږ

اٰيَةَ الَّيْلِ وَ جَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً

نښه د شپے او وگرځوو مونږ نښه د ورځے ښکاره

لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ

دي د پاره چې اولټوئ تاسو فضل د طرفه د رب ستاسو نه او دي دپاره چې پوهه شئ تاسو په شمير

السِّنِيْنَ وَ الْحِسَابَ ؕ وَ كُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ

د کلونو او په حساب باندي ، او هر يو شے واضح کړے دے مونږ دي لره

تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾ وَ كُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ

په واضح کولو سره * او هر انسان لګولي ده مونږ ده سره عمل نامه د ده

فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَ نُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا
خټ د ده کښې ، او را وبه باسو مونږ ده لره په ورځ د قیامت عمل نامه چې

يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ⑬ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ
مخامخ به شي هغې سره پرانیستې شوې * (الله به ورته اوائي) اولوله عمل نامه خپله ، کافي دے ستا نفس

الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ⑭ مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا
نن ورځ په تا باندې حساب ناک * چا چې لار اوموندہ (په ذره کولو د قرآن) پس بے شکه

يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَ مَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ
فائده ئې د خپل ځان ده او څوک چې ګمراه شو (د الله د کتاب نه) پس بے شکه (سزا د) ګمراهۍ

عَلَيْهَا ؕ وَ لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَ مَا
په ده ده ، او بار به نه کې یو بارونکے بار د بل چا (د ګناه) ، او نه

كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ⑮ وَ
یو مونږ عذاب ورکونکي (هیچ چا لره) تر دې پورې چې اولیږو مونږ پیغمبر (هغوي ته)* او

اِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا
کله چې اراده اوکوو مونږ دا چې هلاک کړو یو کلي والا نو حکم اوکو مونږ مالدارو د هغې ته (د اطاعت)

فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا
نو دوي خلاف شروع کې په دغه کلي کښې نو ثابت شي په دوي باندې حکم (د عذاب) نو هلاک کړو مونږ دې لره

تَدْمِيْرًا ⑯ وَ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ
په هلاکولو سره * او ډیر هلاک کړي دي مونږ ډیرونه

بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَ كَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ
پس د قوم د نوح (علیه السلام) نه، او کافي دے رب ستا په ګناهونو د بندګانو خپلو

خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ⑰ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ
خبر دار لیدونکے * هغه څوک چې غواړي دنیا لره (په عمل د اخرت)

عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا

نو په تلوار ورکوو موږ ده لره په دې دنيا کښې هغه چې خوښه شي زموږ د پاره د هغه چا چې اوغواړو موږ بيا به اوګرځوو موږ

لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿١٨﴾

ده لره جهنم ، چې دننه به شي هغې ته بد شوے رټلے شوے *

وَ مَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَ سَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَ هُوَ

او هغه څوک چې اراده کړي د آخرت او کوشش کړي دې لره کوشش د دې په داسې حال کښې چې ئې دے

مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿١٩﴾

مومن نو دغه کسان دے عمل د دوی قبول شوے *

كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَ هٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ

هر يو له مهلت ورکوو موږ دې (دنيا دارو) او دې (ديندارو) ته د بخشش د رب ستا نه ،

وَ مَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿٢٠﴾ اُنْظُرْ

او نه دے بخشش د رب ستا منع کړے شوے (د يو تن نه) * اوګوره

كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَ

څه رنګه غوره کړي دي موږ بعضي د دوی په بعضو باندې ، او

لَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّ اَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾

خامخا آخرت ډير لوئے دے په اعتبار د درجو او ډير لوئے دے په اعتبار د غوره والي *

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا

مه ګرځوه د الله سره مدد ګار بل کيني کيني به ته بد شوے

مَّخْذُوْلًا ﴿٢٢﴾ وَ قَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ

رسوا شوے * او فيصله کړي ده رب ستا چې عبادت به نه کوئ تاسو مګر

اِيَّاهُ وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ

د دې الله او (کوئ به) د مور او پلار سره احسان ، که اورسيږي

عِنۡدَكَ الۡكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوۡ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلۡ

تا سره بوډا والي ته يو د دي دواړو نه يا دا دواړه نو مه وايه

لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنۡهَرۡهُمَا وَ قُلۡ لَّهُمَا قَوۡلًا

دي دواړو ته اف قدري (خبره د خفګان) او مه رټه دي دواړو لره او وايه دي دواړو ته وينا

كَرِيۡمًا ﴿۲۳﴾ وَ اخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ

د عزت • او ښكته كه دي دواړو ته وزري د نرمی يعني د

الرَّحۡمَةِ وَ قُلۡ رَّبِّ ارۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيۡ

مهرباني او اووايه اے زما ربه رحم اوكې په دي دواړو باندي لكه څنګه چي پاللے وو دي دواړو ما لره

صَغِيۡرًا ﴿۲۴﴾ رَبُّكُمۡ اَعۡلَمُ بِمَا فِيۡ نُفُوۡسِكُمۡ ؕ

ماشوم • رب ستاسو پوهه دے په هغه چي زړونو ستاسو كښي دي،

اِنۡ تَكُوۡنُوۡا صٰلِحِيۡنَ فَاِنَّهٗ كَانَ لِلۡاَوَّابِيۡنَ

كه شئ تاسو نيكان پس يقينًا دا الله دے د پاره د راګرځيدونكو

غَفُوۡرًا ﴿۲۵﴾ وَ اٰتِ ذَا الۡقُرۡبٰى حَقَّهٗ وَ الۡمِسۡكِيۡنَ

ښښونكے • او وركه خاوند د خپلولي ته حق د هغه او مسكين

وَ ابۡنَ السَّبِيۡلِ وَ لَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيۡرًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ

او مسافر ته او فضول خرچي مه كوه په فضول خرچي كولو سره • يقينًا

الۡمُبَذِّرِيۡنَ كَانُوۡۤا اِخۡوَانَ الشَّيٰطِيۡنِ ؕ وَ كَانَ

فضول خرچي كونكي دي دوی رونړه د شيطانانو، او دے

الشَّيۡطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوۡرًا ﴿۲۷﴾ وَ اِمَّا تُعۡرِضَنَّ

شيطان د خپل رب نه منكر • او كه ته مخ واړوے

عَنۡهُمُ ابۡتِغَآءَ رَحۡمَةٍ مِّنۡ رَّبِّكَ تَرۡجُوۡهَا

د دوی نه د پاره د لټولو د مهرباني د رب ستا چي ته اميد ساتې د هغې

فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ وَ لَا تَجْعَلْ

نو وايه ذوی ته وینا نرمه * او مه گرځوه

يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ وَ لَا تَبْسُطْهَا

لاس خپل تړلے شوے څټ ستا سره او مه پراخه کوه دي لره

كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾ اِنَّ

په پوره پراخه کولو سره کيني کيني به ته ملامته شوے تاواني * يقيناً

رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ ؕ

رب ستا پراخه کئ رزق چا لره ني چي خوښه شي او تنگئ (رزق) .

۳/۴

اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۳۰﴾ وَ لَا

يقيناً دا الله په خپلو بندگانو باندي خبر دار ليدونکے دے * او مه

تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ

وژنئ اولاد خپل د ويري د لوږي نه ، مونږ

نَرْزُقُهُمْ وَ اِيَّاكُمْ ؕ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً

رزق ورکوو دوی ته او خاص تاسو ته ، يقيناً قتل د دوی دے گناه

كَبِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَ لَا تَقْرَبُوا الزِّنٰۤى اِنَّهٗ كَانَ

لوئي * او مه نږدي کيږئ زنا ته يقيناً دے دا کار

فَاحِشَةً ؕ وَ سَآءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾ وَ لَا تَقْتُلُوا

د بے حيايي ، او ډيره بده لار ده * او مه وژنئ

النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَ

نفس هغه چي حرام کړے دے الله (قتل د هغي) مگر په قانون شرعي ، او

مَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ

څوک چي اوژلے شو په ظلم او زياتي نو تحقيق سره گرځولے دے مونږ وارث د ده د لره

سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

دلیل(اختیار) نو زیاتے دي نه کوي په قتل کښې ، یقینًا دے دا (مقتول)

مَنْصُوْرًا ﴿٣٣﴾ وَ لَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا

امداد کړے شوے (د طرفه د شرع نه) * او مه نزدې کیږئ مال د یتیم ته مګر

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَ

په هغه طریقه چې هغه ښائسته ده تر دې پورې چې اورسیږي مضبوطیا د عمر(ځواني) ته او

اَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٤﴾

پوره والے کوئ د وعدې ، یقینًا وعده دے د دې تپوس کیدونکے *

وَ اَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ وَ زِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ

او پوره ورکوئ پیمانه کله چې پیمانه کوئ تاسو او تول کوئ په ډنډۍ

الْمُسْتَقِيْمِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿٣٥﴾

نیغه باندې ، دا (کار) غوره دے او ښائسته دے په اعتبار د انجام *

وَ لَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ

او تابعداري مه کوه د هغه چې نه وي تا لره په هغې باندې څه پوهه ، یقینًا

السَّمْعَ وَ الْبَصَرَ وَ الْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ

غوږونه او سترګې او زړه دغه ټول څیزونه دے

عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٦﴾ وَ لَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ

د دې باره کښې تپوس کیدونکے * او مه ګرځه په زمکه کښې

مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَ لَنْ

مست مست ، یقینًا ته چرې نه شې شلولے زمکه او چرې نه شې

تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ

رسیدلے غرونو ته په اوږد والي کښې * دغه ټول کارونه ده بدي د دې

عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى

په نزد د رب ستا نا پسند • دا د هغه وحي نه جي وحي كړي ده

اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَ لَا تَجْعَلْ مَعَ

تا ته رب ستا د عقل مندۍ نه ، او مه كرځوه د

اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا

الله سره مدد گار بل كني اوبه غورځولے شي په جهنم كښي ملامته شوے

مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾ اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ

رټلے شوے • آيا غوره كړي يې تاسو رب ستاسو په ځامنو باندي

وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ

او نيولے ئي دي (ځان له) د فرشتو نه جينكۍ ، يقينًا تاسو خامخا وايئ

قَوْلًا عَظِيْمًا ﴿٤٠﴾ وَ لَقَدْ صَرَّفْنَا فِىْ هٰذَا

وينا لويه (د دروغو) • او تحقيق سره واضح بيان كړي دي مونږ په دي

الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوْا ؕ وَ مَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا

قران كښي (هرقسمه دلائل) دي د پاره چي پند واخلي دوی ، او نه زياتي (قرآن) دوی له مګر

نُفُوْرًا ﴿٤١﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا

نفرت (د مسئلي نه) • او وايه كه وے الله سره نور مددګاران لكه څنګه چي

يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ

وائي دوی په دغه وخت كښي خامخا دوی به لټولے وه مالک د عرش ته

سَبِيْلًا ﴿٤٢﴾ سُبْحٰنَهٗ وَ تَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ

لار (د غلبي) • پاک دے الله (د حصه دارانو نه) او اوچت دے د هغه څه نه چي وائي دوی

عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَ

په اوچت والي لوئے سره • پاكي بيانوي الله لره آسمانونه اووه او

الْاَرْضُ وَ مَنْ فِیْهِنَّ ؕ وَ اِنْ مِّنْ شَیْءٍ

زمکي او هغه مخلوقات چي دي کښي دي ، او نشته هیڅ یو شے (په دنیا کښي)

اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَ لٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ

مګر پاکي بیاني (د الله) د حمد و ثنا د الله سره لیکن تاسو نه پوهیږئ

تَسْبِیْحَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِیْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۴﴾ وَ

په پاکي بیانولو د دوی ، یقینًا دے (الله) صبر ناک ښښونکے • او

اِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَیْنَكَ وَ بَیْنَ

کله چي لولې ته قرآن نو ګرځوو مونږ په مینځ ستا او په مینځ د

الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا

هغه کسانو کښي چي ایمان نه راوړي په آخرت باندي پرده

مَّسْتُوْرًا ﴿۴۵﴾ وَّ جَعَلْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

پټه (د ګناه) • او ګرځولي دي مونږ په زړونو د دوی باندي پردے

اَنْ یَّفْقَهُوْهُ وَ فِیْۤ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَ اِذَا

چي پوهه نشي دوی په دي (قرآن) او په غوږونو د دوی کښي دے درونډ والے ، او کله چي

ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِی الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا

یاد کې ته رب ستا په قرآن کښي یکي یو نو اوړي دوی

عَلٰۤی اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ﴿۴۶﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا

په شاګانو خپلو باندي نفرت کونکي • مونږ پوهه یو په هغه چي

یَسْتَمِعُوْنَ بِهٖۤ اِذْ یَسْتَمِعُوْنَ اِلَیْكَ وَ اِذْ

غوږ ایږدي دوی هغي سره کله چي دوی غوږ ایږدي تا ته او کله چي

هُمْ نَجْوٰۤی اِذْ یَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ

دوی جرګه کونکي وي او کله چي وائي ظالمان تابعداري نه کوئ تاسو

اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿٤٧﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا

مکر د يو سړي جادوګر (مفعول بمعني فاعل) ٭ اوګوره څه رنګه بياني دوی

لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

تا لره مثالونه نو ګمراه شو دوی نو طاقت نه لري

سَبِيْلًا ﴿٤٨﴾ وَ قَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّ رُفَاتًا

د صحيح لاري ٭او وائي دوی ايا کله چي شو موږ هډوکي او ذره ذره

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿٤٩﴾ قُلْ كُوْنُوْا

ايا موږ خامخا پورته به کړے شو په پيدائش نوي سره ٭ اووايه شئ تاسو

حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ﴿٥٠﴾ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ

کاڼړي يا اوسپنه ٭ يا په بل پيدائش کښي د هغه څه نه چي لوئے لګي په

صُدُوْرِكُمْ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ مَنْ يُّعِيْدُنَا ۭ قُلِ

سينو ستاسو کښي نو زر دے چي وائي به دوی څوک دے چي واپس به کړي موږ لره ، اووايه

الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُوْنَ

هغه ذات چي پيدا کړي ئي يئ تاسو اول ځل ، نو زر دے چي ړکی به دوی

اِلَيْكَ رُءُوْسَهُمْ وَ يَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ۭ قُلْ

تا ته سرونه خپل او وائي به دوی کله به وی دا (قيامت) ، اووايه

عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ﴿٥١﴾ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ

زر دے چي شي به (دا قيامت) نزدې ٭ په هغه ورځ باندي چي راغواړي به تاسو لره

فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَ تَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ

نو تاسو به قبولوالے کوئ (د الله) په ستائنه د هغه به لګيا يئ او تاسو به ګمان کوئ چي وخت نه وو تېر کړے تاسو

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٥٢﴾ وَ قُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ

مکر لږ ٭ او اووايه زما بندګانو ته چي اوائي هغه وينا

هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ

جې هغه ډېره ښائسته دے ، يقينًا شيطان وسوسې اچي په مينځ د دوی کښې ،

اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۵۳﴾

يقينًا شيطان دے د پاره د انسان دشمن ښکاره *

رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ؕ اِنْ يَّشَاْ يَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ

رب ستاسو پوهه دے په تاسو باندې ، که اوغواړي رحم به اوکړي په تاسو باندې او که

يَّشَاْ يُعَذِّبْكُمْ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۵۴﴾

اوغواړي عذاب به درکړي تاسو ته ، او نه دے رالیږلے مونږ تا لره په دوی باندې ذمه دار *

وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ

او رب ستا پوهه دے په هغه چا باندې چې دي په آسمانونو او ښکته زمکو کښې دي ،

وَ لَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ

او تحقيق سره غوره کړي دي مونږ بعضي پيغمبران په بعضو باندې

وَّ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ

او ورکړے وو مونږ داؤد (علیه السلام) ته زبور کتاب* اووايه راوبلئ هغه کسان

زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ

چې گمان پې کوئ تاسو (د الهٔ) سیوا د الله نه دوی واکدار ندي د لرے کولو د

الضُّرِّ عَنْكُمْ وَ لَا تَحْوِيْلًا ﴿۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

د تکليف ستاسو نه او نه د اړولو * دغه کسان چې دي

يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ

رامدد کې (الله لره) لټئ خپل رب ته نزدیکت (په نيکو اعمالو) چې کوم يو د دوی نه

اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ

نزدې دے (الله ته) او اميد ساتي د مهربانۍ د الله او يريږي د عذاب د الله نه ،

اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿٥٧﴾ وَ اِنْ

يقينًا عذاب د رب ستا دے بیرولولے شوے (د دي نه خلق) • او نشتے

مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ

هیڅ یو کلي واله مګر موږ هلاکونکي يو هغي لره مخکښې د ورځې د

الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

قیامت نه یا عذاب ورکونکي یو دوی ته عذاب سخت ،

كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٥٨﴾ وَ مَا

ده دا خبره په کتاب کښې لیکلے شوي • او ندي

مَنَعَنَاۤ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّاۤ اَنْ كَذَّبَ

منع کړي موږ لره چې راولیږو موږ معجزي مګر دا چې نسبت د دروغو کړے وو

بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ وَ اٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً

دي ته پرومینو ، او ورکړي وه موږ ثمودیانو ته اوښه سامره ښکاره

فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَ مَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا

نو دوی ظلم اوکه په دي باندي ، او نه رالیږلي موږ معجزي مګر

تَخْوِيْفًا ﴿٥٩﴾ وَ اِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ

د پاره د یرولو • او کله چې اوئیل موږ تا ته یقینًا رب ستا احاطه کړي ده

بِالنَّاسِ ؕ وَ مَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْۤ اَرَيْنٰكَ

په ميلمستيا کښې* هميشه به وي دوی به دې کښې نه به لټی دوی د دې نه

حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ

اوړېدل ۔ اووايه كه شي دريابونه سياهي د پاره د ليكلو د صفاتو د

رَبِّيْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ

رب زما نو خامخا ختم به شي دريابونه مخكښي د ختميدو د صفاتو د رب زما نه

وَ لَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ

اګر كه راوړو مونږ په شان د دي نوره سياهي ۔ اووايه يقينًا زه بنده يم

مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ

په شان ستاسو وحي كولے شي ما ته د دي خبري چي يقينًا حاجت روا ستاسو حاجت روا دے يكي يو:

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا

پس هغه څوک چي اميد ساتي د ملاقات د خپل رب نو عمل دي اوكړي عمل

صَالِحًا وَّ لَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿١١٠﴾

نيک او نه دي حصه دار كوي په عبادت د خپل رب كښي يو تن (هيچ څا) لره ۔

سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ ۔ اٰيَاتُهَا ٩٨ ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۔ تدوين ١٩ ۔ نزول ٤٤ ۔ رُكُوْعَاتُهَا ٦

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ

الله پوهيږي په معني د دي حروفو ۔ دا بيان د رحمت د رب ستا دے په بنده خپل

زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ

زكريا (عليه السلام) باندي ۔ كله چي آواز (عاجزي) ئي اوكه خپل رب ته آواز په رو باندي ۔ اوئيل ده

رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَ اشْتَعَلَ

اے زما ربه يقينًا زه چي يم كمزوري شوي دي هډوكي زما او ګرځيدلے دے

الرَّاْسُ شَيْبًا وَّ لَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ

سر زما تک سپين د وجي د بوډا والي نه او نه يم زه په بلني ستا باندي اے زما ربه

سُورَةُ مَرْيَمَ

ربط د سورت مریم :

(۱) ماقبل آیت ۳۶ کښې د باغ والا قول ذکر که نو دلته آیت ٦٦ کښې زجر بانکار القیامة دے .

(۲) ماقبل کښې ئې نفي د شرک في العلم اوکړه ، نو دلته نفي د شرک في الدعاء کړې .

(۳) ماقبل کښې ئې عاجزي د انبیاء علیهم السلام او د اولیاء کرامو ذکر کړه نو دلته د انبیاء علیهم السلام او د ملائکو عاجزي ذکر کړې .

امتیازات د سورت مریم :

(۱) دا سورت ممتاز دے په تفصیلي واقعي د حضرت مریم باندي .

(۲) په خصوصي نصیحت د ابراهیم علیه السلام باندي خپل پلار ته .

(۳) په خصوصي حالت د ادریس علیه السلام باندي .

دعوی د سورت مریم :

عاجزي د څنړ شوي مخلوقات یعني د انبیاء علیهم السلام او د ملائکو .

خلاصة د سورت مریم : دا سورت دوه حصي دے .

اوله حصه د آیت ۱ نه تر ٦۳ پوري دي کښې عجز (عاجزي) د انبیاء علیهم السلام او د حضرت مریم ذکر کړې .

دویمه حصه آیت ٦٤ نه تر آخره پوري .

په دي کښې عاجزي د ملائکو ذکر کړې او خلاصه د سورت آیت ٦٥ کښې راوباسي .

شَقِيًّا ۝٤ وَ اِنِّىْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِىْ

نا امید • او یقینا زه یریږم د وارثانو نه روستو زما نه (چې دوی به دین ضائع کې)

وَ كَانَتِ امْرَاَتِىْ عَاقِرًا فَهَبْ لِىْ مِنْ لَّدُنْكَ

او ده ښځه زما شنډه نو اوبښې ما ته د طرفه خپل نه

وَلِيًّا ۝٥ يَّرِثُنِىْ وَ يَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ

دوست • میراث ووسي زما نه او میراث اوړي د آل د یعقوب (علیه السلام) نه ،

وَ اجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝٦ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ

او اوګرځوي ده لره اے زما ربه پسند • اے زکریا (علیه السلام) یقینا مونږ زیرے درکوو تا ته

بِغُلٰمِ ۨاسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ

په یو هلک چې نوم د هغه به یحیٰ وي ، او نه دے ګرځولے مونږ ده لره مخکښې د ده نه

سَمِيًّا ۝٧ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِىْ غُلٰمٌ وَّ

څوک هم نام/ مثل • نو اوویل زکریا علیه السلام اے زما ربه څنګه (په کوم کیفیت) به شي ما لره بچے او

كَانَتِ امْرَاَتِىْ عَاقِرًا وَّ قَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ

ده ښځه زما شنډه او تحقیق سره رسیدلے یم زه د بوډا والي

عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ

انتهاء ته • اوویل (فرښتې) دارنګې به ئې ته وئیلې دي رب ستا دا (کار) دے په ما باندې

هَيِّنٌ وَّ قَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَ لَمْ تَكُ

آسان او تحقیق سره ما پیدا کړے دے تا لره مخوا او نه وې ته

شَيْـًٔا ۝٩ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّىْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ

هیڅ شے • اوویل (زکریا علیه السلام) اے زما ربه اوګرځوي ما لره نښه ، اوویل (فرښتې)

اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠

نښه ستا به دا وي چې خبرې به نشي کولے د خلقو سره درے شپے (او ورځے) برابر •

فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰٓى
راووته زكريا (عليه السلام) په خپل قوم باندې د كوټكۍ نه نو اشاره ئې اوكړه

اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّ عَشِيًّا ﴿۱۱﴾ يٰيَحْيٰى
دوى ته دا چې پاكي بيانوئ (د الله) صبا او بيګا ۰ اے يحيٰ

خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿۱۲﴾
واخله كتاب كلك (په مضبوطيا) او وركړے وه مونږ ده ته عقلمندي په ماشوموالي كښې ۰

وَّ حَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَ زَكٰوةً ؕ وَ كَانَ تَقِيًّا ﴿۱۳﴾
او ډير مهربان وو د طرفه زمونږ نه او پاك باز وو، او وو دے پرهيزګار ۰

وَّبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾ وَ سَلٰمٌ
او نيكي كوونكے وو د مور او پلار سره او نه وو دے سخت نافرمان ۰ او سلامتيا وه

عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَ يَوْمَ يَمُوْتُ وَ يَوْمَ يُبْعَثُ
په ده باندې په هغه ورځ چې اوزيږولے شو دے او په هغه ورځ چې مړ به شي او په هغه ورځ چې راپورته به كړے شي

حَيًّا ﴿۱۵﴾ وَاذْكُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ
ژوندے ۰ او بيان كه په كتاب كښې (واقعه د بي بي) مريم، كله چې دا په ډډه شوه

مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿۱۶﴾ فَاتَّخَذَتْ مِنْ
د خپل كور والو نه خائے مشرقي طرف ته ۰ نو اونيوله دې

دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۫ فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوْحَنَا
آخوا د دوى نه پرده نو راوليږله مونږ دې ته فرشته زمونږ

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿۱۷﴾ قَالَتْ اِنِّىْٓ اَعُوْذُ
نو جوړه شوه دې ته بنده برابر ۰ اوئيل دې يقينًا زه پناه غواړم

بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ﴿۱۸﴾ قَالَ اِنَّمَآ
په مهربان ذات سره ستا نه كه ئې ته پرهيزګار (۱) ۰ اوئيل (جبرئيل آمين) يقينًا

(۱) نو ما ته ضرر مه رسوه

اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

زه استازے د رب ستا يم ،(راغلے يم)دې د پاره چې درکم تا ته (په حکم د الله) بچے پاک *

قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّ لَمْ يَمْسَسْنِيْ

اوئيل دې څه رنګه به شي ما لره بچے او کوټې نه دې راوړې ما لره (١)

بَشَرٌ وَّ لَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ

يو بنده (په نکاح باندې) او نه يم زه کنجرې (بدکاره)* اوئيل (فرشتې) دارنګې به ئي ته وئيلي دي رب ستا

هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَ لِنَجْعَلَهٗۤ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَ

دا کار په ما باندې آسان دے ، او دې د پاره چې اوګرځوو ده لره نښه د عبرت د پاره د خلقو او

رَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَ كَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتْهُ

رحمت زمونږ د طرف نه ، او دے کار(حکم د الله)پوره شوے * نو دې بار که دې بچي لره

فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا

نو لاړه دا په دې (حمل) سره ځائے لرې ته (د خپل قوم نه) * نو راوسته دې لره

الْمَخَاضُ اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ

درد د پيدائش د بچي په طرف د ځانګې د کهجورې ، اوئيل دې هائے افسوس دے ما لره

مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَ كُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰىهَا

چې زه مړه وے مخکښې د دې نه او وے زه هيره تيره *نو آواز ئي اوکه دې ته (جبريل امين)

مِنْ تَحْتِهَاۤ اَلَّا تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ

د خوا د دې نه (اي من قربها) دا چې مه خفه کيږه تحقيق سره ګرځولے ده ستا رب نزدې ستا

سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَ هُزِّيْۤ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ

چينه * او رابښکته که خان ته ځانګه د کهجورې

تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِيْ وَ اشْرَبِيْ

راغورځے به ته په تا باندې کهجورې تازه تازه * نو خوره(دغه کهجورې)او څکه(دغه اوبه)

(١) له دے ملاو شوے ما سره.

وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ

او يخوه ستركي خپلي (په بچي باندي) ، نو كه ته اوويني د انسانانو يو تن ،

فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ

نو ووايه يقينًا ما منخته كړي ده د پاره د مهربان بادشاه د روژي نو هيڅ كله به

اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ؕ

خبري نه كوم نن ورځ د هيڅ يو انسان سره • نو راغله دا دي بچي سره خپل قوم ته چي لاس كښي ئي لوبوو ده لره

قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يٰٓاُخْتَ

اوئيل دوى اے مريم تحقيق سره تا راتلل اوكړل يو شي نا كاره ته • اے خور د

هٰرُوْنَ مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ وَّ مَا كَانَتْ

هارون نه وو پلار ستا سړے بد او نه وه

اُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ ؕ قَالُوْا كَيْفَ

مور ستا كنجرى • نو دي اشاره اوكړه دي بچي ته ، نو دوئي اوئيل څه رنګه به

نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ اِنِّيْ

موږ خبري اوكو د هغه چا سره چي دے په زانګو كښي ماشوم • اوئيل (عيسىٰ عليه السلام) يقينًا زه

عَبْدُ اللّٰهِ ؕ اٰتٰىنِيَ الْكِتٰبَ وَ جَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿٣٠﴾

بنده د الله يم ، راپه كړي ما ته كتاب او ګرځولے ئي دے ما لره پيغمبر •

وَّ جَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ وَ اَوْصٰنِيْ

او ګرځولے ئي دے ما لره بركت والا (خودونكے د خير خلقو ته) كوم ځائے چي يم زه او حكم ئي كړے دے ما ته

بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَّ بَرًّا

په عبادت بدني او په عبادت مالي باندي تر څو پوري چي يم زه ژوندے • او نيكي كونكے

بِوَالِدَتِيْ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَ السَّلٰمُ

د خپلي مور سره او نه ئي دے ګرځولے ما لره سخت نافرمان • او سلامتيا وه

عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَ يَوْمَ اَمُوْتُ وَ يَوْمَ اُبْعَثُ

په ما باندي په هغه ورځ چي زه پيدا شوم او په هغه ورځ چي زه به مړ شم او په هغه ورځ چي زه به پورته کړے شم

حَيًّا ﴿۳۳﴾ ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ

ژوندے • دا بيان دے د عيسی (عليه السلام) زوے د مريم ، وينا حقه

الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۳۴﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ يَّتَّخِذَ

هغه چي دي کښي دوی شک کړي • ندي مناسب الله لره دا چي اونيسي

مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ اِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ

ځان لره څوک نائب ، پاک دے الله (د نائبانو نه)، کله چي فيصله اوکړي د يو کار نو يقينًا وائي

لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۳۵﴾ وَ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَ رَبُّكُمْ

هغې ته موجود شه نو موجود شي • او يقينًا الله رب زما او رب ستاسو دے

فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخْتَلَفَ

نو عبادت کوئ د دي(الله)، دا ده لاره نيغه • نو خلاف اوکه

الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ډلو په خپل مينځ کښي(۱) ، نو هلاکت دے د پاره د هغه کسانو چي کفر ئي کړے دے

مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۳۷﴾ اَسْمِعْ بِهِمْ وَ اَبْصِرْ ۙ

د پيشئ د ورځي لوئي نه • څه ښه اوريدونکے دے الله دوی لره او څه ښه ليدونکے دے

يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ

په هغه ورځ باندي چي رابه شي دوی مونږ ته ليکن ظالمان نن ورځي په ګمراهئ

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ

ښکاره کښي دي • او اويروه دوی لره د ورځے د افسوس نه کله چي فيصله اوکړے شي

الْاَمْرُ ۘ وَ هُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّ هُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾

د کار ، او دوی دي په نا خبرئ کښي او دوی ايمان نه راوړي •

(۱) يعني د عيسی عليه السلام په

إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا

يقينًا مونږ اخلو زمکې لره په ميراث کښې او هغه خوک چې په دې زمکه باندې دي او مونږ ته

يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِبْرٰهِيمَ ۚ إِنَّهُ

به دوی واپس کړے شي* او بيان که په کتاب کښې (واقعه د) ابراهيم (عليه السلام)، يقينًا دے

كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يٰٓأَبَتِ

ور رشتينے پيغمبر * کله چې اوئيل ده خپل پلار ته اے زما پلاره

لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي

ولې ته بندګي کوې د هغه چې نه اورې او نه وينې او نه فائده درکولے شي

عَنكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدْ جَآءَنِي مِنَ

تا ته د څه شي * اے پلاره زما يقينًا زه تحقيق سره راغلے دے ما ته د

الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِيٓ أَهْدِكَ صِرَاطًا

پوهې نه هغه چې ندے راغلے تا ته نو ما پسې روان شه زه به اوښايم تا ته لاره

سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ۖ إِنَّ الشَّيْطٰنَ

برابره * اے پلاره زما عبادت مه کوه د شيطان، يقينًا شيطان

كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ

دے د مهربان بادشاه نافرمان * اے پلاره زما يقينًا زه يريږم

أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُونَ

دا چې اوبه رسيږي تا ته عذاب د طرفه مهربان بادشاه نه نو شې به ته

لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ

د پاره د شيطان دوست * اوئيل (آذر آيا بے مينې کيږې ته) يا اوړيدونکے ئې ته د

اٰلِهَتِي يٰٓإِبْرٰهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ

آلهو زما نه اے ابراهيم (عليه السلام)، که ته منع نه شوې خامخا اوبه ولم تا لره په ګټو باندې

وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ۚ سَاَسْتَغْفِرُ
څه روک شه زما د مخې نه ډیره زمانه * اوئیل (ابراهیم علیه السلام) سلام (دې تاباندې) دے په تا زر دے چې بښنه به اوغواړم زه
لَكَ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَ اَعْتَزِلُكُمْ
تا لره د خپل رب نه، یقینًا دا الله دے په ما باندې مهربان * او زه به جدا شم ستاسو نه
وَ مَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَ اَدْعُوْا رَبِّيْ ۫ۖ
او د هغه نه چې رامدد کوئ یې تاسو سیوا د الله نه او زه رامدد کوم خپل رب
عَسٰۤى اَلَّاۤ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا
زر دے چې نه به شم زه په بلنه د رب خپل نا امید * نو هر کله چې
اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا
جدا شو د دوی نه او د هغه نه چې دوی عبادت کولو سیوا د الله نه او بښنه مونږ
لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ ؕ وَ كُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَ
ده ته اسحاق (علیه السلام) او یعقوب (علیه السلام)، او هر یو گرځولے وو مونږ پیغمبر * او
وَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَ جَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ
او او بښلو مونږ دوی ته د رحمت خپل نه او گرځولې وه مونږ دوی لره ژبه د
صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ وَ اذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰۤى ۫ اِنَّهٗ
رشتیاو اوچته * او یاد کړه په قرآن کښې واقعه د موسی (علیه السلام) یقینًا شان دا دے
كَانَ مُخْلَصًا وَّ كَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾ وَ نَادَيْنٰهُ
وو دے چونړ کړے شوے او وو دے لیږلے شوے پیغمبر * او آواز اوکړو مونږ ده ته
مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَ قَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾
د طرفه د کوه طور ښي نه او نژدې کړے وو مونږ ده لره رازدار *
وَ وَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَاۤ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾
او او بښلو مونږ ده ته د مهربانۍ خپلې نه رور د ده هارون (علیه السلام) پیغمبر *

وَ اذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ اِسۡمٰعِيۡلَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ
او یاد که په قرآن کښي (واقعه د) اسماعیل (علیه السلام) یقیناً دے وو رشتینے
الۡوَعۡدِ وَ كَانَ رَسُوۡلًا نَّبِيًّا ۚ﴿۵۴﴾ وَ كَانَ يَاۡمُرُ
د وعدے او وو دے لیږلے شوے پیغمبر * او وو دے چي حکم به ئي کولو
اَهۡلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ وَ كَانَ عِنۡدَ رَبِّهٖ
اهل خپل ته په عبادت بدني او په عبادت مالي سره او وو دے په نزد د رب خپل
مَرۡضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَ اذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ اِدۡرِيۡسَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ
پسند * او یاد کړه په قرآن کښي واقعه د ادریس (علیه السلام) یقیناً دے وو
صِدِّيۡقًا نَّبِيًّا ۖ﴿۵۶﴾ وَّ رَفَعۡنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ اُولٰٓئِكَ
ریشتینے پیغمبر * او پورته کړے وو موږ ده لره درجے اوچتے ته * دغه
الَّذِيۡنَ اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنۡ
هغه کسان دي چي احسان کړے دے الله په دوی باندي د پیغمبرانو نه د
ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَ مِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوۡحٍ ۫ وَّ مِنۡ
اولاد د آدم (علیه السلام) نه، او د هغه چا نه چي سواره کړي وو موږ نوح (علیه السلام) سره او د
ذُرِّيَّةِ اِبۡرٰهِيۡمَ وَ اِسۡرَآءِيۡلَ وَ مِمَّنۡ هَدَيۡنَا
اولاد د ابراهیم (علیه السلام) او د یعقوب (علیه السلام) نه او د هغه چا نه چي مضبوط کړي وو موږ هغوی لره (په توحید)
وَ اجۡتَبَيۡنَا ؕ اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُ الرَّحۡمٰنِ
او غوره کړي وو موږ ، کله چي لوستلے به شو په دوی باندي آیاتونه د مهربان ذات
خَرُّوۡا سُجَّدًا وَّ بُكِيًّا ﴿۵۸﴾ فَخَلَفَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ
نو پریوتل به سجده کونکي او ژړیدونکي (الله ته)* نو پاتي شو پس د دوی نه
خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ
نا اهل خلق برباده ئي کړه بلنه د الله او تابع شو دوی د خواهشاتو

السجدة

فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ اِلَّا مَنۡ تَابَ وَ اٰمَنَ

نور زر دے چې اوبه غور خیږي دوی سخت مقام ته * مګر چا چې توبه اوویسته او ایمان ئې راوړو

وَ عَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ

او عمل ئې اوکه نیک نو دغه کسان دننه به شي جنّت ته

وَ لَا يُظۡلَمُوۡنَ شَيۡـًٔا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدۡنِ ۨالَّتِىۡ وَعَدَ

او به دوی به ظلم او نه کړے شي ذره بر * جنتونو د همیشګیرۍ هغه جنتونو ته چې وعده کړې ده

الرَّحۡمٰنُ عِبَادَهٗ بِالۡغَيۡبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ وَعۡدُهٗ

مهربان بادشاه د خپلو بندګانو سره د نهٔ لیدو ، یقیناً شان دا دے ده وعده د الله

مَاۡتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسۡمَعُوۡنَ فِيۡهَا لَغۡوًا اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَ لَهُمۡ

راتلونکي * نه به اوري دوی به دې کښې عبث خبره مګر سلام سلام ، او دوی لره به

رِزۡقُهُمۡ فِيۡهَا بُكۡرَةً وَّ عَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلۡكَ الۡجَنَّةُ الَّتِىۡ

رزق د دوی وي په دې کښې صبا او بیګا * دا جنت هغه دے چې

نُوۡرِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَنۡ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَ مَا

چې میراث کښې ورکو موږ خپلو بندګانو ته هغه چا ته چې وي پرهیزګار * او نه

نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمۡرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡنَا

راکوزیږو موږ (۱) مګر په حکم د رب ستا ده (الله) لره اختیار د هغه څه دے چې مخکښې زموږ نه دي

وَ مَا خَلۡفَنَا وَ مَا بَيۡنَ ذٰلِكَ ۚ وَ مَا كَانَ رَبُّكَ

او هغه چې روستو زموږ نه دي او هغه چې په مینځ د دې کښې دي ، او نه دے رب ستا

نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا بَيۡنَهُمَا

هیرونکے (چا لره) * مالک د آسمانونو او د زمکو دے او د هغه چې په مینځ د دې دواړو کښې دي

فَاعۡبُدۡهُ وَ اصۡطَبِرۡ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهٗ

نو عبادت کوه د الله او ښه کلک شه په عبادت د الله باندې ، آیا تهٔ پیژنې دې الله لره

(۱) [illegible]

سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ

څوک همنام * او وائي انسان (کافر) آیا کله چې زه مړ شم نو خامخا زر دے چې

اُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ

راوبه یستلے شم زه ژوندے * آیا نه یادوی انسان چې یقیناً مونږ پیدا کړے وو ده لره

مِنْ قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ

پخوا او نه وو دے هیڅ شے * نو قسم مې دې وي په رب ستا باندې

لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ

خامخا راپورته به کړو مونږ دوی لره او شیطانان لره بیا خامخا حاضر به کړو مونږ دوی لره

حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ

گیر چاپیره د جهنّم نه پرمخې * بیا خامخا راپورته به کړو مونږ د هر یوې

شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ

ډلې نه چې کوم یو د دوی نه ډیر سخت دے په مهربان بادشاه باندې د نا فرمانۍ * بیا

لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ هُمْ اَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

خامخا مونږ پوهه یو په هغه کسانو باندې چې هغوی ډیر لائق دي دې جهنم ته د ننه کیدلو *

وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا

او نیشتے هیڅ یو تن ستاسو نه مګر تیریدونکے دے په دې (پل صراط)، دا په رب ستا باندې مضبوطه

مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ

فیصله شوې * بیا به خلاص که مونږ هغه کسان چې ځان ئې ساتلے وو (د شرک نه) او پریږدو به مونږ

الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

ظالمان په دې کښې پرمخې * او کله چې لوستلے شي په دوی باندې آیتونه زمونږ

بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

ښکاره وائي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے هغه کسانو ته چې ایمان ئې راوړے دے

اَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ خَیۡرٌ مَّقَامًا وَّ اَحۡسَنُ نَدِیًّا ﴿۷۳﴾
(چي) كومه يوه ډله د دوو ډلو نه غوره ده د اوسيدو او ښائسته ده د مجلس ٠

وَ کَمۡ اَهۡلَکۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ قَرۡنٍ هُمۡ اَحۡسَنُ
او ډير هلاک كړي دي مونږ مخكښي د دوی نه د پيړو نه چي هغوي ښائسته وو

اَثَاثًا وَّ رِءۡیًا ﴿۷۴﴾ قُلۡ مَنۡ کَانَ فِی الضَّلٰلَةِ
په اعتبار د سامان د كور او په اعتبار د زينت ٠ او وايه هغه څوک چي وي په گمراهۍ كښي

فَلۡیَمۡدُدۡ لَهُ الرَّحۡمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰۤی اِذَا رَاَوۡا
نو مهلت وركړي ده له مهربان بادشاه مهلت ، تر دي چي كله اويني دوی

مَا یُوۡعَدُوۡنَ اِمَّا الۡعَذَابَ وَ اِمَّا السَّاعَةَ ؕ
هغه چي دوی سره ئي وعده كولے شي يا عذاب لره او يا قيامت لره ،

فَسَیَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ هُوَ شَرٌّ مَّکَانًا وَّ اَضۡعَفُ
نو زر دے چي او به پيژني دوی هغه څوک چي هغه وو بد تر د درجي او كمزورے

جُنۡدًا ﴿۷۵﴾ وَ یَزِیۡدُ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ اهۡتَدَوۡا هُدًی ؕ
د لښكر ٠ او زياتوي الله هغه كسانو لره چي هغوي طلب د هدايت كوي توفيق يا مضبوط والے

وَ الۡبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَیۡرٌ عِنۡدَ رَبِّکَ ثَوَابًا وَّ
او باقي پاتي كيدونكي نيک عملونه غوره دي په نزد د رب ستا د بدلي او

خَیۡرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾ اَفَرَءَیۡتَ الَّذِیۡ کَفَرَ بِاٰیٰتِنَا
غوره دي د واپس كيدو ٠ آيا خبر ئي ته د هغه سړي نه چي كفر ئي كړے دے په ايتونو زمونږ باندي

وَ قَالَ لَاُوۡتَیَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا ﴿۷۷﴾ اَطَّلَعَ الۡغَیۡبَ
او وے وئيل خامخا رابه كړے شي ما ته مال او اولاد ٠ آيا دے خبر دے په غيبو باندي

اَمِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ﴿۷۸﴾ کَلَّا ؕ سَنَکۡتُبُ
يا ده نيولے ده په نزد د مهربان ذات وعده (د خلاصون) چري داسي نده ، زر دے چي ليكو مونږ

مَا يَقُوْلُ وَ نَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾

هغه چي وائي دے او تيارے کووو مونږ ده لره د عذاب نه تيارے *

وَّ نَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَ يَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَ اتَّخَذُوْا

او وايه خلو مونږه د ده نه هغه (مال او دولت) چي وائي دے (دا زما دي) او رابه شي مونږ ته يواځي(١) * او نيولي دي دوی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾

سيوا د الله نه مددگاران دي د پاره چي شي دوی د پاره د دوی معاون / عزت ورکونکي *

كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَ يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ

هيڅ کله داسي نه ده زر دے چي انکار به کړي (دا نيکان بندگان) په راسدد کولو د دوی باندي او شي به (دا نيکان بندگان) د دوی

ضِدًّا ﴿٨٢﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّاۤ اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى

مخالف * آيا ته نه گوري چي يقيناً مونږ رالیږو شيطانان په

الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ؕ

کافرانو باندي جمبه ورکوي دوی لره جمبه * نو تلوار مه کوه په دوی باندي ،

اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ

يقيناً تيارے کوو مونږ دوی لره تيارے * په هغه ورځ چي پورته به کو مونږ پرهيزگاران

اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَّ نَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ

مهربان بادشاه ته ډلي ډلي (ميلمانه) * او اوبه شړو مونږ مجرمان

اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا

جهنم ته تږي * واکدار به نه وي دوی د شفارس (د خلاصولو) مگر

مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَ قَالُوا

جا چي نيولے وي په نزد د مهربان بادشاه لوظ (د توحيد) * او وائي دوی

اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا

نيولے دے مهربان بادشاه نائب * تحقيق سره راتلل کړي دي تاسو يو شي

(١) د مال او دولت نه بيا د مدد گاران او نه.

اِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَ تَنْشَقُّ

سخت نه * قريب دي آسمانونه چي اوچوي د دي (دروغود وجي) نه او اوبه شليږي

الْاَرْضُ وَ تَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ اَنْ دَعَوْا

زمکه او راپرېوبه څي غرونه توټي توټي * دي وجي نه چي دوى رابلي

لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَ مَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ

مهربان بادشاه لره نائب * او (حال دا دے چي) نه دي مناسب مهربان بادشاه لره دا چي

يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

اونيسي خان لره نائب * نه دي تول هغه څوک چي بره آسمانونو

وَ الْاَرْضِ اِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَقَدْ

او ښکته زمکو کښي دي مګر راتلونکي دي مهربان بادشاه ته تابعدار * تحقيق سره

اَحْصٰىهُمْ وَ عَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَ كُلُّهُمْ اٰتِيْهِ

شمېرلي دي الله دوى لره او تيارے ئي کړے دے دوى لره تيارے * او دا تول راتلونکي دي دي الله ته

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

په ورځ د قيامت تش تور (د مال او دولت نه) * يقينًا هغه کسان چي ايمان ئي راوړه او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ

عمل ئي اوکه نيک (په طريقه د پيغمبر) زر دے چي اوبه ګرځوي دوى لره مهربان بادشاه

وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ

دوستي * يقينًا آسان کړے دے موږ دي قرآن لره په ژبه ستا باندي دي د پاره چي ته زيرے ورکړي په دي سره

الْمُتَّقِيْنَ وَ تُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَ كَمْ

پرهيزګارانو ته او ته اوېروي په دي سره قوم جګړالو * او ډير

اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ؕ هَلْ تُحِسُّ

هلاک کړي دي موږ مخکښي د دوى نه پېرونه ، آيا ته وينې ؟

مِنۡهُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ اَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزًا ۹۸

د دوی نه یو تن یا اورے ته دوی لره کش د خپے ؟*

سُوۡرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — ترتیبها ۲۰ نزولها ۴۵ — آیاتها ۱۳۵ رکوعاتها ۸

طٰهٰ ۱ مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰٓى ۲

الله پوهیږي په معنی د دي حروفو باندي *ندے رالیږلے مونږ په تا باندي قرآن دي د پاره چي ته تنګ شي*

اِلَّا تَذۡكِرَةً لِّمَنۡ يَّخۡشٰى ۳ تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ

مګر پند او نصیحت د پاره د هغه چا چي یریږي (د الله نه)* رالیږل د دي کتاب د هغه ذات د طرفه دي

خَلَقَ الۡاَرۡضَ وَ السَّمٰوٰتِ الۡعُلٰى ۴ اَلرَّحۡمٰنُ

چي پیدا کړي ئي ده زمکه او آسمانونه اوچت * مهربان بادشاه

عَلَى الۡعَرۡشِ اسۡتَوٰى ۵ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ

په عرش باندي برابر دے (۱) * دي الله په اختیار کښې دي هغه څه چي په آسمانونو

وَ مَا فِى الۡاَرۡضِ وَ مَا بَيۡنَهُمَا وَ مَا تَحۡتَ

او هغه څه چي ښکته زمکو کښې دي او هغه چي په مینځ د دي دواړو کښې دي او هغه چي لاندي د

الثَّرٰى ۶ وَ اِنۡ تَجۡهَرۡ بِالۡقَوۡلِ فَاِنَّهٗ يَعۡلَمُ

لوندي زمکي نه دي * او که ته په تیزه وائي وینا لره نو یقینًا دا الله پوهیږي

السِّرَّ وَ اَخۡفٰى ۷ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ

په رو او په پټو باندي * الله چي دے نشته بل حاجت روا مګر دا (الله) دے ، ده لره

الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ۸ وَ هَلۡ اَتٰٮكَ حَدِيۡثُ

نومونه دي ښائسته ښائسته * او تحقیق سره راغلي دے تا ته خبر د

مُوۡسٰى ۹ اِذۡ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا

موسی (علیه السلام) * کله چي اولیدو ده اوور نو اوئیل موسی (علیه السلام) اهل خپل ته درنګ تیر کړئ تاسو

(۱) لما یلیق بشانه

سُوْرَةُ طٰه

ربط د سورت طه :

{١} مخکښې ایت ۹۸ کښې تخویف دنیوی وو نو دلته ایت۱۲۸ کښې هم تخویف دنیوي دے .

{٢} مخکښې ایت ۹۷ کښې ترغیب الی القران وو نو دلته ایت ١٢٤ کښې سزا د هغه چا ذکر کړې چې د قران نه اعراض کړې.

{٣} ما قبل کښې نفی د شفاعت قهریه وه نو دلته هم نفی د شفاعت قهریه کړې.

امتیازات د سورت طه :

{١} دا سورت ممتاز دے په تفصیلي واقعي د موسی علیه السلام .

{٢} په ذکر د سوزولو د سخی باندي .

{٣} په مناظري د موسی علیه السلام باندي په یوم الزینة کښې .

دعوی د سورت طه : ترقي په ما سبق او تیزي ورکې په تبلیغ باندي .

خلاصه د سورت طه :

په ابتداء دسورت کښې درې/ ٣ مسئلې ذکر کړې : ١ـ خالق لکل شئ هو الله آیت ٤ .

٢ـ متصرف فی کل شئ هو الله آیت ٦ .

٣ـ عالم بکل شئ هو الله آیت٧ .

نوآیت ٨ کښې پې مسئله د توحید تفریع کړې : الله لا اله الّا هو) بیا دوه مسئلې ذکرکړې :

١ـ ابتلوا بالمصائب . ٢ـ تسلی او تشجیع فی التبلیغ په دې باندې٣ واقعات ذکر کړې :

١ـ واقعه د موسیٰ علیه السلام .

٢ـ بیا کلک والے دساحرینو .

٣ـواقعه د آدم علیه السلام .

اِنِّیْۤ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّیْۤ اٰتِیْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ

یقینًا ما اولیده اوور شاید چي زه راتلل اوکړم تاسو ته د دي نه په یو سکروټي بلیدونکي

اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾ فَلَمَّاۤ اَتٰىهَا

یا به اوموم اوور باندي لار * نو هر کله چي راغے دي اوور خوا ته

نُوْدِیَ یٰمُوْسٰى ﴿١١﴾ اِنِّیْۤ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ

آواز ورته اوکړے شو چي اے موسیٰ (علیه السلام) * یقینًا زه رب ستا یم نو اوباسه

نَعْلَیْكَ ۚ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ وَ

پنړي خپلي ، یقینًا ته ئي په کنده پاکه کړه وړه / چي نوم ئي طوی دے * او

اَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا یُوْحٰى ﴿١٣﴾ اِنَّنِیْۤ اَنَا

ما چوڼړ کړے دے تا لره نو غوږ کیږده هغه (مسئلي) ته چي وحي کولے شي تا ته * یقینًا زه چي یم زه

اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ ۙ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ

الله یم نشتے دے بل حاجت روا مګر زه یم نو عبادت کوه زما ، او قائم که مونځ

لِذِكْرِیْ ﴿١٤﴾ اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ اَكَادُ اُخْفِیْهَا

د پاره د یادولو زما * یقینًا قیامت راتلونکے دے قریب دے چي ښکاره به کم دي لره

لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعٰى ﴿١٥﴾ فَلَا یَصُدَّنَّكَ

دي د پاره چي بدله ورکړے شي هر یو نفس ته د هغه (عمل) چي دے ئي کړ * نو بند دي نه کي تا لره

عَنْهَا مَنْ لَّا یُؤْمِنُ بِهَا وَ اتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿١٦﴾

د دي مسئلے نه هغه څوک چي ایمان نه راوړي په دي باندي او تابعدار شو د خپلو خواهشاتو کیني هلاک به شي ته *

وَ مَا تِلْكَ بِیَمِیْنِكَ یٰمُوْسٰى ﴿١٧﴾ قَالَ هِیَ

او څه دي دا په ښي لاس ستا کښي اے موسیٰ علیه السلام ؟ * اوئیل (موسیٰ علیه السلام) دا

عَصَایَ ۚ اَتَوَكَّؤُا عَلَیْهَا وَ اَهُشُّ بِهَا عَلٰى

همسا زما ده ، تیک لګوم دي باندي او راسندم په دي باندي

غَنَمِيْ وَ لِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى ﴿١٨﴾ قَالَ اَلْقِهَا
خپلو ګډو بېزو ته (پاڼې) او ما لره په دې کښې دې فائدې نورې *اووئيل الله اوغورځوه دې لره
يٰمُوْسٰى ﴿١٩﴾ فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿٢٠﴾
اے موسی *نو اوغورځوله موسی (علیه السلام) دې لره نو ناساپه دا نرے مار وو چې منډې ئې وهلې*
قَالَ خُذْهَا وَ لَا تَخَفْ ٝ سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا
اووئيل الله اونيسه دې لره او مه بېرېږه ، زر دے چې واپس به کړو مونږ دې لره شکل د دې
الْاُوْلٰى ﴿٢١﴾ وَ اضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ
رومبني ته * او جخت که لاس خپل ترخ ستا سره راوبه خي
بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ
تک سپين بغير د مرض نه (ده دا) معجزه بله * دې د پاره چې اوښايو مونږ تا ته
مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ
د معجزو زمونږ نه لوئې * لاړ شه فرعون ته يقيناً ده
ع ٢٣ ١٠ طَغٰى ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿٢٥﴾ وَ
سرکشي کړې ده * اووئيل موسی (علیه السلام) اے زما ربه کولاو کړې ما لره سينه زما * او
يَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾ وَ احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ
آسان کړې ما ته کار (د دين) زما * او پرانيزې غوټه د
لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾ وَ اجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا
ژبې زما * چې پوهه شي دوی په وينا زما * او اوګرځوې ما لره امدادي
مِّنْ اَهْلِيْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ اَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ
د اهل زما نه * هارون (علیه السلام) چې رور زما دے * مضبوطه کې په ده باندې
اَزْرِيْ ﴿٣١﴾ وَ اَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ
زما شا (زما طاقت) *او شريک کې ده لره ما سره په کار (د نبوت) زما کښې *دې د پاره چې پاکي بيان کړو مونږ ستا

كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَّ نَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا

ډيره • او ياد كړو تا لره ډير ډير • يقيناً ته يې موږ لره

بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ﴿٣٦﴾

ليدونكے • اوئيل الله تحقيق سره قبول كړے شوې ده غوښتلے شوي(دعا)ستا اے موسى •

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ﴿٣٧﴾ اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى

او تحقيق احسان كړے وو موږ په تا باندې يو خل بيا • كله چې زړه كښې واچوله موږ د

اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ﴿٣٨﴾ اَنِ اقْذِفِيْهِ فِى التَّابُوْتِ

مور ستا هغه چې زړه كښې اچولے شوه ديته • دا خبره چې واچوه ده لره په صندوق كښې

فَاقْذِفِيْهِ فِى الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ

نو اوغورځوه دې صندق لره په درياب كښې نو اوبه غورځي ده لره درياب په كناره باندې

يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّىْ وَ عَدُوٌّ لَّهٗ ؕ وَ اَلْقَيْتُ

اوچت به كړي ده لره دشمن زما او دشمن د ده ، او ما واچوله

عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّىْ ۚ وَ لِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِىْ ﴿٣٩﴾

په تا باندې مينه د خپل طرف نه ، او دې د پاره چې پرورش اوكړے شي ستا په حفاظت زما كښې •

اِذْ تَمْشِىْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى

كله چې روانه وه ستا خور (پوځنا) نو اوئيل هغې (فرعونيانو ته) آيا زه خبركم تاسو لره په هغه

مَنْ يَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ

چا چې پرورش به اوكي ده ، نو واپس كه موږ تا لره مور ستا ته دې د پاره چې يخې شي

عَيْنُهَا وَ لَا تَحْزَنَ ؕ وَ قَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ

سترګې د هغې او خفه نه شي ، او قتل كه تا يو تن نو خلاصے دركړو موږ تا ته

مِنَ الْغَمِّ وَ فَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۬ فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ

د غم نه او امتحانونه مو اوكړل په تا باندې امتحانونه نو تا وخت تير كه څه كلونه

وقف لازم

فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ۬ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ

په مدين والو كښي ، بيا راغلے ته په يو اندازه باندي

يّٰمُوْسٰى ﴿۴۰﴾ وَ اصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ ﴿۴۱﴾ اِذْهَبْ

اے موسی (عليه السلام)* او ما چوݨړ كړے دے تا لره د پاره د خپل پيغام * لاړ شه

اَنْتَ وَ اَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَ لَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ﴿۴۲﴾

ته او ورور ستا په آيتونو زما باندي او سستي مه كوئ په بيان زما كښي *

اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۴۳﴾ فَقُوْلَا

لاړ شئ دواړه فرعون ته يقيناً ده سركشي كړي ده *نو اوايئ تاسو دواړه

لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ﴿۴۴﴾ قَالَا رَبَّنَآ

ده ته وينا نرمه شايد چي دے پند واخلي او ويريږي* اوئيل دي دواړو اے ربه زمونږ

اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿۴۵﴾

يقيناً مونږ ويريږو دا چي دے به زياتے اوكي په مونږ باندي يا به سركشي اوكي *

قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَ اَرٰى ﴿۴۶﴾

اوئيل (الله) مه ويريږئ تاسو دواړه يقيناً زه يم ستاسو په امداد كښي اورم او وينم زه*

فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا

نو لاړ شئ دواړه فرعون ته نو ورته اووايئ يقيناً مونږ استازي يو د رب ستا نو پريږده مونږ سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ وَ لَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ

بني اسرائيل ، او سزا مه وركوه دوي ته ، تحقيق سره مونږ راغلل كړي دي تا ته

بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَ السَّلٰمُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ

په معجزه باندي د طرفه د رب ستا نه ، او سلامتيا دي وي په هغه چا باندي چي تابعداري ئې اوكړه

الْهُدٰى ﴿۴۷﴾ اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ

د هدايت *يقيناً مونږ چي يو تحقيق سره وحي كړے شوي ده مونږ ته يقيناً عذاب

عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَ تَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا
به هغه چا دے چې تکذیب ئې اوکه او واوړیده * اوئیل (فرعون) څوک دے رب ستاسو دواړو

يٰمُوْسٰى ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ اَعْطٰى كُلَّ
اے موسی * اوئیل (موسی علیه السلام) رب زمونږ هغه ذات دے چې ورکړے ئې دے هر یو

شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ
شي ته د هغه جوړښت بیا ئې ورته لار د ژوند تیرولو آسانه کړې ده * اوئیل (فرعون) نو څه دے حالت

الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ
د هغه پیړو اولنو * اوئیل (موسی علیه السلام) علم د هغې زما د رب سره دے

فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ وَ لَا يَنْسَى ﴿٥٢﴾ ز الَّذِيْ
په لوح محفوظ کښې ، نه خطا کیږي رب زما او نه ترینه هیر راځي * هغه ذات

جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّ سَلَكَ لَكُمْ
چې پیدا کړے ئې ده د پاره ستاسو زمکه فرش او پیدا کړي ئې دي ستاسو د پاره

فِيْهَا سُبُلًا وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۭ فَاَخْرَجْنَا
په دیکښې لارې (پلنې پلنې) او راوروي د بره نه باران ، نو راوباسو مونږ

بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿٥٣﴾ كُلُوْا وَ ارْعَوْا
په دې سره جوړې د کیاگانو مختلفو نه * خورئ او څروئ

اَنْعَامَكُمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿٥٤﴾ ع
څاروي خپل ، یقینًا په دې کښې نښې د عبرت دي د پاره د خاوندانو د عقل *

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَ فِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَ مِنْهَا
د دې زمکې نه پیدا کړي یئ مونږ تاسو او په دې کښې واپس به کړو مونږ تاسو لره او د دې نه

نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴿٥٥﴾ وَ لَقَدْ اَرَيْنٰهُ
راوباسو به مونږ تاسو لره یو ځل بیا * او تحقیق سره خودلې وې مونږ ده ته

اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَ اَبٰى ﴿٥٦﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا

معجزي زمونږ ټولي نو ده تکذيب اوکه او انکار ئي اوکه * اوئيل ده آيا ته راغلے ئې مونږ ته

لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٥٧﴾

دي د پاره چې ته اوباسې مونږ لره د زمکې زمونږ نه په جادو ستا سره اے موسیٰ *

فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا

نو خامخا راتلل به کوو مونږ تا ته په جادو د دې غوندې پس اوګرځوه په مينځ زمونږ

وَ بَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَ لَآ اَنْتَ

او په مينځ ستا کښې وخت د وعدې چې خلاف به ئې نه کوو مونږ او نه ته

مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ

ځائے برابر * اوئيل (موسیٰ عليه السلام) وخت د وعدې ستاسو ورځ د

الزِّيْنَةِ وَ اَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلّٰى

اختر ده او دا چې راجمع کړے شي خلق په وخت د ساخت کښې * نو اوګرځيده

فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُمْ

فرعون نو راجمع ئې که خپل تدبير بيا ئې راتلل اوکړل (په هغې سره) * اوئيل دوی ته

مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

موسیٰ عليه السلام هلاک شئ مه جوړوئ په الله باندې دروغ

فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَ قَدْ خَابَ مَنِ

کښېنې هلاک به کړي تاسو لره په عذاب سره ، او تحقيق سره تاواني شو هغه څوک چې

افْتَرٰى ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَ اَسَرُّوا

جوړ ئي کړل دروغ * نو اختلاف اوکړو دوی د کار خپل پخپل مينځ کښې او پټه ئي اوکړه

النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ

جرګه * اوئيل دوی يقينًا دي دا دواړه خامخا جادوګر

يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا

اراده لري دا دواړه دا چې اوباسي تاسو لره د زمکې ستاسو نه په جادو د دې دواړو باندې

وَ يَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجْمِعُوْا

او لرې کې دا دواړه طريقه ستاسو بهتره • نو راجمع کړئ

كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَ قَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ

خپل تدبير بيا راشئ صف په صف ، او تحقيق سره کامياب دے نن ورځ

مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّآ اَنْ

هغه څوک چې غالب شو • اوئيل دوی : اے موسی يا

تُلْقِيَ وَ اِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾

ته اوغورځوه يا شو به مونږه اول د هغه چا نه چې غورځي (همساګانے رسۍ) •

قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَ عِصِيُّهُمْ

اوئيل (موسی عليه السلام) بلکه تاسو اوغورځوئ ، نو ناساپه رسۍ د دوی او همساګانې د دوی

يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾

خيال کښې راوستلے شوې ده ته د وجې د جادو د دوی نه چې دا منډې وهي •

فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾ قُلْنَا

نو پټه کړه په خپل زړه کښې وېره موسی عليه السلام اوئيل مونږ

لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَ اَلْقِ مَا فِيْ

مه يريږه يقيناً ته به يې اوچت (غالب) • او اوغورځوه هغه چې دي په

يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا ۭ اِنَّمَا صَنَعُوْا

ښي لاس ستا کښې غرب به کې (دا همسا) هغه چې دوی جوړ کړي دي يقيناً هغه چې دوی جوړ کړي دي

كَيْدُ سٰحِرٍ ۭ وَ لَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾

چل د جادوګر دے ، او نه کاميابيږي جادوګر چرته چې راشي •

فَاُلۡقِیَ السَّحَرَۃُ سُجَّدًا قَالُوۡۤا اٰمَنَّا بِرَبِّ
نو پرېوتل جادوګر سجده کوونکي اوئېل دوی موږ ايمان راوړے دے په رب د
هٰرُوۡنَ وَ مُوۡسٰی ﴿۷۰﴾ قَالَ اٰمَنۡتُمۡ لَهٗ قَبۡلَ
هارون او د موسی علیهما السلام اوئېل (فرعون) تاسو تصديق اوکه د ده مخکښې
اَنۡ اٰذَنَ لَکُمۡ ؕ اِنَّهٗ لَکَبِیۡرُکُمُ الَّذِیۡ عَلَّمَکُمُ
د اجازت زما نه تاسو ته ، يقيناً دے خامخا مشر ستاسو دے هغه چې ښودلے ئي دے تاسو ته
السِّحۡرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَیۡدِیَکُمۡ وَ اَرۡجُلَکُمۡ
جادو ، نو خامخا کټ به کم لاسونه ستاسو او خپې ستاسو
مِّنۡ خِلَافٍ وَّ لَاُصَلِّبَنَّکُمۡ فِیۡ جُذُوۡعِ
ادل بدل او خامخا په سولۍ به کم تاسو لره په ځانګو
النَّخۡلِ ۫ وَ لَتَعۡلَمُنَّ اَیُّنَاۤ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ
د کهجور کښې او خامخا تاسو به پوهه شئ چې کوم يو زموږ نه سخت دے په سزا ورکولو کښې او
اَبۡقٰی ﴿۷۱﴾ قَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡثِرَکَ عَلٰی مَا جَآءَنَا
او هميشه دے ٭ په سزا ورکولو کښې اوئېل دوی هيڅري نه غوره کوو تا لره په هغه چې راغلے موږ ته
مِنَ الۡبَیِّنٰتِ وَ الَّذِیۡ فَطَرَنَا فَاقۡضِ مَاۤ
د دلائلو نه او (په) هغه ذات چې پيدا کړي ئي يو موږ نو اوکه ته هغه چې
اَنۡتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقۡضِیۡ هٰذِهِ الۡحَیٰوۃَ
ته کوونکے ئي (د هغې) ، يقيناً ته فيصله کولے شي په دي ژوند د
الدُّنۡیَا ﴿۷۲﴾ اِنَّاۤ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِیَغۡفِرَ لَنَا خَطٰیٰنَا
دنيا کښې ٭ يقيناً موږ ايمان راوړے دے په خپل رب باندې دې د پاره چې ښشنه اوکړي موږ ته د ګناهونو زموږ
وَ مَاۤ اَکۡرَهۡتَنَا عَلَیۡهِ مِنَ السِّحۡرِ ؕ وَ اللّٰهُ خَیۡرٌ
او هغه چې زور کړے دے تا په موږ باندې د جادو ، او الله غوره

وَ اَبْقٰى ﴿٧٣﴾ اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ

او هميشه دے * يقينًا شان دا دے څوک چې راغے خپل رب ته مجرم (مشرک) نو يقينًا

لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَ لَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾

ده لره جهنّم دے ، نه به مړيږي په دې کښې او نه به ئې ژوند (د خوشحالۍ) وي *

وَ مَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ

او چا چې راتلل او کړل الله ته مومن (١) تحقيق سره عمل ئې کړے نيک (په طريقه د پيغمبر)

فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿٧٥﴾ جَنّٰتُ

نو دغه کسان دوی د پاره دي درجې اوچتې * جنتونه

عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

د هميش ګيرۍ دي چې بهيږي به لاندې د (اونو) د هغې نه ولې هميشه به وي دوی

فِيْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾ وَ لَقَدْ

په دې کښې ، او دا بدله د هغه چا ده چې ځان ئې پاک که * او په تحقيق سره

اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۙ۬ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ

وحي کړې وه مونږ موسىٰ عليه السلام ته ، دا چې د شپې بوځه بندګان زما

فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ

نو اوهه دوی د پاره لاره په درياب کښې اوچه ،

لَّا تَخٰفُ دَرَكًا وَّ لَا تَخْشٰى ﴿٧٧﴾ فَاَتْبَعَهُمْ

نه به يريږې د راګيرلو (د فرعون نه) او نه به يريږې (د غرقيدو نه) * نو اولګيد دوی پسې

فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا

فرعون سره د خپل لښکرو نو پټ کړل دوی لره درياب نو څه لوئې

غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَ اَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَ مَا

پټوالے وو * او ګمراه که فرعون خپل قوم او

(١) دائمي حال کښې چې مؤمن وي

هُدٰى ۝٧٩ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ

سمه لار ئې ورته اونه ښودله* اے اولاد د يعقوب (عليه السلام) تحقيق سره خلاصے دركړے دے مونږ تاسو ته

مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَ وٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ

د دشمن ستاسو نه او وعده كړې ده مونږ تاسو سره د طرف د كوه طور

الْاَيْمَنَ وَ نَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَ السَّلْوٰى ۝٨٠

ښي او راوسے ليږل په تاسو باندې ترنجبين او مرزان *

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَ لَا تَطْغَوْا

(اوئيل مونږ) خورئ د پاكو هغه نه چې دركړي دي مونږ تاسو ته او سركشي مه كوئ

فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَ مَنْ يَّحْلِلْ

په دې كښې ګينې واقع به شي په تاسو باندې غضب زما ، او هغه څوك چې نازل شو

عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ۝٨١ وَ اِنِّيْ لَغَفَّارٌ

په هغه باندې غضب زما نو تحقيق سره دے هلاک شو* او يقينًا زه خامخا بښونكے يم

لِّمَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ

هغه چا ته چې توبه ئې اويسته او ايمان ئې راوړه او عمل ئې اوكړه نيک بيا

اهْتَدٰى ۝٨٢ وَ مَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ

مضبوط شو (په توحيد او په سنت)* او څه شي ګړندے كه تا لره د قوم ستا نه

يٰمُوْسٰى ۝٨٣ قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِيْ وَ

اے موسى* اوئيل (موسى عليه السلام) دغه كسان چې دي زما په نقش وقدم باندې روان دي او

عَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ۝٨٤ قَالَ فَاِنَّا

ما تلوار اوكړه تا ته اے زما ربه چې ته راضي شي* اوئيل (الله) پس يقينًا مونږ

قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَ اَضَلَّهُمُ

تحقيق سره امتحان كښې واچو قوم ستا روستو ستا نه او ګمراه كړل دوى لره

السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسٰى إِلٰى قَوْمِهٖ
سامري • نو واپس شو موسی (علیه السلام) خپل قوم ته
غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ
ډیر زیات غصه او غمژن اوئیل اے زما قومه آیا وعده نه وه کړي تاسو سره
رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ
رب ستاسو وعده ښائسته ، آیا اوږده شوه په تاسو باندي زمانه(موده د جدائي زما)
أَمْ أَرَدْتُّمْ أَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ
یا اراده کوئ تاسو دا چي واقع شي په تاسو باندي غضب . د طرفه د
رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ﴿٨٦﴾ قَالُوْا مَآ أَخْلَفْنَا
رب ستاسو نه نو خلاف اوکړو تاسو زما د وعدي • نو اوئیل دوی مونږ خلاف ندے کړے
مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّنْ
د وعدي ستا په خپل اختیار باندي لیکن مونږ بار کړے شو په مونږ باندي کالي د
زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ أَلْقَى
زینت د قوم نو اوغورځول مونږ دي کالو لره نو دارنګي اوغورځول دي لره
السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ
سامري (په اوور کښي) • نو جوړ ئي که دوی لره سخے جوسه دار چي ده لره
خُوَارٌ فَقَالُوْا هٰذَآ إِلٰهُكُمْ وَإِلٰهُ مُوسٰى
آواز وو نو اوئیل دوی دا مدد ګار ستاسو او مدد ګار د موسیٰ علیه السلام دے
فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ
نو هیر کړے دے (١) • آیا دوی نه ګوري چي نه شي واپس کولے (دا سخے) دوی ته
قَوْلًا ۙ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾
وینا ، او نه واکدار دے دوی لره د ضرر لري کولو او نه د فائدي رسولو •

وَ لَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ
او تحقيق سره وئيلي وو دوئ ته هارون عليه السلام پخوا اے زما قومه
اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَ اِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ
تحقيق سره امتحان كښي اچولے شوي يئ تاسو په دي (عبادت د سخي) سره او يقيناً رب ستاسو مهربان (بادشاه) دے
فَاتَّبِعُوْنِيْ وَ اَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا لَنْ
نو زما تابعداري اوكړئ او اومنئ زما حكم * اوئيل دوئ هميشه به
نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا
يو مونږ په دي باندي منجوران تر دي پوري چي واپس شي مونږ ته
مُوْسٰى ﴿۹۱﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ
موسى عليه السلام * اوئيل (موسى عليه السلام) اے هارون عليه السلام څه شي منع كړي ته كله چي اوليدل تا دوئ لره
ضَلُّوْٓا ﴿۹۲﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿۹۳﴾
گمراهان * ته ولي نه راتلي ما پسي (كه طور ته)، آيا تا نافرماني اوكړه د حكم زما *
قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَ لَا بِرَاْسِيْ ۚ
اوئيل (هارون عليه السلام) اے زما د مور خويه مه نيسه گيره زما او نه سر زما
اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ
يقيناً زه يريدم چي ته به وائي چي تا بيلتون راوسته په مينځ د بني
اِسْرَآءِيْلَ وَ لَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿۹۴﴾ قَالَ فَمَا
اسرائيلو كښي او تا انتظار اونه كه زما د حكم * نو اوئيل (موسى عليه السلام) څه دے
خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿۹۵﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ
حال ستا اے سامريه * اوئيل ده زه پوهه شوم په هغه څه باندي چي دوئ نه
يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ
دي پوهه په هغي باندي او ما منگول لگولي وه منگول په تابعداري د

الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَ كَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ

د پیغمبر نو ما اوغورځوله هغه تابعداري او دارنګې ښائسته کړے وو ما ته

نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي

زما نفس (دا كار)* اوئيل (موسى عليه السلام) زه (روک شه) يقينًا وي به تا لره په

الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ وَ اِنَّ لَكَ

ژوند کښې دا چې ته به وائې لاس مه راوړئ ما له او يقينًا ستا د پاره

مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ وَ انْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ

وعده ده چې خلاف به اونه کړے شي تا سره د هغې، او اوګوره الله ستا

الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ

هغه الله ته چې ته ګرځیدلے وې په هغې باندې منجور ، خامخا اوبه سوزوو مونږ دې لره بیا

لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ

خامخا ذره ذره به کوو دې لره په دریاب کښې په ذره ذره کولو سره * بے شکه حاجت روا ستاسو الله

الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ

هغه ذات دے چې نشته بل حاجت روا مګر دا الله دے، او رسیدلے دے هر يو شي ته

عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا

په اعتبار د علم * دارنګې بیانوو مونږ په تا باندې د خبرونو هغه نه چې

قَدْ سَبَقَ وَ قَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾

چې مخکښې تیر شوي دي، او تحقیق سره درکړے دے مونږ تا ته د خپل طرف نه پند *

مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چا چې مخ واړوه د دې نه نو يقينًا دے به بار کوي په ورځ د قيامت باندې

وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ وَ سَآءَ لَهُمْ يَوْمَ

بوج (د بدو عملونو)* هميشه به وي په دې کښې، او بد دے دوی لره په ورځ د

الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَ نَحْشُرُ

قیامت بوج (د گناه) * (یاده که هغه ورځ) چې پوک به اوهلے شي په شپیلۍ کښې او بوږنه به کو مونږ

الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ

مجرمان په دغه ورځ خړ سترګي (ملامته) * پټي پټي خبري به کړي دوی

بَيْنَهُمْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ

په خپل مینځ کښې چې تاسو درنګ نه وو تیر کړے مګر لس (ورځي) * مونږ پوهه یو

بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً

په هغه څه چې وائي دوی کله چې او به وائي عقل مند د دوی نه په بیان کښې

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾ وَ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ

درنګ نه وو تیر کړے تاسو مګر یو ورځ * او دوی تپوس کوي ستا نه په باره د

الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا

غرونو کښې نو اووایه ذره ذره به کي دي لره رب زما ذره ذره کولو سره * نو پري به ایږدي دي له

قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّ لَآ

میدان صفا * نه به وینې ته په دي کښې کوږ والے او نه

اَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ

دیرکی / غونډی * په دغه ورځ تابعداري به کې دوی د رابلونکي چې نه به وي کوږ والے

لَهٗ ۚ وَ خَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا

دي لره ، او عاجز به شي آوازونه مهربان (بادشاه) ته نو نه به

تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ

اوري ته مګر خش د سینې * په دغه ورځ فائده به نه ورکوي

الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَ رَضِيَ

خلاصول مګر هغه چا ته (به فائده ورکړي) چې اجازت اوکې ده د باره مهربان ذات او راضي وي

لَهٗ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ مَا

ده نه په وینا (د توحید)* پوهیږي (الله) په هغه چې مخکښې د دوی نه دي او هغه چې

خَلْفَهُمْ وَ لَا يُحِيْطُوْنَ بِهٖ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ وَ عَنَتِ

روستو د دوی نه دي او احاطه نه شي کولے دوی په دې باندې د پوهې * او عاجز به شي

الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ؕ وَ قَدْ خَابَ مَنْ

مخونه همیشه ژوندي تدبیر کونکي ذات ته ، او تحقیق سره تاواني شو هغه څوک چې

حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَ مَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

وړے اوړه شرک (میدان د قیامت ته)* او چا چې عمل اوکه نـــېک

وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّ لَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾

او حال دا دے چې وي دے مومن نه به یریږي د زیاتي نه او نه د کمي (د اجر) نه *

وَ كَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّ صَرَّفْنَا

او دارنګې رالیږلے دے مونږ دې لره د لوستلو کتاب په واضحه ژبه کښې او واضح بیان کړي دي مونږ

فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ

په دې کښې عذابونه خامخا چې دوی اویریږي (د الله نه) یا

يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ

بیان کي دوی ته څه پند * نو اوچت دے الله

الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ وَ لَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ

بادشاه رښتیا ، او تلوار مه کوه په قرآن باندې

قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰۤى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ؗ وَ قُلْ

مخکښې د دې نه چې پوره شي تا ته وحي د دې قرآن او اووایه

رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَ لَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰۤى اٰدَمَ

اے زما ربه زیات کي ما لره علم * او تحقیق سره حکم کړے وو مونږ آدم علیه السلام ته

مِنْ قَبْلُ فَنَسِیَ وَ لَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَ

بخوا نو هېر شو (د هغه نه) او نه وو موندلې مونږ هغه لره قصد (د ګناه) * او

اِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓىِٕكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا

کله چې اوئیل مونږ فرشتو ته سجده اوکړئ آدم علیه السلام ته نو سجده اوکړه فرشتو

اِلَّآ اِبْلِیْسَ ؕ اَبٰی ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا یٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا

مګر شیطان اونه کړه، انکار ئې اوکه * نو اوئیل مونږ اے آدم علیه السلام یقینًا دا شیطان

عَدُوٌّ لَّكَ وَ لِزَوْجِكَ فَلَا یُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ

دشمن دے ستا او دې ئې ستا نو او نه باسي تاسو دواړو لره د

الْجَنَّةِ فَتَشْقٰی ﴿١١٧﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِیْهَا

باغ نه ګیني تنګ به شې (په طلب د روزئ) * یقینًا دې تا لره (دې باغ کښې) دا چې نه به اوږے ته کیږې په دې (باغ) کښې

وَ لَا تَعْرٰی ﴿١١٨﴾ وَ اَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِیْهَا وَ لَا

او نه به بربنډیږې * او یقینًا ته نه به تږے کیږې په دې کښې او نه به

تَضْحٰی ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ اِلَیْهِ الشَّیْطٰنُ قَالَ

دِ ګرمۍ کیږې * نو وسوسه واچوله ده ته شیطان اوئیل (شیطان)

یٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰی شَجَرَةِ الْخُلْدِ

اے آدم (علیه السلام) آیا خبرکم تا لره په اونه د همیشګیرۍ باندې

وَ مُلْكٍ لَّا یَبْلٰی ﴿١٢٠﴾ فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا

او په داسې بادشاهۍ چې نه به زړیږې * نو خوراک اوکه دې دواړو د دې نه نو ښکاره شوه دې دواړو ته

سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا یَخْصِفٰنِ عَلَیْهِمَا مِنْ

بے عزتي د دې دواړو او شروع شو دوی چې لګولې ئې په ځانونو خپلو باندې د

وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۫ وَ عَصٰٓی اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰی ﴿١٢١﴾

پاڼرو د باغ نه او په صورت (شکل) د عصیان کښې راغے آدم (علیه السلام) خپل رب ته نو زوند ئې تنګ شو *

ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَ هَدٰى ﴿١٢٢﴾

بیا غوره که ده لره رب د ده نو مهرباني يې اوکړه ده باندې او توفيق يې ورکړه ده ته •

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًاۢ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

اوئيل (الله) څئ دواړه د دې ځائے نه غونډ بعضې ستاسو د پاره د بعضو

عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ

دشمنان به وي ، پس که راشي تاسو ته د طرفه زما نه کتاب / پيغمبر ، پس چا چې

اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَ لَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَ

تابعداري اوکړه زما د کتاب نو نه به ګمراه شي(دنيا کښې) او نه به بد بخته شي(آخرت کښې) • او

مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً

چا چې مخ واړو د کتاب زما نه نو يقينًا ده لره به وي ژوند

ضَنْكًا وَّ نَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾

لنډ تنګ او راپورته به کو مونږ ده لره په ورځ د قيامت ړوند •

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْۤ اَعْمٰى وَ قَدْ كُنْتُ

وائي به دے اے زما ربه ولې دې زه پورته کړم ړوند او په تحقيق سره وم زه

بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا

ليدونکے • او به وائي (الله) دارنګې راغلې وو تا ته آيتونه زمونږ

فَنَسِيْتَهَا ۚ وَ كَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَ كَذٰلِكَ

نو تا هېر کړي وو هغې لره ، او دارنګې نن ورځ پرېخودے شوې ته (زما د رحمت نه)• او دارنګې

نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ وَ لَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ

سزا ورکوو مونږ هغه چا ته چې زياتے يې اوکه او ايمان يې رانهٔ وړو په آيتونو د

رَبِّهٖ ؕ وَ لَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَ اَبْقٰى ﴿١٢٧﴾

رب خپل ، او خامخا عذاب د آخرت ډير سخت او هميشه دے •

اَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنَ

آيا بيان نه دے شوے دوی ته خومره هلاک کړي دي مونږ مخکښې د دوی نه د

الۡقُرُوۡنِ يَمۡشُوۡنَ فِيۡ مَسٰكِنِهِمۡ ؕ اِنَّ فِيۡ

پيړونه چې ګرځي دوی په خايونو د دوی کښې ، يقيناً په

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ وَ لَوۡ لَا كَلِمَةٌ

دي کښې خامخا نښې د عبرت دي د پاره د عقلمندو * او که نه وے حکم

سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّ اَجَلٌ

تير شوے د طرفه د رب ستا نه (په تاخير د عذاب) نو خامخا وو به دا عذاب پيوست دوی پورې او نيته

مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ وَ سَبِّحۡ

مقرره * نو صبر کوه په هغه (بدو ردو باندې) چې وائي دوی او پاکي بيانوه د الله

بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَ قَبۡلَ

په صفتونو د رب ستا باندې لګيا په مخکښې د راختو د نور (نمر) او مخکښې د

غُرُوۡبِهَا ۚ وَ مِنۡ اٰنَآئِ الَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَ

پريوتو د دې (نور) نه او په اطرافو د شپې کښې پس پاکي بيانوه او

اَطۡرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضٰى ﴿١٣٠﴾ وَ لَا

په اطرافو د ورځې کښې شايد چې ته خوشحاله شې * او مه

تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ اِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهٖۤ اَزۡوَاجًا

اړوه سترګې خپلې هغه (مال او دولت) ته چې فائده ورکړې ده مونږ په هغې سره مالدارو ته

مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۙ۬ لِنَفۡتِنَهُمۡ

د دوی نه نمائش د ژوند د دنيا ، دې د پاره چې مونږ امتحان اوکړو په دوی باندې

فِيۡهِ ؕ وَ رِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٌ وَّ اَبۡقٰى ﴿١٣١﴾ وَ اۡمُرۡ

په دې کښې ، او رزق د رب ستا غوره او هميشه دے او حکم کوه

ع ٧ ١٦

اَهۡلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ اصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا ؕ لَا

خپل بال بچ ته د مونځ او ښه کلک شه په دي باندي ، نه

نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا ؕ نَحۡنُ نَرۡزُقُكَ ؕ وَ الۡعَاقِبَةُ

غواړو مونږ ستا نه رزق (گټل) ، مونږ رزق درکوو تا ته ، او بهتر انجام دے

لِلتَّقۡوٰى ﴿۱۳۲﴾ وَ قَالُوۡا لَوۡ لَا يَاۡتِيۡنَا بِاٰيَةٍ

د پاره د تقوی والو • او اوئیل دوی۔ولي ته راتلل نه کوي مونږ ته په یو معجزي باندي

مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ اَوَ لَمۡ تَاۡتِهِمۡ بَيِّنَةُ مَا فِى

د طرفه د رب خپل نه، آیا نه دے راغلي دوی۔ته دلیل واضح (په حقانیت د پیغمبر) هغه چي په

الصُّحُفِ الۡاُوۡلٰى ﴿۱۳۳﴾ وَ لَوۡ اَنَّاۤ اَهۡلَكۡنٰهُمۡ

صحیفو ړومبنو کښي وو • او که مونږ هلاک کړے وو دوی۔لره

بِعَذَابٍ مِّنۡ قَبۡلِهٖ لَقَالُوۡا رَبَّنَا لَوۡ لَاۤ

په عذاب مخکښي د راتلو د پیغمبر نه نو خامخا وئیلي به وو دوی۔اے ربه زمونږ ولي نه

اَرۡسَلۡتَ اِلَيۡنَا رَسُوۡلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ

رالیږه تا مونږ ته پیغمبر چي مونږ تابعداري کړے وه ستا د آیاتونو

مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ نَّذِلَّ وَ نَخۡزٰى ﴿۱۳۴﴾ قُلۡ

مخکښي د ذلیله کیدو زمونږ نه او رسوا کیدو زمونږ نه • اووایه

كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوۡا ۚ فَسَتَعۡلَمُوۡنَ

هر یو(۱) انتظار کوونکے دے نو انتظار کوئ، نو زر دے چي پوهه به شئ تاسو

مَنۡ اَصۡحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِىِّ وَ مَنِ

چي څوک وو خاوند د لارے برابرے او څوک وو

اهۡتَدٰى ﴿۱۳۵﴾

په سمه لار باندي روان •

(۱) زمونږ او ستاسو نه

اٰیاتها ١١٢ سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ترتیب ٢١ نزول ٧٣ رکوعاتها ٧

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَ هُمْ فِيْ

نژدې شو خلقو ته حساب د دوی او دوی په

غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۝١ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ

نا خبرۍ کښې مخ اړونکي دي (دالله د کتاب نه)" نه راځي دوی ته څه پند

مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَ هُمْ

د طرفه د رب د دوی نه تازه مګر دوی غوږ ایږدي هغې ته او دوی

يَلْعَبُوْنَ ۝٢ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ؕ وَ اَسَرُّوا

عبثي کړې ، غافل دي زړونه د دوی ، او پټه کړه دوی

النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ اِلَّا

جرګه ، هغه کسانو چې ظلم ئې کړے وو (اوئیل دوی) نه دے دا (پیغمبر) مګر

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَ اَنْتُمْ

بنده ستاسو په شان آیا راتله کوئ تاسو جادو ته او تاسو

تُبْصِرُوْنَ ۝٣ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي

بنه وینئ (چې دا جادو دے)" اوئیل (پیغمبر) رب زما پوهیږي په وینا پاندې

السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ ۫ وَ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٤

(بره) آسمانونو او (بکښته) زمکو کښې او دا الله اوریدونکے پوهه دے (د هر چا په حال)"

بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۭ بَلِ افْتَرٰىهُ

بلکه وائی دوی (دا) ګډ وډ خوبونه دي بلکه د ځان نه ئې جوړ کړے دے دې(قران) لره

بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ

بلکه دے شاعر دے ، پس راوړي موږ ته یو معجزه په شان د هغه

سُوۡرَةُ الۡاَنۡبِيَآءِ

ربط د سورت انبیآء :

{۱}ما قبل کښی ابتلاء ده موسی علیه السلام ذکرشوه نودلته ابتلاء ده نورو انبیاء علیهم السلام ذکر کي.

{۲} ما قبل کښی واقعه د موسی علیه السلام تفصیل ذکر شوه نو دلته د هغي خلاصه ذکر کيږ.

{۳}ما قبل آیات ۸ کښی ئي مسئله د توحید ذکر کړه نو دلته آیت۲۵ کښی وائی چه ددې مسئلې وحي مې هر يو پيغمبرته کړے ده.

امتیازات د سورت انبیآء:

{۱}دا سورت ممتاز دے په واقعی د ایوب علیه السلام باندي آیت ۸۳ .

{۲} په دعا دیونس علیه السلام باندي آیت ۸۷ .

{۳} نبی علیه السلام ته رحمت للعالمین وئیلو باندي آیت ۱۰۷ .

دعوی د سورت انبیآء : نفی د شرک فی الدعاء او اکرام د انبیاء کرامو پس د مصائبو نه او اثبات د مقاصد اربعو.

خلاصه د سورت انبیآء :

داسورت په شپږ بابونوباندي مشتمل دے.

اول باب آیت ۱ نه تر آیت ۱۵ پوري .

دویم باب آیت۱۶ نه تر ۲۹ پوري .

دریم باب آیت ۳۰ نه ترآیت ٤۷ پوري .

څلورم باب ٤۸ نه آیت ۹۶پوري .

پنځم باب آیت ۹۷نه تر آیت ۱۰٤ پوري .

شپږم باب آیت ۱۰۵نه تر اخره پوري .

(تفصیل په تحفة أبي الیمان في خلاصة القرآن کښې کتلے شئ).

أُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۵﴾ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ

چې لیږلے شوي وو رومبني (هغې باندې)* ایمان نه وو راوړے (تولو په اتفاق) مخکښې د دوی نه هیڅ

قَرْیَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ یُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ وَ

یو کلي واله چې هلاک کړي دي مونږ هغوي لره آیا دوی به ایمان راوړي (تول) * او

مَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْٓ اِلَیْهِمْ

نه دي لیږلي مونږ مخکښې ستا نه مګر سړي وحي به کوله مونږ دوی ته

فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷﴾

نو تپوس اوکړئ د اهل علم نه که تاسو نه پوهیږئ *

وَ مَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا یَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ

او نه وو ګرځولي مونږ دوی لره داسې بدنونه چې نه به یې خوړل خوراک

وَ مَا كَانُوْا خٰلِدِیْنَ ﴿۸﴾ ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ

او نه وو دوی همیشه پاتې کیدونکي * بیا رشتیا کړه مونږ دوی سره

الْوَعْدَ فَاَنْجَیْنٰهُمْ وَ مَنْ نَّشَآءُ وَ اَهْلَكْنَا

وعده (د نجات) نو خلاص مې کړل دوی لره او هغه څوک چې مونږ غوښتل او هلاک کړل مونږ

الْمُسْرِفِیْنَ ﴿۹﴾ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَیْكُمْ كِتٰبًا

مشرکان * تحقیق سره رالیږلے دے مونږ تاسو ته کتاب

فِیْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰﴾ وَ كَمْ قَصَمْنَا

په دې کښې پند او نصیحت دے د پاره ستاسو نو ولې تاسو د عقل نه کار نه اخلئ* او ډیر هلاک کړي دي مونږ

مِنْ قَرْیَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَّ اَنْشَاْنَا

د کلو والو نه چې وو دوی ظالمان او پیدا کړل مونږ

بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِیْنَ ﴿۱۱﴾ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا

پس د دوی نه قومونه نور * نو هر کله چې اوبه لیده دوی

بَأْسَنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوْا
عذاب زمونږ ناساپه دوی د دینه تختیدل * (اوئیلے شو دوی ته) مه تختئ
وَ ارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ وَ مَسٰكِنِكُمْ
او واپس شئ هغه ته چې مست شوي وئ تاسو په هغې کښې او ځایونو د اوسیدو ستاسو ته
لَعَلَّكُمْ تُسْئَلُوْنَ ﴿١٣﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا
خامخا تاسو نه تپوس کولے شي * اوئیل دوی هائے افسوس دے مونږ لره یقینًا وو مونږ
ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى
ظلم کونکي (مشرکان) * نو همیشه وه دغه چغه د دوی تر دي پورې
جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿١٥﴾ وَ مَا خَلَقْنَا
چې اوګرځول مونږ دوی لره دل دول ساړه پراته * او نه دي پیدا کړي مونږ
السَّمَآءَ وَ الْاَرْضَ وَ مَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿١٦﴾
آسمانونه او زمکے او هغه چې په مینځ د دي دواړو کښې دي عبث *
لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ
که مونږه اراده کړي وه چې اونیسو مونږه ځان لره بي بي نو خامخا نیولي به وه مونږ دي لره د
لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ
د خپل طرف نه، که وو مونږ دا کار کونکي * بلکه راؤلو مونږ
بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا
حق لره په باطل باندې نو هلاک کي (حق) دي (باطل) لره نو ناساپه
هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَ لَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿١٨﴾
دا (باطل) ختمیدونکے وي، او ستاسو د پاره هلاکت دے د هغه نه چې تاسو ئې بیانوئ *
وَ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ وَ مَنْ
او خاص د الله اختیار کښې دي هغه څوک چې آسمانونو او زمکه کښې دي، او هغه (ملائک)

عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَ لَا
جي دي الله سره دي خان غټ نه ګڼري د عبادت د الله نه او نه
يَسْتَحْسِرُوْنَ ١٩ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ
ستړي کيږي (د الله په عبادت)* پاکي بياني (د الله) د شپې او ورځې
لَا يَفْتُرُوْنَ ٢٠ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً مِّنَ
نه سستيږي * آيا دوی اونيول مدد ګاران د
الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ٢١ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ
زمکې نه چې دوی ژوندي به کي دوی (مشرکانو) لره * که وے په دې زمکه او آسمان کښې
اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ
مددګاران بغير د الله نه نو خامخا روان شوي به وو دا آسمانونه او زمکې نو پاکي ده الله
رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ٢٢ لَا يُسْـَٔلُ
مالک د عرش لره د هغه نه چې بيانوي ئې (دا مشرکان) * تپوس نشي کيدے (د الله نه)
عَمَّا يَفْعَلُ وَ هُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ٢٣ اَمِ اتَّخَذُوْا
په باره د هغه کښې چې کوي او دوی نه به تپوس کولے شي * آيا دوی نيولي دي
مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ
سيوا د الله نه مددګاران ، اووايه راوړئ دليل ستاسو
هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَ ذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ
دا بيان دے د هغه چا دے چې ما سره دي او بيان دے د هغه چا چې مخکښې زما نه وو ،
بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ
بلکه اکثر د دوی نه نه پوهيږي په حق باندې نو دوی
مُّعْرِضُوْنَ ٢٤ وَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ
(د قرآن نه) مخ اړونکي دي * او نه دے ليږلے مونږ مخکښې ستا نه

رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا

هیڅ یو پیغمبر مګر وحي به کوله موږ هغه ته د دې خبرې چې نشته بل حاجت روا بغیر زما نه

فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ وَ قَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا

نو عبادت اوکړئ زما • او وائي دوی نیولے دے مهربان بادشاه نائب

سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ لَا

پاک دے الله (د نائب نه) بلکه (دوی) بندګان د الله عزتمند کړے شوي دي • نه

يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَ هُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾

شي مخکښې کیدے د الله نه په وینا کښې او دوی په حکم د الله باندې عمل کوي•

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ وَ لَا

پوهیږي (الله) په هغه چې مخکښې د دوی نه دي او هغه چې روستو د دوی نه دي او نه

يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَ هُمْ مِّنْ

دوی شفارس کولے شي ، مګر د پاره د هغه چا چې راضي وي ترې الله (په توحید) او دوی د

خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَ مَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ

د ویرې د الله نه یریدونکي دي • او چا چې اوئیل د دوی نه

اِنِّیْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ

چې یقیناً زه حاجت روا یم سیوا د الله نه نو دغه کس ته سزا به ورکوو موږ ده ته جهنم ،

كَذٰلِكَ نَجْزِی الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ اَوَ لَمْ يَرَ

دارنګي سزا ورکوو موږ ظالمانو ته • آیا نه ګوري

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ كَانَتَا

هغه کسان چې کفرئي کړے دے چې یقیناً آسمانونه او زمکې وو دا دواړه

رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَ جَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ

جخت نو جدا جدا کړل موږ دي دواړو لره ، اوګرځولے دے موږ د اوبو نه • هر یو

ع ۲

شَیْءٍ حَیٍّ ؕ اَفَلَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَ جَعَلْنَا فِی

شے(حیوان) ژوندي (تازه) ، آیا دوی ایمان نه راوړي * او ګرځولي دي موږ په

الْاَرْضِ رَوَاسِیَ اَنْ تَمِیْدَ بِهِمْ ۪ وَ جَعَلْنَا

ځمکه کښې غرونه دا چې (اونه) خوځي په دوی باندي او ګرځولي دي موږ

فِیْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ یَهْتَدُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَ

په دي کښې بلني بلني لاري خامخا چې دوی لار اومومي * او

جَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ۚۖ وَّ هُمْ عَنْ

او ګرځولے دے موږ آسمان چت محفوظ (د پریوتو نه) ، او دوی د

اٰیٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ الَّیْلَ

نښو د دي نه مخ اړونکي دي * او دا الله هغه ذات دے چې پیدا کړي ئې ده شپه

وَ النَّهَارَ وَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِیْ فَلَكٍ

او ورځ او نور (نمر) او سپوږمۍ ، (دا) ټول په خپل مقام کښې

یَّسْبَحُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَ مَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ

لامبو وهي * او نه ده ګرځولے موږ د پاره د یو بنده مخکښي ستا نه

الْخُلْدَ ؕ اَفَاۡىِٕنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿۳۴﴾

همیشګیري ، آیا که ته مړ شوي نو دوی به همیشه وي (په دنیا کښې) ؟ *

كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَ نَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ

هر یو نفس څکونکے د مرګ دے ، او امتحان کوو موږ په تاسو باندي په (راوستلو د) تکلیف

وَ الْخَیْرِ فِتْنَةً ؕ وَ اِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَ اِذَا

او د خوشحالۍ امتحان ، او موږ ته به تاسو واپس کړے شئ * او کله چې

رَاٰكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اِنْ یَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا

اوویني تا لره هغه کسان چې کفر ئې کړے دے نه نیسي دوی تا لره مګر

هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیْ یَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَ هُمْ

په توقه باندې(وائي دوی)آيا دا هغه سړے دے چې يادوي دے مددګاران ستاسو(په بدۍ) ، او دوی

بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ

په كتاب د مهربان بادشاه هم دوی انكار كونكي دي * پيدا كړے شوے دے

الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ فَلَا

انسان د تلواري نه (١) ، زر دے چې اوبه ښايم تاسو ته خپل دلائل پس

تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٣٧﴾ وَ یَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

تاسو تلوار مه كوئ * او وائي دوی كله به وي دا

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿٣٨﴾ لَوْ یَعْلَمُ

وعده (د قيامت) كه يئ تاسو رشتيني * كاش چې پوهيدے

الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ لَا یَكُفُّوْنَ عَنْ

هغه كسان چې كفر ئي كړے دے هغه وخت چې نه به شي بندولے دوی د

وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَ لَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَ لَا

مخونو خپلو نه اوور او نه د شا ګانو خپلو نه او نه

هُمْ یُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَاْتِیْهِمْ بَغْتَةً

به د دوی امداد اوكړے شي * بلكه رابه شي دوی ته (قيامت) ناساپه

فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ رَدَّهَا وَ لَا هُمْ

نو هلاک به كي دوی لره نو دوی به طاقت نه لري د واپس كولو د دي او نه

یُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَ لَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ

به دوی لره مهلت وركړے شي * او تحقيق سره توقې كړے شوي وي پيغمبرانو پورې

قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا

مخكښې ستا نه نو نازل شو په هغه كسانو باندې چې توقې ئي كړي وي د دوی نه هغه(عذاب)

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۱﴾ قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ

چي دوی به هغې پورې توقي کولے ● اووايه څوک دے چي بچ کوي تاسو

بِالَّيْلِ وَ النَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ

د شپې او د ورځې د (عذاب د) مهربان بادشاه نه ، بلکه دوی

عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمْ لَهُمْ

د کتاب د خپل رب نه مخ اړونکي دي ● آیا دي دوی لره

اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

مددګاران چي بچ به کي دوی لره بغير زمونږ نه ، دوی طاقت نه لري

نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَ لَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ﴿۴۳﴾

د امداد د خپلو ځانونو او نه دوی زمونږ د طرفه ملګرې کړے شوي دي(۱) ●

بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَ اٰبَآءَهُمْ حَتّٰى طَالَ

بلکه ځکه ورکړي ده مونږ دغه کسانو ته او مشرانو د دوی ته تر دي پورې چي اوږده شوه

عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ؕ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي

په دوی باندي زمانه ، نو آیا دوی نه ګوري یقینًا مونږ راتله کوو

الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ اَفَهُمُ

زمکي ته کمور مونږ دي لره د طرفونو د دي نه ، نو آیا دوی

الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۖ ز وَ

زور آور دي ● اووايه یقینا زه یروم تاسو لره په ذریعه د وحي ، او

لَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿۴۵﴾

نه اوري کاڼه آواز کله چي دوی یرولے شي ●

وَ لَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ

او که اورسیږي دوی ته یو پوکے د عذاب د رب ستا نه

لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَ نَضَعُ

نو خامخا وائي دوى هائے افسوس دے مونږ لره يقينًا وو مونږ ظالمان • او كيږدو به مونږ

الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ

تله د انصاف په ورځ د قيامت كښي نو ظلم به اونه كړے شي

نَفْسٌ شَيْـًٔا ؕ وَ اِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ

هيڅ يو نفس سره زره بر ، او كه وي (دا عمل) په اندازه د يو دانے د

خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَ كَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾

اوري نو رابه وړو مونږ دا عمل ، او كافي يو مونږ حساب كونكي •

وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَ هٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ

او تحقيق سره وركړے وو مونږ موسى او هارون (عليهما السلام) ته فرق كونكے(١)

وَ ضِيَآءً وَّ ذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ

او رڼا او پند د پاره د پرهيزګارانو • هغه كسان

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَ هُمْ مِّنَ السَّاعَةِ

چي يريږي د خپل رب نه سره د نه ليدو او دوى د قيامت نه

مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَ هٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ

يريدونكي دي • او دا (قران كريم) پند دے د خير نه ډک رالېږلے دے مونږ دي لره ،

اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ

نو ايا بيا تاسو د دى نه انكار كونكي • او تحقيق سره وركړے وو مونږ ابراهيم(عليه السلام) ته

رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَ كُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ اِذْ

لياقت د دي (مسئلي) مخكښي د بلوغ د ده نه او وو مونږ په ده باندي پوهه • كله چي

قَالَ لِاَبِيْهِ وَ قَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ

وئيل ده خپل پلار او خپل قوم ته څه دي دا شكلونه (د نيكانو بندګانو

(١) په منځ د حق او د باطل كښي



الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ

هغه شکلونه چې تاسو دې باندې منجوران یئ • اوئیل دوی موندلي دي مونږ

اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ

مشران خپل دې لره عبادت کونکي • نو اوئیل ابراهیم (علیه السلام) تحقیق سره یئ

اَنْتُمْ وَ اٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾ قَالُوْٓا

تاسو او مشران ستاسو په گمراهي ښکاره کښې • اوئیل دوی

اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾

آیا تا راتلل کړي دي مونږ ته په حق (په حکم د الله) باندې یا یې ته د لوبو کونکو نه •

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ

اوئیل (ابرهیم علیه السلام) بلکه رب ستاسو مالک د آسمانونو او د زمکې

الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَ اَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ

هغه ذات چې پیدا کړي یې دي دوی لره ، او زه یم په دې کار ستاسو باندې د

الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَ تَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ

گواهي کونکو نه• او قسم په الله خامخا چل به جوړ کم ستاسو بتانو ته

بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا

پس د هغې نه چې اوگرځئ تاسو شا کونکي • نو وې گرځول دوی لره ذره ذره

اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾

مگر هغه مشر بُت د دوی (یې پرېخوده) خامخا چې دوی ده ته واپس شي•

قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ

اوئیل دوی چا کړے دے دا کار زمونږ د الهو سره یقینًا دغه کس دے خامخا د

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ

ظالمانو نه • اوئیل دوی اورېدلي دي مونږ د یو ځوان باره کښې چې یادئ دوی لره

يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى

چې وئیلے شي هغه ته ابراهیم * اوئیل دوی نو راولئ ده لره

اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالُوْٓا

مخامخ د خلقو خامخا چې دوی گواهي اوکړي (په ده) * نو اوئیل دوی

ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾

آیا تا کړے دے دا کار زمونږ د الهو سره اے ابراهیم (علیه السلام) *

قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ

نو اوئیل (ابراهیم علیه السلام) ، بلکه کړے دے دې لره مشر د دوی دا دے نو تپوس اوکړئ د دوی نه

اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

که دوی خبري کولے شي * نو واپس شو دوی خپلو خانونو ته

فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوْا

نو اوئیل دوی یقینًا تاسو یئ تاسو ظالمان * بیا سر کوزي

عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ

شو دوی ، تحقیق سره ته پوهه ئې نه دي دا

يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ

خبري کونکي * اوئیل (ابراهیم علیه السلام) آیا نو تاسو عبادت کوئ سیوا د

اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّ لَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾

الله نه د هغه چې نه فائده درکولے شي تاسو ته ذره بر او نه ضرر در کولے شي تاسو ته *

اُفٍّ لَّكُمْ وَ لِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

هلاکت دے تاسو لره او د پاره د هغه څه چې تاسو ئې عبادت کوئ سیوا د الله نه ،

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَ انْصُرُوْٓا

نو آیا تاسو د عقل نه کار نه اخلئ * اوئیل دوی اوسوزوئ ده لره او امداد اوکړئ

اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ

د مددګارانو ستاسو که یئ تاسو دا کار کونکي * اوئیل مونږ اے اووره شه

بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾ وَ اَرَادُوْا بِهٖ

یخ او سلامتیا والا په ابراهیم علیه السلام * او دوی اراده اوکړه په ده باندې

كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿۷۰﴾ وَ نَجَّيْنٰهُ

د تدبیر (د سوزولو) نو اوګرځول مونږ دوی لره تاوانیان * او خلاص که مونږ ده لره

وَ لُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او لوط علیه السلام لره زمکې هغه ته چې برکت اچولے وو مونږ پدې کښې

لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ وَ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ ؕ وَ يَعْقُوْبَ

د پاره د مخلوقات * او ببښه مونږ ده ته اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام

نَافِلَةً ؕ وَ كُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿۷۲﴾ وَ جَعَلْنٰهُمْ

زیاتی (نوسے) ، او (دا) ټول ګرځولي وو مونږ دوی لره نیکان * او ګرځولي وو مونږ دوی

اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِمْ

مشران د دین چې بیان به ئې کولو (خلقو ته) په حکم زمونږ باندې او وحي به کوله مونږ دوی ته

فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَ اِقَامَ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءَ

د کولو د نیکو کارونو او د پابندۍ کولو په مونځ او د ورکولو

الزَّكٰوةِ ۚ وَ كَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ۙ وَ لُوْطًا

د زکوٰة ، او وو دوی زمونږ عبادت کونکي * او (یاد که) لوط علیه السلام

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّ عِلْمًا وَّ نَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ

ورکړے وو مونږ هغه ته پیغمبري او پوهه او خلاص کړے وو مونږ هغه لره د کلي

الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

هغه نه چې کول ئې ناکاره کارونه ، یقینًا وو دوی

قَوۡمَ سَوۡءٍ فٰسِقِيۡنَ ۝۷۴ وَ اَدۡخَلۡنٰهُ فِىۡ رَحۡمَتِنَا ؕ
يو قوم نا كاره فاسقان ٭ او دننه كه مونږ ده لره په خپله مهرباني كښې ،
اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ۝۷۵ وَ نُوۡحًا اِذۡ نَادٰى
يقينًا وو دے د كاميابو نه ٭ او (يادكه) نوح عليه السلام كله چې آوازي اوكه
مِنۡ قَبۡلُ فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ فَنَجَّيۡنٰهُ وَ اَهۡلَهٗ
مخكښې (د لوط عليه السلام نه) نو قبولتيا اوكړه مونږ ده لره نو خلاص كه مونږ ده لره او اهل د ده لره
مِنَ الۡكَرۡبِ الۡعَظِيۡمِ ۝۷۶ وَ نَصَرۡنٰهُ مِنَ
د مصيبت لوئي نه ٭ او بچ كه مونږ ده لره د
الۡقَوۡمِ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا
قوم هغه كسانو نه چې نسبت د دروغو ئې كړے وو آيتونو زمونږ ته يقينًا دوی وو
قَوۡمَ سَوۡءٍ فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ۝۷۷ وَ دَاوٗدَ
قوم نا كاره نو غرق كړل مونږ دوی لره تول ٭ او (ياد كه) داود عليه السلام
وَ سُلَيۡمٰنَ اِذۡ يَحۡكُمٰنِ فِى الۡحَرۡثِ اِذۡ
او سليمان (عليه السلام) كله چې فيصله ئې كوله په باره د فصل كښې كله چې
نَفَشَتۡ فِيۡهِ غَنَمُ الۡقَوۡمِ ۚ وَ كُنَّا لِحُكۡمِهِمۡ
سريدلي وي (دشپې) په دې كښې گډې (بيزې) د يو قوم او وو مونږ د فيصلې د دوی ته
شٰهِدِيۡنَ ۝۷۸ فَفَهَّمۡنٰهَا سُلَيۡمٰنَ ۚ وَ كُلًّا اٰتَيۡنَا
حاضر ٭ نو پوهه وركړه مونږ د دې (فيصلې) سليمان (عليه السلام) ته ، او دې تولو لره وركړے وو مونږ
حُكۡمًا وَّ عِلۡمًا ۫ وَّ سَخَّرۡنَا مَعَ دَاوٗدَ الۡجِبَالَ
اوښيارتيا او پوهه او تابع كړې وو مونږ د داود عليه السلام سره غرونه
يُسَبِّحۡنَ وَ الطَّيۡرَ ؕ وَ كُنَّا فٰعِلِيۡنَ ۝۷۹ وَ عَلَّمۡنٰهُ
پاكي به ئې بيانوله او مارغان ، او وو مونږ دا كار كونكې ٭ او پوهه وركړې وه مونږ ده ته

صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَاْسِكُمْ ۚ

دجوړولو د زغرو د پاره ستاسو دي د پاره چي بچ کي تاسو په جنګ ستاسو کښي ،

فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَ لِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ

نو آيا يئ تاسو شکر ايستونکي * او (تابع کړے وو موږ) د پاره د سليمان عليه السلام باد

عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَى الْاَرْضِ

تيز روان به وو په حکم د سليمان عليه السلام هغه زمکي ته

الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۭ وَ كُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ

چي برکت اچولے وو موږ په دي کښي ، او يو موږ په هر يو شي باندي

عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾ وَ مِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ

پوهه * او بعضي د شيطانانو نه هغه څوک وو چي غوپي به ئي وهلي

لَهٗ وَ يَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَ كُنَّا

د پاره د سليمان عليه السلام او کارونه به ئي کول کارونه سيوا د دي نه ، او وو موږ

لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾ ۙ وَ اَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ

دوی لره حفاظت کونکي * او (ياد که) ايوب عليه السلام کله ئي چي عاجري اوکړه خپل رب ته

اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾ ۚۖ

يقيناً زه رسيدلے دے ما ته تکليف او ته غوره رحم کونکے *

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ

نو قبولوالے اوکه موږه ده لره نو لري که موږه هغه چي په ده باندي وو د تکليف نه

وَّ اٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَ مِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ

او ورکه موږ ده ته اهل د ده او په شان د دوی سره د دوی (دا) مهرباني وه د

عِنْدِنَا وَ ذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَ اِسْمٰعِيْلَ

طرفه زموږ نه او پند دے د پاره د عبادت کونکو * او (ياد که) اسماعيل (عليه السلام)

وَ اِدْرِيْسَ وَ ذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ

او ادریس علیه السلام او ذوالکفل علیه السلام ، ټول وو د

الصّٰبِرِيْنَ ۚ ﴿٨٥﴾ وَ اَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ

صبر کوونکو نه . او داخل کړل مونږ دوی لره په خپله مهرباني کښې ،

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَ ذَا النُّوْنِ اِذْ

یقیناً وو دوی د کامیابو نه . او (یاد که) مهي والا کله چې

ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ

لاړو غصه کونکے (په خپل قوم) نو گمان ئې اوکه دا چې هیڅ کله تنگي به رانه ولو مونږه

عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ

په ده باندې نو آواز ئې اوکه په تیارو در تیارو کښې دا چې نشته بل حاجت روا

اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ

مگر ته ئې پاکي ده تا لره ، یقیناً زه د هغه چا نه یم چې

الظّٰلِمِيْنَ ۚ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَ نَجَّيْنٰهُ

اسباب د خلاصي ورسره کم وي . نو قبولوالے اوکه مونږ ده لره او خلاص که مونږ ده لره

مِنَ الْغَمِّ ؕ وَ كَذٰلِكَ نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾

د غم نه ، او دا رانگي خلاصے ورکوو مونږ مومنانو ته .

وَ زَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ

او (یاد که) زکریا (علیه السلام) کله چې آواز ئې اوکه رب خپل ته اے زما ربه مه پرېږدې ما لره

فَرْدًا وَّ اَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ۚ ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا

یواځې او ته ئې غوره د ورکونکو نه . نو قبولوالے اوکه مونږ

لَهٗ وَ وَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَ اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ

ده لره او او بښنه مونږه ده ته یحیی (علیه السلام) او تانده کړه مونږ ده لره بي بي د ده ،

إِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَ

يقينًا وو دوی جي تلوار به ﺋﻲ كوله په كولو د نيكو كښې او

يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ۭ وَ كَانُوْا لَنَا

رابللو به ﺋﻲ مونږه په خوشحالي او غم كښې ، او وو دوی مونږ ته

خٰشِعِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

عاجزي كونكي * او هغه زنانه(بي بي مريم) چې پاک ﺋﻲ ساتلے وو شرمگاه خپله

فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا وَ جَعَلْنٰهَا وَ ابْنَهَآ

نو پوک اوهو مونږ به دي كښې د حكم خپل نه او اوگرځوله مونږ دي لره او زوے د دي لره

اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩١﴾ اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً

نښه د پاره د مخلوقات * يقينًا دا دين ستاسو دے دين

وَّاحِدَةً ۖ وَّ اَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٩٢﴾

يو ، او زه رب ستاسو يم نو عبادت اوكړئ زما *

وَ تَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ۭ كُلٌّ اِلَيْنَا

او دوی ټوټې ټوټې كه خپل دين په خپل مينځ كښې ، دا ټول مونږه ته

رٰجِعُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

واپس كيدونكي دي * چا چې عمل اوكه د نيكو

وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ۚ وَ اِنَّا

او حال دا چې وي دے مومن نو نشته دے نا شكري د پاره د عمل د ده ، او يقينًا مونږ

لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿٩٤﴾ وَ حَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ

دي لره ليكونكي يو * او لازم دي په يو كلي

اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٩٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا

چې هلاک كړيدے مونږ هغې لره چې يقينًا دوی به واپس نه شي(دنيا ته) * تر دي چې كله

فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَ مَاْجُوْجُ وَ هُمْ مِّنْ كُلِّ

پرانستے شي — ياجوج — او — ماجوج — او دوی به — د هري يوې

حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَ اقْتَرَبَ الْوَعْدُ

ډیرې نه — رابهیري / رامنډے وهي * او — نږدې به شي — وعده (دقيامت)

الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ

رشتيا — نو ناساپه — خبره داسي ده — تغي به راوتي وي — سترګي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ

د هغه کسانو چي کفر يې کړے دے ، هائے افسوس دے مونږ لره په تحقيق سره وو مونږ په

غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٩٧﴾

نا خبري کښي — د — دې(ورځ) نه — بلکه — وو مونږ — ظالمان *

اِنَّكُمْ وَ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

يقينًا تاسو — او هغه څوک چي عبادت يې کو تاسو — سيوا د — الله نه

حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿٩٨﴾ لَوْ

خشاک د — جهنّم يئ ، — تاسو دي جهنم ته دننه کيدونکي يئ * — که

كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ وَ كُلٌّ

وے — دغه کسان — حاجت رواهان نه به وو دننه شوي دي جهنم ته، — او — دا ټول

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّ هُمْ

په دي کښي — هميشه به وي * — دوی د پاره به په دي کښي چرېنګاروي — او — دوی به

فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿١٠٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ

په دي کښي نه اوري (د خير خبره) * يقينًا هغه کسان چي مخکښي نه مقرر شوے دے دوی لره

مِّنَّا الْحُسْنٰۤى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿١٠١﴾

زمونږ د طرفه نه جنت ، — دغه کسان — د دي نه — لرے به کړے شي *

لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَ هُمْ فِيْ مَا
نه به اوري دوی اواز د دي جهنم ، او دوی به په هغه نعمتونو کښې

اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ
چې غواړي ئې د دوی زړونه همیشه به وي • غمژن به نه کي دوی لره

الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَ تَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ط
يره لويه او مخامخ کيږي به دوی ته فرشتي ،

هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾
(ورته به وائي) دا ورځ ستاسو ده هغه چي تاسو سره ئي وعده کولے شوه*

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ
(ياده که)هغه ورځ چي راغوند به کو مونږ آسمان په شان د راغوندولو د منشي

لِلْكُتُبِ ط كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ط
خپلو کتابونو لره لکه چي پيدا کړي دي مونږ اول پيدائش واپس به کو مونږ ده لره

وَعْدًا عَلَيْنَا ط اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَ لَقَدْ
وعده ده په مونږ باندي ، يقينًا وو مونږ دا کار کونکي • او تحقيق سره

كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ
ليکلي وو مونږ په زبور کښې پس د پند (مسئله توحيد) نه يقينًا

الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ
زمکه اخلي به دي لره زما بندګان نيکان • يقينًا

فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَ مَآ
په دي کښې بيان کښې خامخا رسول دي د پاره د هغه قوم چي عبادت کونکي دي * او نده

اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ اِنَّمَا
راليږلے مونږ تا لره مګر رحمت د پاره د مخلوقات • او وايه يقينًا

يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ

وحي کولے شي ما ته يقيناً حاجت روا ستاسو حاجت روا دے يکي يو ، نو آيا

أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ

يئ تاسو غاړه کيخودونکي (الله ته) * که واوړيدل دوی نو اووايه اعلان کوم تاسو ته

عَلَىٰ سَوَآءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ

(داسي حال کښي چي) برابر (ولاړ يم په توحيد) ، او زه نه پوهيږم آيا نږدي دے يا لرے دے

مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ

هغه چي وعده کولے شي تاسو سره * يقيناً الله پوهيږي په ښکاره

الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِي

وينا باندي او پوهيږي په هغه چي تاسو ئې پټوئ * او ما ته پته نشته

لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

شايد چي دا امتحان وي ستاسو د پاره او ګټه تر يو وخته پوري *

قَٰلَ رَبِّ احْكُم بِالْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ

اوئيل ده اے ربه زما فيصله اوکي په انصاف ، او رب زموږ مهربان (بادشاه) دے

الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾

مدد غوختلے شوے دے د هغه نه په هغه چي تاسو ئې بيانوئ *

آياتها ٧٨ — سُورَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّة — ترتيب ٢٢ نزول ١٠٣ — رکوعاتها ١٠

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ

اے خلقو اويريږئ د رب ستاسو نه ، يقيناً جرک

السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا

د قيامت يو شے دے لوئي * هغه ورځ وينئ به تاسو دي قيامت لره

سُوْرَةُ الْحَجِّ

ربط د سورت الحج :

( )ماقبل آيت ۱ کښې ئي اوئيل چه عذاب راځي نو دلته آيت ۱ کښې نښه ده عذاب ذکر کړې .

(۲)ماقبل آيت کښې ئي رد د شرک اعتقادي اوکه نو دلته رد دشرک فعلي کړې .

(۳)ماقبل آيت کښې ئي اثبات د توحيد اوکه نو دلته آيت ٥ کښې زجر (رټنه)هغه چاته ورکړې چه په توحيد کښې جګړه کړې .

امتيازات د سورت الحج:

(۱) سورت ممتاز دے په بيان د حالت د هغه چا چه قرآن پرې بد لګي .

(۲) په مثال د عجز د الهو باطلو سره.

(۳) په حکم دالله تعالی باندې (فاجتنبوا الرجس من الاوثان).

دعوی د سورت الحج :

رد دشرک فعلي او تشريح د څلورو مسئلو باندې .

(۱)تحريمات الله . (۲)تحريمات العباد . (۳)نذور الله . (٤)نذور العباد .

خلاصه د سورت الحج :

داسورت په ٤ بابونو باندې مشتمل دے : (۱)اول باب د ايت ۱نه ترآيت ۱۰پورې

دې کښې (۱)تخويف (۲)زجر (۳)دليل عقلي(٤)او اثبات د اخرت ذکر کړې .

(۲)دويم باب آيت ۱۱نه ترآيت ۲٥پورې : دې کښې شپږ خبرې ذکر کړې :

(۱)زجر مشرکينوته دوه ځله . (۲)مطالبه د دليل د مشرک نه . (۳)مثال د مشرک .

(٤)بشارت مؤمنانوته۱۳، ۲۳ . (٥)ترغيب الى القران۲٤.

(۳) دريم باب د ۲٦ نه تر ايت ۳۸ پورې :

دې کښې دعوی د سورت (نفی دشرک فعلي) ذکرکړې.

تسلي او

(٤)څلورم باب آيت ۳۹ نه تر آخره پورې : دې کښې حکم د قتال ،امور مصلحه ،

هلاکت د اقوام مکذبو ذکر کړې .

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ

جي غافل به شي هر يو پئي وركونكے ده هغه څه نه چي پئي ئي ورته وركول

وَ تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَ تَرَى

او كيږ به دي هر يو بوج والا بوج خپل او وينې به ته

النَّاسَ سُكٰرٰى وَ مَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَ لٰكِنَّ

خلقو لره نشه / بے هوشه او نه به وي دوی نشه / بے هوشه ليكن

عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝٢ وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ

عذاب د الله سخت دے • او بعضي د خلقو نه هغه څوک دي

يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّ يَتَّبِعُ كُلَّ

جي جګړې كوي په (توحيد د) الله كښې بغير د پوهې نه او تابعداري كوي د هر

شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۝٣ كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ

شيطان - سركش • مقرر كړے شوي ده په ده باندې يقينًا شان دا دے چا چي

تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَ يَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ

دوستي اوساتله ده سره نو يقينًا دا شيطان ګمراه به كي ده لره او بسودنه به اوكي ده ته په طرف د عذاب

السَّعِيْرِ ۝٤ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ

د جهنم • اے خلقو كه يئ تاسو په

رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ

شک كښې د بيا پورته كيدو نه نو يقينًا موږ پيدا كړي يئ تاسو د

تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

خاورے نه بيا د بو څاڅكي د منی نه بيا د جم شوي وينې نه

ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّ غَيْرِ مُخَلَّقَةٍ

بيا د كرينډي نښو والا نه او بغير د نښو والا نه

(١) مونږ دا ذکر کړل

لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ؕ وَ نُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا

(١) دي د پاره چي بيان کو مونږ تاسو ته، او ايساروُ مونږ (حمل لره) په کيدو د ميندو کښي څومره چي

نَشَآءُ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ

خوښه شي زمونږ تر يو نيټي مقرري پوري بيا راوباسو مونږ تاسو لره

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْۤا اَشُدَّكُمْ ۚ وَ مِنْكُمْ

ماشومان بيا دي د پاره چي اورسيږئ تاسو مضبوطيا د عمر (ځواني) ته، او بعضي ستاسو نه

مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰۤى اَرْذَلِ

هغه څوک دي چي مړه شي (په ځواني کښي) او بعضي ستاسو نه هغه دي چي واپس کړے شي کمزوري

الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ

عمر ته دي د پاره چي پوهه نه شي پس د پوهي نه په هيڅ شي باندي،

وَ تَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَاۤ اَنْزَلْنَا

او وينې به ته زمکې لره اوچه نو کله چي راوورو مونږ

عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَ رَبَتْ وَ اَنْۢبَتَتْ

په دي باندي اوبه (باران) نو خوشحاله شي او اوپړسيږي او راوزرغن کي

مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيْجٍ ۞ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ

د هر قسمه گياه تازه نه • دا د دي وجي نه چي يقينًا الله

هُوَ الْحَقُّ وَ اَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَ اَنَّهٗ عَلٰى

هغه رشتينے ذات دے او يقينًا دا (الله) ژوندي کړئ مړو لره او يقينًا الله په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۞ لا وَّ اَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ

هر يو شي باندي قدرت والا دے • او يقينًا قيامت راتلونکے دے

لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ

نشته شک په دي کښي • او يقينًا الله راپورته به کي هغه څوک

فِي الْقُبُوْرِ ۞ وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ
جي قبرونو كښې دي * او بعضي د خلقو نه هغه څوک دي چي جګړې کې
فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّ لَا هُدًى وَّ لَا كِتٰبٍ
په (توحيد د) الله كښې بغير د دليل عقل نه او بغير د دليل وحي نه او بغير د دليل
مُّنِيْرٍ ۞ ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ
نقل نه * اړونکے دے خپل اړخ لره دي د پاره چي خطا شي د دين د
اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّ نُذِيْقُهٗ
الله نه ، ده د پاره په دنيا كښې رسوائي ده او اوبه څکوو مونږ ده ته
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۞ ذٰلِكَ
په ورځ د قيامت عذاب سوزونکے * دا
بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ
په سبب د هغه چي مخکښې کړي وو لاسونو ستا (ناكاره اعمال) او يقيناً الله ندے
بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۞ وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ
هيڅ ظلم کونکے په بندګانو باندې * او بعضي د خلقو نه هغه څوک دي
يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ
جي عبادت کوي د الله په شک ، نو كه اورسيږي ده ته
خَيْرُ اِطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَ اِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ
فائده نو خوشحاله شي په هغې ، او كه اورسيږي ده ته څه تکليف
اِنْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا
نو دے واپس شي په خپل مخ باندې ، تاواني شو په دنيا
وَ الْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۞
او آخرت ، دا دے تاوان ښکاره *

يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَ مَا

رامدد کي؛ (دا مشرک) سیوا د الله هغه چي نه ضرر رسولے شي ده ته او هغه چي

لَا يَنْفَعُهٗ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۲﴾

نه فائده ورکولے شي ده ته ، دا ده گمراهي لري (حق نه) *

يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ

رامدد کوي (دا مشرک) خامخا هغه چي ضرر (د رامددکولو) د هغه ډير نزدے دے د فائدي د ده نه،

لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَ لَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿۱۳﴾ اِنَّ

خامخا بد دے دا مدد گار (د مشرکانو) او خامخا بد دے دا تبر (د مشرکانو)* یقینًا

اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

الله دننه کي؛ هغه کسان چي ايمان ئي راوړے دے او عمل ئي کړے دے

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

نيک (په طريقه د پيغمبر) جنتونو ته چي بهيږي به لاندے (د اونو) ده هغې نه

الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾

ولے (نهرونه) ، يقينًا الله کي؛ هغه چي اراده اوکي *

مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ

هغه څوک چي گمان کوي دا چي هيڅ کله امداد نه کي؛ د ده الله

فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ

په دنيا او آخرت کښي نو اودي تړي يو رسۍ

اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ

چهت ته بيا دي ځان خبي کي نو اودي گوري آيا

يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾ وَ كَذٰلِكَ

بوځي چل د ده هغه چي دے غصه کي؛ * او دارنگي

اَنۡزَلۡنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ يَهۡدِىۡ
راليږلي دي مونږ دي لره دلائل ښکاره ، او يقينًا الله توفيق ورکوي
مَنۡ يُّرِيۡدُ ﴿١٦﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ الَّذِيۡنَ
چا ته چي اراده کوي (او غواړي)* يقينًا هغه کسان چي ايمان ئي راوړے دے او هغه کسان
هَادُوۡا وَ الصّٰبِـِٕيۡنَ وَ النَّصٰرٰى وَ الۡمَجُوۡسَ
چي يهوديان دي او صابئين او نصارٰی او مجوس
وَ الَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَفۡصِلُ
او هغه کسان چي شرک ئي کړے دے ، يقينًا الله بيلتون به راولي
بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ
په مينځ د دوی کښي په ورځ د قيامت ، يقينًا الله په هر يو
شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿١٧﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسۡجُدُ
شي پوهه دے • آيا ته نه ګوري يقينًا الله چي دے تابعداري کوي
لَهٗ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَ مَنۡ فِى الۡاَرۡضِ
د ده (الله) هغه خوک چي پره اسمانونو او هغه خوک چي ښکته زمکه کښي دي
وَ الشَّمۡسُ وَ الۡقَمَرُ وَ النُّجُوۡمُ وَ الۡجِبَالُ
او نور(نمر) او سپوږمۍ او ستوري او غرونه
وَالشَّجَرُ وَ الدَّوَآبُّ وَ كَثِيۡرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ
او اوني او زنده سر او ډير د خلقو نه ،
وَ كَثِيۡرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ الۡعَذَابُ ؕ وَ مَنۡ
او ډير (خلق) ثابت شوے دے په دوی باندي حکم د عذاب ، او هغه خوک چي
يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ مُّكۡرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
سپک کي هغه لره الله نو نه وي ده لره خوک عزت ورکونکے ، يقينًا الله

يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿۱۸﴾ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ

کوي هغه چي اوغواړي * دا دوه (ډلي مشرکين او موحدين) جګړه مار دي

اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ؗ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چي جګړه ئي کړي ده په (توحيد د) خپل رب کښي پس هر چي هغه کسان دي چي کفر ئي کړے دے

قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ يُصَبُّ

کټ به کړے شي دوی لره جامے د اوور ، راړولے به شي

مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿۱۹﴾ يُصْهَرُ

د پاسه د سرونو د دوی کرمي اوبه * ويلي کولے به شي

بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَ الْجُلُوْدُ ؕ﴿۲۰﴾ وَ لَهُمْ

په دي سره هغه چي په خيټو د دوی کښي دي او څرمني (به ئي سوزولے شي)* او دوی لره به

مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ﴿۲۱﴾ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا

ګرزونه وي د اوسپني * هر کله چي دوی اراده اوکي

اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ اُعِيْدُوْا

چي اوځي د دي جهنم نه د وجي د غم نه واپس کولے به شي دوی

فِيْهَا ۚ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۲۲﴾ اِنَّ

په دي کښي ، او (اوبه وئيلے شي) او څکئ عذاب سوزونکے * يقيناً

اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

الله دننه کوي هغه کسان چي ايمان ئي راوړے دے او عمل کئ

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

نيک (په طريقه د پيغمبر) جنتونو ته چي رواني به وي لاندي (د اونو) د هغي نه

الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ

ولي کالي دار کولے به شي په دي کښي د باهو ګانو د

ذَهَبٍ وَّ لُؤْلُؤًا ؕ وَ لِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿٢٣﴾
سرو زرو نه او ملغلرې ، او جامې د دوی په دې کښې به د ریښمو وي ٠
وَ هُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚۖ
او توفیق ورکړے شوے وو دوی ته په طرف د پاکیزه وینا (د توحید) ،
وَ هُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿٢٤﴾ اِنَّ
او لار ښودلے شوې وه دوی ته په طرف د لارې د ستائلي شوي ذات ٠ یقینًا
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ
هغه کسان چې کفر ئې کړے دے او بندوي (خلقو لره) د لارې د
اللّٰهِ وَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ
الله نه او د مسجد حرام هغه نه چې گرځولے دے مونږ دې لره
لِلنَّاسِ سَوَآءَ ۨ الْعَاكِفُ فِيْهِ وَ الْبَادِ ؕ
د پاره د خلقو برابر دے باتې کیدونکے په دې کښې او مسافر ،
وَ مَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ
او چا چې اراده اوکړه په دې کښې د شرک په ظلم سره او به څکوو مونږ ده ته
مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٥﴾ وَ اِذْ بَوَّاْنَا
د عذاب دردناک نه ٠ او کله چې ځائې ورکه مونږه
لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا
ابراهیم (علیه السلام) ته ځائې د بیت الله شریف دا چې مه
تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا وَّ طَهِّرْ بَيْتِيَ
حصه دار کوه ما سره څه شے او پاک که کور زما
لِلطَّآئِفِيْنَ وَ الْقَآئِمِيْنَ وَ الرُّكَّعِ
د پاره د طواف کونکو او د پاره د اودریدونکو او د پاره د رکوع کونکو

السُّجُوْدِ ﴿٢٦﴾ وَ اَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ
سجدي کوونکو او اعلان اوکه په خلقو کښې د حج

يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّ عَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ
رابه شي تا ته پيدل او په هره تازي (تيز رفتاره) اوښه

يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿٢٧﴾ لِّيَشْهَدُوْا
چې راتله به کوي د هرې پلنې ژورې لارې نه ، دې د پاره چې حاضر شي دوی

مَنَافِعَ لَهُمْ وَ يَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ
فائدو خپلو ته او ياد کړي نوم د الله په

اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ
ورځو مقررو کښې په هغه چې ورکړي ئې دي دوی ته د

بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَ
کونک د ډنګرو نه ، نو خورئ د دې نه او

اَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوْا
ورکړئ (د دې نه) نا اميد محتاج ته ، بيا لرې دې کړي دوی

تَفَثَهُمْ وَ لْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَ لْيَطَّوَّفُوْا
خيرې خپل او پوره والے دې اوکړي د نذرونو خپلو او طواف دې اوکړي

بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ ۚ وَ مَنْ يُّعَظِّمْ
د کور آزاد شوي (د ظالمانو نه) /پخواني نه واورئ دا خبره ، او چا چې تعظيم اوکه

حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ
د عزتمندو د الله نو دا کار غوره دے ده لره په نزد د رب د ده ،

وَ اُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ
او حلال کړے شوي دي ستاسو د پاره ډنګر مګر هغه چې لوستلے شي په تاسو باندې

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَ
نو ځان اوساتئ د هغه ګندګۍ نه چې درګاهونو کښې پراته وي او

اجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ
ځان اوساتئ د وینا د دروغو نه • (شئ) رابلونکي الله له

غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَ مَنْ يُّشْرِكْ
نه شرک کونکي د الله سره ، او چا چې شرک اوکه

بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ
د الله سره ګویا چې دے راپریوته د بره نه نو ذره ذره که دے لره

الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ
مارغانو یا اوغورځوي دے لره سیلۍ په هغه ځائے

سَحِيْقٍ ﴿٣١﴾ ذٰلِكَ ۗ وَ مَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ
زور کښې • واورئ دا خبره ، او چا چې تعظیم اوکه د عزتمندو نښو

اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمْ
د الله نو یقیناً دا بعضې پرهیزګاري د زړونو ده (د پاکو زړونو کار دے)* ستاسو د پاره

فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ
په دې کښې فائدې دي تر نیټې مقررې پورې بیا

مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿٣٣﴾ وَ لِكُلِّ
ځائے د حلالے د دې دے هغه کور پخواني ته • او د پاره د هر یو

ع ٤

اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ
امت مقرر کړے دے مونږ یو ځائے د قربانۍ دې د پاره چې یاد کې نوم

اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ
د الله په هغه چې ورکړي ئې دي دوی ته د چارپایانو د

الْاَنْعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗۤ

دنګرو نه ، نو حاجت روا ستاسو حاجت روا دے یکي یو نو دي الله ته

اَسْلِمُوْا ؕ وَ بَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۝۳۴ الَّذِيْنَ

غاړه کیږدئ ، او زیرے ورکه عاجزي کونکو ته* هغه کسان ته

اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ

کله چي یاد کړے شي الله په یره شي زړونه د دوی

وَ الصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَاۤ اَصَابَهُمْ وَ الْمُقِيْمِي

او صبر کونکي په هغه چي اورسي دوی ته او پابندي کونکي

الصَّلٰوةِ ۙ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳۵

د مونځ ، او د هغه نه چي ورکړے دے مونږ دوی ته خرچ کئ دوی (په لاره د الله کښي)*

وَ الْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ

او اوښه ګرځولي ده مونږ دي لره د پاره ستاسو د عزتمندو نښو

اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖۗ فَاذْكُرُوا اسْمَ

د الله نه ستاسو د پاره په دي کښي فائدي (نیکی) دي ، نو یاد کئ نوم

اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ

د الله په دي باندي (په داسي حال کښي چي) ولاړ وي ، نو کله چي اولګي

جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَ اَطْعِمُوا

اړخونه د دي نو خورئ د دي نه او ورکئ (د دی نه)

الْقَانِعَ وَ الْمُعْتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ

صبر ناک او هغه عاجز ته چي مخے ته ولاړ وي ، دارنګي تابع کړي دي مونږ دي لره ستاسو د پاره

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝۳۶ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ

خامخا چي تاسو شکر اوباسئ * هیچري نه رسیږي الله ته

لُحُوْمُهَا وَ لَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ
غوښې د دې (قرباني) او نه وينې د دې ليکن رسيږي الله ته
التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ
پرهيزګاري ستاسو نه ، دارنګې تابع کړي ئې دي دې لره د پاره ستاسو
لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَ بَشِّرِ
دي د پاره چې لوئي بيان کړئ تاسو د الله په هغه چې ښودنه ئې کړې ده تاسو ته ، او زيرے ورکه
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ
نيکي کونکو ته • يقيناً الله دفع کوي (عذاب) د
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ
هغه کسانو نه چې ايمان ئې راوړے دے، يقيناً الله مينه نه کوي د هر
خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۸﴾ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ
خيانت کر منکر سره • اجازت شوے دے هغه کسانو ته چې جنګ ورسره کولے شي
بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ
د دې وجې نه چې په دوی ظلم شوے دے ، او يقيناً الله په امداد د دوی باندې
لَقَدِيْرُ ﴿۳۹﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ
خامخا قدرت والا دے • هغه کسان چې اوشړلے شو د
دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا
کورنو خپلو نه بغير د څه جرم نه مګر دا چې وائي دوی
رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَ لَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ
رب زمونږ الله دے ، او که نه وے دفع کول د الله خلقو لره
بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ
بعضې (مشرکين) د دوی په بعضو (موحدينو) سره خامخا رواني شوې به وې کرجې (د نصارو)

وَ بِيَعٌ وَّ صَلَوٰتٌ وَّ مَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا

او كنيسي (د يهودو) او عبادت خاني د صابئينو او جوماتونه (د مسلمانانو) چې يادولے شي په دې كښې

اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ وَ لَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ

نوم د الله ډير ، او خامخا امداد كوي الله

مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۴۰﴾

د هغه چا چې امداد كړي د الله (د دين) ، يقيناً الله خامخا طاقت والا او زورآور دے*

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ

هغه كسان چې كه خائے وركوو مونږ دوی لره په زمكه كښې

اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَ اَمَرُوْا

نو دوی پابندي كړي د مونځ او وركړي زكوٰة او حكم كړي

بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَ

په نيكي او منع كړي د ناروا نه ، او

لِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾ وَ اِنْ يُّكَذِّبُوْكَ

خاص الله لره انجام د كارونو دے * او كه دوی نسبت د دروغو كړي تا ته

فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّ عَادٌ

په تحقيق سره نسبت د دروغو كړے وو مخكښې د دوی نه قوم د نوح عليه السلام او عاديانو

وَّ ثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَ قَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَ قَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾

او ثموديانو * او قوم د ابراهيم عليه السلام او قوم د لوط عليه السلام*

وَّ اَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَ كُذِّبَ مُوْسٰى

او مدين والا (قوم د شعيب عليه السلام)، او نسبت د دروغو شوے وو موسىٰ عليه السلام ته

فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ

نو ما مهلت وركه كافرانو ته بيا مې اونيول دوی لره

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٤﴾ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

نه څه رنګه وو زما عذاب * نو څومره د کلو نه

اَهْلَكْنٰهَا وَ هِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ

هلاک کړي وو مونږ هغې لره او وو هغوي ظلم کونکي دا کلي روان وو

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَ بِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّ قَصْرٍ

سره د خپلو چتونو او کوهيان شاړ پاتې شوي او بنګلې

مَّشِيْدٍ ﴿٤٥﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

مضبوطي/چونه ګچې * آيا دوي نه دي ګرځيدلي په زمکه کښې

فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ

چې شي دوي د پاره زړونه چې سوچ اوکي په هغې

اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا لَا

يا غوږونه چې واوري (حق) په هغې ، پس يقيناً شان د خبرې دا دے نه

تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَ لٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ

دي ړندې سترګي (د دوي) ليکن ړانده دي زړونه (د دوي)

الَّتِيْ فِي الصُّدُوْرِ ﴿٤٦﴾ وَ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ

هغه چې په سينو کښې دي * او په تلوار سره غواړي ستا نه

بِالْعَذَابِ وَ لَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ

عذاب لره او هيڅ کله خلاف نه کوي الله د وعدي خپلې ،

وَ اِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ

او يقيناً يو ورځ په نزد د رب ستا په شان د زرو کالو ده

مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٤٧﴾ وَ كَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

د هغه نه چې تاسو ئې شمارئ * او څومره د کلو نه

اَمۡلَيۡتُ لَهَا وَ هِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذۡتُهَا

ما مهلت ورکړے وو دوی ته او وو دوی ظالمان بیا ما اونیول دوی ،

وَ اِلَيَّ الۡمَصِيۡرُ ۝٤٨ قُلۡ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَاۤ

او ما ته دي راتلل • اووایه اے خلقو یقینًا

اَنَا لَكُمۡ نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۝٤٩ فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

زه ستاسو د پاره بیرونکے یم ښکاره • نو هغه کسان چې ایمان ئي راوړه

